# اوبه او انرژي

د اوبو او انرژي وزارت خپروونکی ارګان

یوولسم کال، یووېشتمه ګڼه، د ۱۴۰۱هـ ش کال څلورمه ربع ( جدي، دلو، حوت) چې د ۱۴۴۴هـ ق کال سره سمون لري




۲۱
ګڼه

د اوبو او انرژي وزارت مقام

CamScanner

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

﴿ أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ أَنزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَسَلَكَهُ يَنَابِيعَ فِي الْأَرْضِ ثُمَّ يُخْرِجُ بِهِ زَرْعًا مُّخْتَلِفًا أَلْوَانُهُ ثُمَّ يَهِيجُ فَتَرَاهُ مُصْفَرًّا ثُمَّ يَجْعَلُهُ حُطَامًا ۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَذِكْرَىٰ لِأُولِي الْأَلْبَابِ﴾ ﴿٢١﴾ سوره الزمر

ژباړه: آیا ته نه وینې چې بېشکه الله (ج) له اسمانه اوبه اورولې (کاریزونو) په شکل یې په ځمکه کې وبهولې، بیا هغه ددغو (اوبو) په وسیله کښتونه راباسي په داسې حال کې چې د هغه رنګونه مختلف وي، بیا هغه وچ شي، بیا ته وینې چې ژیړ شي،بېشکه په ددغه کې د عقل څښتانانو لپاره نصیحت ده.

CamScanner

# د دې ګڼې په پاڼو کې


سـرمقاله ---------- ۲
سرپرست وزارت آب و انرژی در راس یک هیئت بلند پایه به کشور ترکیه سفر نمود ---------- ۳
قرار داد تورید برق میان افغانستان و تاجکستان تمدید شد ---------- ۴
د اوبو او انرژۍ وزارت سرپرست وزیر او ورسره مل پلاوی ازبکستان ته ---------- ۵
د چین هېواد د CRBC شرکت مسؤلین په افغانستان کې د اوبو بندونو د جوړولو او انرژۍ د تولید ---------- ٦
د اوبو او انرژۍ وزارت سرپرست وزیر د نورستان ولایت له والي ---------- ۷
جلسه هماهنگی با سرمایه گذاران ایرانی در مورد سرمایه گذاری ---------- ۸
معین آب وزارت آب و انرژی از جریان کار در چندین بخش ---------- ۹
دومین جلسه تخنیکی به منظور تحقق مصوبه شماره (۱۷) کابینه امارت اسلامی افغانستان برگزار شد - ۱۰
افغانستان د سیمې او نړۍ د وصل محور ---------- ۱۱
اکتشاف اصل اعمال حاکمیت محدود بر رودخانه¬های بین¬المللی ---------- ۱۴
نړیوال حقوق او د پوله تېرېدونکو اوبو اړوند د ګټو شریکول ---------- ۱۷
خشکسالی و پیامدهای ناگوار آن بالای منابع آبی حوزه های دریایی افغانستان ---------- ۲۱
په ودانیو کې د انرژۍ تحفظ پالیسي په لنډو ټکیو کې! ---------- ۲۳
له پاکستان سره د اوبو د وېش ستونزې: ---------- ۲۴
بازی مقصردانستن یک دیگر؛ ایجاد تنش یا اتحاد!؟ ---------- ۲۷
معلومات مختصر درمورد نقش پول در اقتصاد ---------- ۳۱
وخت او له وخت څخه استفاده ---------- ۳۲
نظارت یا Monitoring ---------- ۳۳
د انرژۍ په اړه عمومي معلومات ---------- ۳۴
که مدیران بریالي وي، مدیریت بریالی کېدی شي ---------- ۳۸
زلزله ---------- ۴۱
د افغانستان برېښنا شرکت او ترکمن انرګو ( افغانستان او ترکمنستان) ---------- ۴۳
د انرژۍ د تولید بندونو د پروژو د پلي کولو په برخه کې د ګډې همکاري په ---------- ۴۴
پروژه اعمار بند سریزه و دیوار محافظوی تورتکل و بلوچ ---------- ۴۵
جلسه رهبری معینیت انرژی وزارت آب و انرژی در تالار جلسات این معینیت برگزار شد ---------- ۴۶
سرپرست وزارت آب و انرژی با نمایندگان گلبهار گروپ دیدار ---------- ۴۷
جلسه هماهنگی به منظور تهیه طرح جلوگیری از استفاده آب جوی ها و نهرهای بزرگ ---------- ۴۸



**د امتیاز خاوند: د اوبو او انرژۍ وزارت**

مسؤول مدیر: خواجه فقیر محمد " صدیقي "

د تحریر هیئت تر نظر لاندې:

قاري محمد عبدالعزیز "عزیز"

الحاج غلام جیلاني "حق پرست"

انجنیر میرویس "میرزاد"

برکت الله " آریوبي"

انجنیر همت الله "امین زی"

اسدالله "زیـرک"

سید عطاالله " صدیقي "

سموونکی : بازمحمد" درمـل "

راپور ورکوونکي : نعمت الله " اخلاقي" او اسدالله "ایوبي"

عکس اخستونکی: محمد حکیم "فیض"

توزیع کوونکی: سیدعادل "سادات"



آدرس: د دارالامان عمومي سرک

ایمیل پته: chiefofstaff@mew.gov.af
Info@ mew.gov.af

ویب سایټ:

https://mew.gov.af

د اړیکو شمېرې: ۰۷۷۷۹۱۷۸۹۸
۰۷۷۳۲۱۸۴۱۸


درنو لوستوونکو !

د اوبه او انرژۍ وزارت مجلې او میاشتنی جریدې د سافټ موندلو لپاره کولای شئ د دې ادراې ویب سایټ ته مراجعه وکړئ.


یادونه: د اوبه او انرژۍ فصلنامه کې چې کومې مقالې خپرېږي،په لیکوالانو پورې اړه لري؛هر لیکوال ته بویه چې د خپلې لیکنې دفاع پخپله وکړي، د مجلې د نوم په یادولو سره هر چاته د مأخذ په توګه د استفادې اجازه ده.

# سرمقاله

## زمونږ د وياړ يوه بله ورځ!

د نړۍ ولسونه او ملتونه د خپل ژوند په تاريخ کې ډول، ډول ورځې لري، چې ځينې يې د وياړونو ورځې وي، او ځينې يې د عار او پيغور ورځې وي، ځينې يې د خوښيو يادونه لري،او ځينې يې د وير، غم، ماتم او يا د شرم خاطرې لري. خو ويښ او هوښيار ولسونه هغه دي، چې له تېرو تجربو څخه درس واخلي، او د راتلونکي لپاره د هغه په رڼا کې ځان ته د کار او عمل يوه لايحه او کرښلاره وټاکي.

مونږ افغانان هم پخپل تاريخ کې ډېرې داسې ورځې لرو، چې له ځينو څخه يې ډېرې خوږې او له ځينو څخه يې ډېرې ترخې خاطرې لرو.

د ۱۳۹۸ هـ ش کال د کب د مياشتې ۱۰ نېټه د ټولې اسلامي نړۍ په تېره بيا زمونږ په تاريخ کې هغه ورځ ده، چې هر څومره ورباندې و وياړو او څومره يې وستايو بيا به هم لږ وي.

هو! دا هغه ورځ ده، چې د ايډيالوژي په وړاندې خورا پرمختللې تکنالوژي ماتې وخوړه، دا هغه ورځ ده، چې په نړۍ کې د جبر، غرور، استکبار، او استعمار سمبول (سپينه مانۍ ) سپينې پگړۍ ته سلامي شوه.

دا هغه ورځ ده، چې د امريکا په سروالۍ د ناټو خورا مجهز لښکر او مدرن جنگي ماشين د افغان مجاهد، غيرتي او پرخپلواکي مين ولس په وړاندې په رسوا ماتې محکوم شو.

دا هغه ورځ ده، چې د معاصرې نړۍ تر ټولو لوی او ځواکمن پوځي ائتلاف د يوه خورا وړوکي؛ خو د ايمان په وسله سمبال لښکر په وړاندې د خپلې ماتې د سند لاسليکولو ته اړ شو، چې د ټرون دغه مراسم چې د ټولې نړۍ له انځوريزو رسنيو څخه په ژوندۍ بڼه خپرېدل، او د دغو مراسمو په بهير کې په سالون کې ناست د افغانستان د اسلامي امارت د پلاوي له خوا په لوړ آواز د تکبير ملکوتي شعارونه به زمونږ د زرين تاريخ په پاڼو کې د يوه نوي او ځلانده باب په توگه تر ابده پورې ثبت وي.

د وخت فرعون (جورج ډبليو بش) چې د متحده ايالاتو ولسمشر، د ناټو ټرون سرلارى او د ټولې نړۍ خود ساخته قوماندان، څارنوال، قاضي او ... وو، او د افغانستان د اسلامي امارت د غازي لښکر هر فرد يې په مرگ يا زندان محکوم باله، او دغه هېواد يې له منها او فيها سره د خپلې خولې مړۍ بلله، دا ارمان يې پوره نه شو او دغه تياره مړۍ د ده او تر ده وروسته دده د ځای ناستو په ستوني کې ونښته.

هو! ټولې نړۍ وليدل، چې د صليب لښکرو او د دوی لاسپوڅو پر افغان ولس باندې له هيڅ ډول زور، ظلم، وژلو، تړلو، شړلو او... څخه ډېره ونکړه، خو د لوی خدای(ج) په نصرت او د افغان مسلمان او مجاهد ملت د سرښندنې او قرباني په برکت د دوی ټول پلانونه شنډ او خوبونه يې معکوس ثابت شول.

ناټو خېل په افغانستان کې تر شل کاله جگړې، د زرگونو عسکرو بې شمېره پوځي الوتکو، وسايطو او وسايلو له لاسه ورکولو او يو تريليون امريکايي ډالرو اقتصادي زيان تر زغملو وروسته دې ته اړ شول، چې له افغانستان څخه د وتلو او له لا زياتو بشري، نظامي او اقتصادي تلفاتو څخه د خوندي کېدلو په موخه له همغه "طالب" سره خبرو ته کښېني او د سوال ځولۍ ورته و غوړوي، چې دوی په مرگ او زندان محکوم باله.

همغه وو؛ چې تر نژدې يو نيم کال پړاويزو خبرو، اترو وروسته د ۱۳۹۸ هـ ش کال د کب د مياشتې په ۱۰ نېټه د امريکا د متحده ايالاتو او افغانستان د اسلامي امارت د استازو ترمنځ د قطر هېواد په پلازمينه دوحه کې داسې ټرون لاسليک شو، چې تر مخه به يې امريکا او ملگري يې له افغانستان څخه خپل ټول پوځ باسي او د افغانستان د اسلامي امارت منسوبين به هغوی ته د تېښتې لپاره خوندي لار ورکوي، او د همدغه ټرون په اساس صليبي لښکر له افغانستان څخه ووت، دا هغه څه وو؛ چې شل کاله وړاندې هيڅ يوه انسان د دې اټکل څه چې تصور هم نه کاوو.

د افغانستان اسلامي امارت پخپله ژمنه باندې وفا وکړه، اشغالگرو ته يې د وتلو خوندي لاره ورکړه؛ خو امريکا د خپل استعماري عادت له مخې لا هم د پروتې لغتې وهي، د ټرون موادو ته خپله ژمنتيا نه ښيي، تر ټولو لوی تخلف يې دا دی چې د گيدړې د ښکار څرنگوالي ته ورته عمل ته يې لاس واچاوو او د افغانستان پولي زېرمې يې کنگال کړې؛ خو مونږ باور لرو، چې ان‌اشاالله ډېر ژر به داسې ورځ هم راشي، لکه څرنگه چې امريکا له اشغال څخه توبه گاره شوه، همداسې به له خپلې پورتنۍ پرېکړې څخه هم په شا کېږي، خپله اشتباه به مني او پښېمانه کېږي به.

د حوت د ۱۰ نېټې ټرون يا په نورو ټکو کې د باطل په مقابل کې د حق او د ظالم په مقابل کې د مظلوم د بريا ورځ دې د خپلواکي او د خدای(ج) د کلمې د لوړولو د لارې شهيدانو، غازيانو، اسيرانو، کونډو، يتيمانو، ټول افغان مسلمان ملت او اسلامي امت ته مبارک وي.

د هغې ورځې د ډېر ژر راتلو په هيله چې په ټوله نړۍ باندې د اسلام سپيڅلی توغ رپاند او قرآن کريم حاکم وي.

حق‌پرست

## سرپرست وزارت آب و انرژی در راس یک هیئت بلند پایه به کشور ترکیه سفر نمود



یک هیئت بلند پایه به شمول محترم محمد حنیف حمزه، رئیس د افغانستان برشنا شرکت تحت ریاست محترم الحاج ملا عبداللطیف منصور، سرپرست وزارت آب و انرژی به کشور ترکیه سفر نمود. آنها با مسئولین برق کشور تاجکستان پیرامون تمدید قرارداد برق وارداتی برای سال ۲۰۲۳م گفت‌وگو خواهند کرد و همچنان در شماری از مجالس به منظور گسترش تولید برق در افغانستان، اشتراک خواهند کرد.

گفتنی است که چند روز پیش نیز سرپرست وزارت آب و انرژی در راس یک هیئت به منظور تمدید قرارداد برق وارداتی به ازبکستان سفر نموده بود،و با مسئولین شرکت برشنای آن کشور قرارداد برق وارداتی برای سال ۲۰۲۳م را تمدید نمود.

## یک هیئت ۲۱ نفری از ولایت ارزگان تحت ریاست رئیس حوزه فرعی دریایی ترینکوت با امیر المؤمنین حفظه‌الله دیدار کرد

یک هیئت ۲۱ نفری از بزرگان و علما کرام ولایت ارزگان تحت ریاست محترم مولوی وکیل احمد نقی، رئیس حوزه فرعی دریایی ترینکوت با امیر المؤمنین شیخ هبة‌الله آخندزاده، حفظه‌الله دیدار کرد.




در این دیدار، رئیس حوزه فرعی دریایی ترینکوت مشکلات برق در ولایت ارزگان و پیشنهادهای رسانیدن برق از بند برق کجکی به ولایت ارزگان، احداث کانال‌های آب از دریای هلمند در ولسوالی‌های گیزاب و چهارچینو، اعمار بندهای آغاجان و منی غار در ولسوالی‌های چنارتو و چوره، اعمار بند تنگی در ولسوالی دهراود، اعمار بندهای سرتنگی و تور در ولسوالی ارزگان خاص و بازسازی سربندهای کانال‌ها در ولسوالی‌های مربوط ولایت ارزگان را با امیر المؤمنین حفظه‌الله شریک نمودند.

در همین حال، امیر المؤمنین حفظه الله علاوه بر پذیرفتن پیشنهادهای متذکره تاکید نمود که به اعمار بند آغاجان و رسانید برق از بند برق کجکی به ترینکوت، مرکز ولایت ارزگان اولویت داده شود.



CS CamScanner

# قرار داد تورید برق میان افغانستان و تاجکستان تمدید شد





قرارداد تورید برق میان د افغانستان برشنا شرکت و شرکت ملی برق تاجکستان برای سال ۲۰۲۳م تمدید گردید.

قرارداد متذکره در حالی که محترم ملا عبداللطیف منصور، سرپرست وزارت آب و انرژی ا.ا.ا هم حضور داشت توسط محترم الحاج ملا محمد حنیف حمزه، رئیس اجرائیوی د افغانستان برشنا شرکت و محترم محمد عمر عسازاده، رئیس شرکت ملی برق تاجکستان( شرکت برق تاجک) به امضا رسید

## سرپرست وزارت آب و انرژی امارت اسلامی افغانستان با رئیس بخش آسیایی شرکتDBE HOLDING دیدار کرد



محترم الحاج ملا عبداللطیف منصور، سرپرست وزارت آب و انرژی امارت اسلامی افغانستان و محترم ملا محمد حنیف حمزه، رئیس اجرائیوی د افغانستان برشنا شرکت با محترم Mehmat Taha PINAR، رئیس بخش آسیایی شرکت DBE HOLDINGدر ترکیه دیدار نمود. شرکت متذکره که در بخش تولید برق آفتابی از شهرت جهانی برخوردار است و در سطح اروپا مقام سوم را دارد، معلومات لازم را پیرامون شرکت خویش با وزیر صاحب و هیئت همراه‌اش شریک کرد.

محترم وزیر صاحب از آنها خواست که به افغانستان بیایند، تا از یک طرف امکانات تولید برق آفتابی را در افغانستان ارزیابی نموده و هم با مسئولین فنی و تخنیکی وزارت از نزدیک دیدار نمایند و پروژه‌های خویش را در بخش تولید انرژی در افغانستان تطبیق نمایند.

مسئولین شرکت متذکره این دعوت را پذیرفتند و وعده نمودند که در آینده نزدیک به افغانستان سفر خواهند کرد، تا در مورد سرمایه‌گذاری خویش در بخش تولید برق آفتابی با مسئولین وزارت آب و انرژی صحبت همه جانبه نمایند.

همچنان سرپرست وزارت آب و انرژی امارت اسلامی افغانستان و هیئت همراه اش با محترم دکتور معتز، نخست وزیر اسبق سودان دیدار کرد و پیرامون سیاست جهانی در مورد انرژی و آب بحث و تبادل نظر نمودند.

در این دیدار، محترم معتز تجربه‌های خویش را در بخش مدیریت آب و تولید انرژی با سرپرست وزارت آب وانرژی شریک نمود.وی افزود که افغانستان در مقایسه با سودان در وضعیت برتری قراردارد و امیدواری است که شما با ادامه تلاش‌های خویش در وقت کم بتوانید به اهداف خویش در راستای مدیریت آب و تولید انرژی برسید.



CS CamScanner

# د اوبو او انرژي وزارت سرپرست وزير او ورسره مل پلاوی ازبکستان ته له خپل رسمي سفر وروسته بېرته کابل ته راستون شو



د اوبو او انرژي وزارت سرپرست وزير ښاغلي ملا عبداللطيف منصور او ورسره مل پلاوی ازبکستان ته له خپل رسمي سفر وروسته کابل ته را ستون شو او د ياد سفر په هکله يې رسنيو ته معلومات ورکړل.

د اوبو او انرژي وزارت سرپرست وزير له ازبکستان هېواد سره د برېښنا ستونزې هوارول او د قرارداد غځول د ياد سفر له اړينو موخو څخه و بلل او څرگنده يې کړه، چې له نيکه مرغه دغه سفر ښه لاسته راوړنه درلوده او دواړه موخې په بشپړه توگه تر لاسه شوې دي.

ښاغلي منصور زياته کړه، چې په دې سفر کې د برېښنا ستونزو د هوارولو او د قرارداد غځولو سربېره، د اوبو او انرژي په پروژو کې د نړيوالو پانگوالو د جلبولو په هکله هم هڅې شوې، چې ان شاالله په راتلونکي کې به ښې پايلې ولري.

د يادولو وړ ده، چې د اوبو او انرژي وزارت سرپرست وزير له ياد سفر څخه د راستنېدو په وخت کې د کابل په نړيوال هوايي ډگر کې د خپل سفر په هکله خبريالانو ته په بشپړ ډول معلومات ورکړل او د دوی پوښتنو ته يې اړين ځوابونه ورکړل.

## سرپرست وزارت آب و انرژی با یک سرمایه‌گذار ترکی در ترکیه دیدار کرد

محترم ملا عبداللطیف منصور، سرپرست وزارت آب و انرژی و هیئت همراه اش با محترم احمد البیرق، سرمایه‌گذار بزرگ ترکی در ترکیه دیدار کرد.

در این دیدار، سرپرست وزارت آب و انرژی سرمایه‌گذار متذکره را دعوت نمود که به افغانستان بیاید و در پروژه‌های مدیریت آب و تولید انرژی سرمایه‌گذاری نماید.

محترم احمد البیرق به سرپرست وزارت آب و انرژی اطمینان داده که در بخش سرمایه‌گذاری در پروژه‌های مدیریت آب و تولید انرژی و در راستای تقویت روابط کشورها با حکومت جدید افغانستان کمک خواهد کرد.

## سرپرست وزارت آب و انرژی با یک سرمایه‌گذار افغان مقیم ازبکستان دیدار کرد

محترم ملا عبداللطیف منصور، سرپرست وزارت آب و انرژی در تاشکند، پایتخت کشور ازبکستان با یک سرمایه گذار افغان مقیم در آن کشور دیدار کرد و پیرامون سرمایه گذاری سرمایه گذاران افغان مقیم ازبکستان در پروژه‌های اعمار بندهای ذخیروی آب و تولید انرژی بحث و تبادل نظر نمودند.

در این یدار، سرپرست وزارت آب و انرژی از سرمایه گذار مذکور خواست تا سرمایه گذاران افغان مقیم ازبکستان را به سرمایه گذاری در پروژه های اعمار بندهای ذخیروی آب و تولید انرژی ترغیب نماید.

قابل یاد آوری است که هیئتی به رهبری سرپرست وزارت آب وانرژی به منظور تمدید قرارداد برق وارداتی و حل مشکلات برق به ازبکستان سفر نموده، که روز گذشته قرارداد برق وارداتی برای سال ۲۰۲۳م میان کشورهای افغانستان و ازبکستان تمدید گردید.

## د چين هېواد د CRBC شرکت مسؤلين په افغانستان کې د اوبو بندونو د جوړولو او انرژي د توليد په برخه کې پانګونې ته لېواله دي



د اوبو او انرژي وزارت سرپرست وزير ښاغلي ملا عبداللطيف منصور په تاشکند کې د چين هېواد د CRBCشرکت له رئيس او يو شمېر تخنيکي مسؤلينو سره وکتل او د ياد شرکت مسؤلينو په افغانستان کې د اوبو بندونو د جوړولو او د انرژي د توليد په برخه کې پانګونې ته لېوالتيا څرګنده کړه.

د اوبو او انرژي وزارت سرپرست وزير د يادو پانګوالو له لېوالتيا ښخه خوښي څرګنده کړه او دوی ته يې بلنه ورکړه چې افغانستان ته راشي او د اوبو بندونو د جوړولو او انرژي د توليد په برخه کې د پانګونې په هکله د اوبو او انرژي وزارت له اداري او تخنيکي مسؤلينو سره له نږدې خبرې وکړي. هغه زياته کړه چې موږ دې ته تيار يو چې د پانګونې لپاره زمينه درته مساعده کړو.

په ورته مهال، يادو پانګوالو هم ومنله چې افغانستان ته راشي او د اوبو بندونو د جوړولو او انرژي د توليد په برخه کې پانګونه وکړي.

د يادولو وړ ده، چې د اوبو او انرژي وزارت رهبري هڅه کوي، ترڅو د افغان او بهرنيو پانګوالو لپاره د اوبو بندونو د جوړولو او انرژي د توليد په برخه کې د پانګونې زمينه چمتو کړي.

## سرپرست وزارت آب و انرژی با سفیر افغانستان در تاشکند دیدار کرد



محترم الحاج ملا عبداللطیف منصور، سرپرست وزارت آب و انرژی ا.ا.ا که به رهبری یک هیئت به کشور ازبکستان به منظور رفع مشکل برق وارداتی آن کشور به افغانستان و تمدید قرارداد برق با این کشور سفر نموده با محترم داکتر احمد خالد علمی، سفیر افغانستان در تاشکند و محترم محمد ادریس زرشوی، جنرال قونسل افغانستان دیدار کرد.

در این دیدار، هر دو طرف پیرامون گسترش روابط میان افغانستان و ازبکستان و همچنان در مورد حل مشکلات افغان‌های مقیم در ازبکستان بحث و تبادل نظر نمودند.

**پروژه دیوار استنادی کانال سر آسیاب در ولایت فاریاب به ارزش بیش از یک‌صدهزار افغانی به بهره برداری سپرده شد**

پروژه دیوار استنادی کانال سر آسیاب در ولسوالی پشتونکوت ولایت فاریاب به ارزش یک‌صدو شصت و سه هزارو چهارصدو نودو پنج افغانی(۱۶۳۴۹۵) به بهره برداری سپرده شد.

پروژه مذکور با حمایت مالی کشور ناروی از سوی موسسه اکتید تحت نظارت حوزه فرعی دریایی شیرین تگاب تطبیق گردیده و ظرفیت آبیاری نزدیک به ۱۰۰۵ جریب زمین زراعتی را دارا می‌باشد.

**د اوبو او انرژي وزارت د تدارکاتو رياست تدارکاتي سلاکار خپلو همکارانو ته ور وپېژندل شو**

ښاغلی قاري انجنير محمد جميل سحيقي، د اوبو او انرژي وزارت د تدارکاتو رياست د تدارکاتي سلاکار په توګه په داسې حال کې چې د اوبو او انرژي وزارت يو شمېر رئيسانو شتون درلود، د دغه وزارت د بشري سرچينو رئيس ښاغلي ملا اسدالله کاکړ له لوري همکارانو ته ور وپېژندل شو.

ښاغلي کاکړ د ياد سلاکار د معرفي کولو پر مهال دده د ښو تجربو او کارنامو يادونه وکړه او ويې ويل چې دی د وزارت د رهبري مقام د لزوم ديد پر بنسټ ګمارل شوی دی.

د يادولو وړ ده چې ښاغلي سحيقي ۲۵ کاله په مختلفو ادارو کې دنده ترسره کړې ده.

**په کندز ولايت کې د وکيل جنګل کانال د ګبيوني تحکيماتو پروژه د شاوخوا درې سوه زره (۳۰۰۰۰۰) امريکايي ډالرو په ارزښت پرانيستل شوه**

د کندز ولايت په قلعه ذال ولسوالي کې د وکيل جنګل کانال د ګبيوني تحکيماتو پروژه د شاوخوا درې سوه زره (۳۰۰۰۰۰) امريکايي ډالرو په ارزښت د پنج آمو سينديزې حوزې عمومي رئيس انجنير رفيع الله مجتبی، د FAO دفتر استازي انجنير مسعود تقي، د ولايت مقام استازي او د قلعه ذال ولسوالي د ولسوال په شتون کې پرانيستل شوه.

ياده پروژه د FAO دفتر په مالي ملاتړ د کمپاوند بلډر شرکت له لوري د پنج آمو سينديزې حوزې په همغږۍ سره پلي کېږي چې ګڼ شمېر هېوادوالو ته پکې د کار زمينه چمتو کېږي.

د يادولو وړ ده چې په ياده پروژه کې د ۱۲۰۰ متره په اوږدوالي، د ۲،۵ متره پراخوالي او د ٤ متره په لوړوالي سره د ګبيوني تحکيماتو جوړول شامل دي چې چارې به يې د درې مياشتو په موده کې بشپړې شي.

## د اوبو او انرژي وزارت سرپرست وزیر د نورستان ولایت له والي او د هغه ولایت له یو شمېر مشرانو سره وکتل



د اوبو او انرژي وزارت سرپرست وزير محترم ملا عبداللطيف منصور د خپل کار په دفتر کې د نورستان ولايت له والي ښاغلي محمد آغا حکیم، د نورستان سينديزې فرعي حوزې رئيس ښاغلي محمد علي فاروقي او د هغه ولايت له يو شمېر قومي مشرانو سره وکتل او په ياد ولايت کې د اوبو او انرژي پروژو په هکله يې خبرې اترې وکړې.

په یاده لیدنه کې، د نورستان ولایت والي او قومي مشرانو د اوبو او برېښنا د پراختیایي پروژو په برخه کې د خلکو ارتیاوې یادې کړې او د اوبو او انرژي وزارت د رهبري د پاملرنې غوښتنه يې وکړه.

د اوبو او انرژي وزارت سرپرست وزير هغوی ته ډاډ ورکړ چې د نورستان ولايت د پاتې پروژو د تطبيق او د هغوی د کار د بيا پيل په موخه به تخنيکي ټيم موظف کړي، ترڅو پروژې له نږدې و څېړي.

همدارنگه ښاغلي منصور په دې ناسته کې د نورستان والي او مشرانو ته د همکاري د ژمنې له ورکولو سره،یادونه وکړه چې د دغه ولایت په مرکز کې د برېښنا پروژه هم د راتلونکي کال لپاره د وزارت په پلان کې شامله شوې ده او په راتلونکي کې به يې کار پيل شي.

## آب دریای بلخ به ۱۱ کانال به شکل عادلانه تقسیم گردید



مسئولین حوزه فرعی دریایی بلخ، آب دریای بلخ را با حضور میراب‌ها به کانال‌های امام صاحب، شاهی، سیاگرد، بلخ، مشتاق، عبدالله، دولت آباد، چمـتال، فیـض آباد، چـهاربولک و آقچه به طور عادلانه تقسیم کردند.

قابل یاد آوری‌ست که آب دریای بلخ در هر پانزده روز از سوی مسئولین حوزه فرعی دریایی بلخ به شکل عادلانه تقسیم می‌گردد.

**پروژه حفظ و مراقبت بند قرغه ولسوالی پغمان ولایت کابل به ارزش نزدیک به ٦ میلیون افغانی افتتاح شد**

این پروژه با حضور محترم انجنیر حبیب الرحمن حقپال رئیس عمومی حوزه دریایی کابل، محترم مولوی ولی محمد تائب رئیس حوزه فرعی دریایی کابل وسطی، محترم انجنیر حبیب الرحمن مبارز رئیس حفظ و مراقبت و بهره برداری تاسیسات آب و شماری دیگر از مسئولین وزارت آب و انرژی افتتاح گردید.

محترم انجنیر حبیب الرحمن حقپال رئیس عمومی حوزه دریایی کابل هدف از تطبیق این پروژه را حفظ و مراقبت از بند قرغه بیان کرد، آقای حقپال با اشاره به اهمیت حفظ و مراقبت از تاسیسات آب از شرکت قراردادی خواست تا در راستای تطبیق پروژه و بهبود کیفیت آن توجه بیشتر نمایند.

در همین حال انجنیر محمد اسماعیل مدیر عمومی ساحوی ولسوالی پغمان در مورد پروژه معلومات داده اظهار داشت که هدف اساسی تطبیق این پروژه حفظ و مراقبت و جلوگیری از تخریبات اطراف بند قرغه می باشد.

قابل یادآوری است که قبل از این هم ۳ پروژه دیگر به منظور حفظ و مراقبت از کانال ها و دروازه های ورودی بند قرغه در قسمت بالا دست بند از سوی وزارت آب و انرژی تطبیق شده است.

**په ننگرهار ولایت کې د ۴۰ کانالونو د پاکاري چارې بشپړې شوې**

د ننگرهار ولايت په خوگيانو ولسوالي کې د ۴۰ کانالونو د پاکاري چارې بشپړې شوې.

د يادو کانالونو د پاکاري په چارو کې د سيمې د اوسيدونکو لپاره گڼې کاري ورځې رامنځته شوې وې او چارې يې د يوې مياشتې په موده کې بشپړې شوې.

## جلسه هماهنگی با سرمایه گذاران ایرانی در مورد سرمایه گذاری روی پروژه های اعمار بند های آب برگزار شد




این جلسه با حضور محترم مجیب الرحمن عمر آخندزاده معین آب وزارت آب و انرژی، انجنیر رفیع الله استانکزی رئیس انسجام برنامه های آب و شماری از سرمایه گذاران کشور ایران در تالار جلسات معینیت آب برگزار گردید.

در جریان جلسه هر دوطرف روی هماهنگی های لازم پیرامون سرمایه گذاری در پروژه های بند های آب و تولید انرژی بحث و تبادل نظر صورت گرفت.

سرمایه گذاران ایرانی ضمن ابراز علاقه مندی به سرمایه گذاری روی پروژه ها معلومات لازم را در مورد چگونگی پیشبّرد امور با معین آب شریک نمودند.

محترم معین آب پس از بررسی معلومات لازم به ایجاد هماهنگی بیشتر و تسریع امور تاکید ورزید.

## سمینار تربیوی و اصلاحی دعوت و ارشاد در مورد اجتناب از گفته های بدون تحقیق و قضاوت های عجولانه تدویر یافت



این سمینار با تلاوت آیات چندی از کلام الله مجید توسط محترم مولوی سید هارون ملا امام مسجد شریف وزارت آغاز شده سپس محترم مولوی گل رحمن عارف رئیس دعوت و ارشاد وزارت آب و انرژی سخنرانی خود را ایراد نمود.

رئیس دعوت و ارشاد وزارت آب و انرژی در این سمینار قضاوت های عجولانه و گفته های بدون تحقیق و بررسی را از جمله اعمال ناپسند خوانده به اجتناب از آنها تاکید ورزید.

همچنان آقای مولوی عارف با اشاره به ارزش های معنوی آموزش علوم دینی،کارمندان را به رعایت هدایات و ارشادات دین مقدس اسلام در امور مادی و معنوی دعوت نمود.

### د ۲۰۲۲ زیږدیز کال په اوږدو کې دوه پروژې د ۱۳۰ زره ډالرو په ارزښت د تالقان په سیندیزه حوزه کې پلې شوې دي

د تالقان په سیندیزه حوزه کې د ۲۰۲۲ زیږدیز کال په اوږدو کې د اوبو سکتور د مدیریت په موخه دوه پروژې د یو سلو دیرش زره او یو سلو پنځه دیرش (۱۳۰۱۳۵) ډالرو په ارزښت د WFP دفتر په مالي ملاتړ پلې شوې دي.

د یادو پروژو په پلې کولو سره د ۴۰۶ جریب کرنیزې ځمکې د خړوبولو زمینه چمتو شوې ده.

### سروی ابتدایی کاریزها، کانال‌ها و جوی‌ها در ولایت ارزگان انجام شد

مسئولین حوزه فرعی دریایی ترینکوت در ولسوالی چهار چینوی ولایت ارزگان سروی ابتدایی کاریزها، کانال‌ها و جوی‌ها را انجام دادند.

همچنان مسئولین حوزه متذکره در مربوطات ولسوالی دهراود ولایت ارزگان اندازه گیری آب دریای هلمند را معلوم کردند و دیتای استیشن هایدرومیتیورولوژی را هم جمع آوری نمودند.

### د سالنګ د برف سنج او هایدرومترولوژي دستګاوو ډیټا راټول شول

د سالنګ د برف سنج او هایدرومترولوژي دستګاوو ډیټا د غوربند-چاریکار سیندیزې فرعي حوزې د انجنیري ټیم له لوري راټول او یادو استیشنونو ته یې د یخ ضد اوبه اضافه کړل شوې.

د یادولو وړ ده چې د راټول شویو معلوماتو پر بنسټ د سیند د اوبو، د باران او واورې کچه معلومیږي.

### پیرامون تسریع روند کار پروژه اصلاح مسیر دریای نمک آب جلسه هماهنگی برگزار شد

این جلسه که تحت ریاست محترم مولانا صبغت الله قانع، رئیس حوزه فرعی دریایی تالقان با حضور شماری از مسئولین این ریاست و مسئولین شرکت انکشاف ملی برگزار گردید، در پیوند به روند تسریع کار پروژه اصلاح مسیر دریای نمک آب بحث و تبادل نظر صورت گرفت.

در جلسه مذکور بر تسریع روند کار پروژه، احیای مجدد ۵۵ متر دیوار تخریب شده از اثر لغزش کوه و شماری دیگر از موضوعات تاکید به عمل آمد.



CamScanner

## معین آب وزارت آب و انرژی از جریان کار در چندین بخش مربوطه این معینیت را از نزدیک بازدید کرد.




محترم مجیب الرحمن عمر آخند زاده معین آب وزارت آب و انرژی وضعیت جریان کار در ریاست های تنظیم آبیاری و آبرسانی، سروی و دیزاین و بخش های از ریاست منابع آب این معینیت را از نزدیک بازدید نمود.

محترم معین آب در جریان بررسی و بازدید پیشبُرد امور در ریاست های متذکره هدایات و سفارشات لازم را جهت بهبود اجراآت ارایه نموده همچنان مشکلات و نیازمندی های مسئولین تخنیکی و کارمندان را از نزدیک جویا گردید.

در همین حال شماری از مسئولین تخنیکی و کارمندان ریاست های یادشده در مورد فعالیت های شان توضیحات لازم را بیان داشته کمبودی ها و مشکلات شان را نیز با معین آب شریک کردند.

قابل ذکر است که این بررسی ها توسط معین آب از ریاست های مربوطه این معینیت به هدف بهبود امور و حل مشکلات مسئولین و کارمندان صورت می گیرد و در آینده هم ادامه خواهد داشت.

## د ټولګټو وزارت د ټولګټو پروژو د قراردادونو د ارزونې او څېړنې په موخه د سترو قراردادونو د څېړنې د رهبرۍ پلاوي ناسته ترسره شوه

یاده ناسته د اوبو او انرژۍ وزارت د اوبو معین ښاغلي مجیب الرحمن عمر آخندزاده تر مشرۍ لاندې د نورو وزارتونو د معینانو او د اړوندو ادارو د استازو په ګډون د اوبو معینیت د غونډو په تالار کې ترسره شوه.

په دې ناسته کې، د ټولګټو وزارت له پنځو زیاتې ټولګټې پروژې تر مطالعې او بیاکتنې لاندې ونیول شوې او د هغوی د وضعیت د څېړنې او ستونزو دهوارولو په هکله بحث او د اندونو تبادله وشوه.

د سترو قراردادونو د څېړنې پلاوي به د یادو پروژو تر هر اړخیزې او بشپړې څېړنې وروسته، د خپلو څېړنو پایلې د وراندیزونو او شونو لارو چارو سره یوځای د یوه بشپړ راپور په ترڅ کې د افغانستان اسلامي امارت له اقتصادي کمیسیون سره شریک کړي.

### پروژه حفظ و مراقبت کانال ویناچ در ولایت هرات به ارزش ۷۲۶۸۷۸۴ افغانی افتتاح شد

پروژه حفظ و مراقبت کانال ویناچ مربوط بند سلما در ولسوالی چشت شریف ولایت هرات به ارزش هفت میلیون و دو صد و شصت و هشت هزار و هفت صد و هشتاد و چهار (۷۲۶۸۷۸۴) افغانی با حضور داشت مولوی سردار ولی مزمل رئیس حوزه فرعی دریایی هریرود پائینی هرات و تیم تخنیکی بند سلما افتتاح شد.

قابل یادآوری است که پروژه متذکره از طرف وزارت آب و انرژی تمویل می گردد که کار عملی آن در سه سایت کاری از طرف شرکت ساختمانی یونیک وهاج اجرا می شود.

در این پروژه برای بیش از ۵۰ تن به مدت دو ماه زمینه کار مهیا می گردد.

### د ننګرهار ولایت په جلال آباد ښار کې د برېښنا رسولو خدمتونو د وړاندې کولو په موخه دوو شرکتونو ته د برېښنا د تولید او وېش جوازونه ورګړل شول

د اوبو او انرژۍ وزارت د برېښنا د مارکیټ حقوقي رئیس ښاغلي مولوي نورالله حکمت د ننګرهار ولایت په جلال آباد ښار کې د برېښنا رسولو د تولید او وېش څلور جوازونه د قانوني پړاوونو تر نهایي کولو وروسته د اجمل عرب او رڼا اتفاق شرکتونو ته ورکړل.

د یادو جوازونو په اخیستلو سره د رڼا اتفاق شرکت د ۵۰۰۰ کیلو واټه برېښنا د تولید او وېش او د اجمل عرب شرکت د ۴۲۰ کیلو واټه برېښنا د تولید او وېش اجازه لري.

د یادو شرکتونو له لارې د برېښنا رسولو خدمتونو په وړاندې کولو سره به د جلال آباد ښار ګڼ شمېر اوسیدونکي د برېښنا له نعمت څخه برخمن شي.

### په لوګر ولایت کې د څلورو پروژو لومړنی او د دوو پروژو تخنیکي سروې ترسره شوه

د اوبو تاسیساتو د تخنیکي سروې د لړۍ په دوام کې د څلورو پروژو لومړنی او د دوو پروژو(چکډیم اومحافظوی دیوال) تخنیکي سروې د لوګر ولایت د محمد آغې په ولسوالي کې د یاد ولایت د سیندیزې فرعي حوزې د انجنیري ټیم له لورې د HRDA موسسې د انجنیرانو په همکارۍ سره ترسره شوه.

## دومین جلسه تخنیکی به منظور تحقق مصوبه شماره (۱۷) کابینه امارت اسلامی افغانستان برگزار شد



دومین جلسه تخنیکی به منظور تحقق مصوبه شماره (۱۷) کابینه امارت اسلامی افغانستان در مورد تحکیمات سواحل دریای آمو در تالار جلسات معینیت آب وزارت آب و انرژی با اشتراک نمایندگان وزارت های امورخارجه، وزارت امور سرحدات و قبایل، وزارت زراعت، آبیاری و مالداری، وزارت معادن و پطرولیم، وزارت مبارزه با حوادث طبیعی و اداره احصائیه ملی برگزار گردید.

در این جلسه به منظور غنی سازی طرح تحکیمات سواحل دریای آمو نظریات و پیشنهادات جداگانه از سوی نمایندگان ادارات ذیربط مطرح شده و تصامیم لازم اتخاذ گردید.

## په پروان ولایت کې د ګلبهار کانال د عمومي سربند پروژې چارې د څه باندې شپږ میلیونه افغانیو په ارزښت پیل شوې

د پروان ولایت په جبل السراج ولسوالي کې د ګلبهار کانال د عمومي سربند د ساتنې او مراقبت پروژې چارې د شپږ میلیونه، یو سلو نهه دیرش زره او اته سوه څلور اعشاریه پنځه(٦١٣٩٨٠٤,٥) افغانیو په ارزښت پیل شوې.

په دې پروژه کې د سلګونو کسانو لپاره د کار زمینه برابره شوې ده او ټاکل شوې چې چارې یې د یوې میاشتې په موده کې بشپړې شي.



د یادې پروژې چارې د غوربند چاریکار سیندیزې فرعي حوزې ترڅارنې لاندې د عالم حسیب ودانیزشرکت له خوا پلې کېږي.

همدارنګه د غوربند- چاریکار سیندیزې فرعي حوزې مسؤلینو د پروان ولایت د شینواري ولسوالي د شیوې درې د آبریزو سروې د چکډومونو د جوړولو او د باران او سطحي اوبو د ذخیره کولو په موخه ترسره کړه.

د یادولو وړ ده چې د دې پروژو په پلې کولو سره به ۱۷٦ هکتاره کرنیزه ځمکه خړوبه شي.

## د میدان بنار سیندیزې حوزې رئیس د میدان وردګ ولایت له ښاروال سره وکتل

د میدان ښار سیندیزې حوزې رئیس ښاغلي مولوي عبدالصمد حلیم د میدان وردګ ولایت له ښاروال ښاغلي مفتي حارث سره وکتل.

په یاده لیدنه کې دواړو لورو د میدان ښار اړوند د ځمکې لاندې اوبو د تغذیې او یو شمېر نورو موضوعاتو باندې بحث او د اندونو تبادله وکړه.

## رئیس حوزه دریایی خلم - ایبک با اعضای انجمن های استفاده کنندگان و میرابان کانال های عمومی آب دیدار کرد

در این جلسه اعضای انجمن استفاده کنندگان آب و میرابان کانال عمومی مشکلات و پیشنهادات شان را با محترم ملا محمد عمر انس، رئیس حوزه دریایی خلم- ایبک شریک کردند.

آقای انس در مورد حل مشکلات اعضای انجمن استفاده کنندکان آب و میرابان کانال عمومی وعده هر نوع همکاری را داد.

## په تخار ولایت کې د اوبو د اوو وېشونکو ودانیو پروژه د څه باندې ۷۳ زره ډالرو په ارزښت ګتې اخیستنې ته وسپارل شوه

د تخار ولایت په دشت قلعه ولسوالي کې د اوبو د اوو وېشونکو ودانیو پروژه د درې اویا زره، اووسوه او شل ډالرو (۷۳۷۲۰) په ارزښت ګتې اخیستنې ته وسپارل شوه.

د یادې پروژې چارې د آغاخان دفتر په مالي ملاتړ د لاندني پنج سیندیزې حوزې تر څارنې لاندې پلې شوې چې پکې سلګونو کسانو ته د کار زمینه برابره شوې وه.

## پروژه پاکاری رسوبات و دروازه های بند سرخاب در ولایت لوگر به بهره برداری سپرده شد

پروژه پاکاری رسوبات و دروازه های بند سرخاب در ولسوالی محمد آغه ولایت لوگر با حضور حاجی عمرا خان صدیقی رئیس حوزه فرعی دریایی ولایت مذکور، مولوی سید امین هاشمی رئیس زراعت و یک تعداد مسئولین محلی و بزرگان قومی به بهره برداری سپرده شد.

این پروژه از طرف کمیته گندم در بدل کار اجرا شد.



CS CamScanner

# افغانستان د سیمې او نړۍ د وصل محور

لیکنه: دوکتور فاروق اعظم

وړمه ورځ ۲۴ جنوري ۲۰۲۳م اسلام آباد کې د ملي دفاع پوهنتون په ابتکار جوړ سوي یو سمینار کې مې برخه درلوده. د سمینار موضوع وه: « د پاکستان اړیکې او تجارت د خپل غربي ګاونډیانو سره». افغانستان او مرکزي آسیا د پاکستان غرب کې واقع دي. هلته ما د افغانستان پر جغرافیایی اهمیت او پاکستان ته زموږ پر حیاتي ارزښت خبرې وکړې. دلته، ستاسو دوستانو د معلوماتو لپاره هغه څه وایم چې هلته مې ویلي دي؛ البته څه خبرې نورې هم ورزیاتوم د کومو د ویلو ګنجایش چې هلته نه و.

دوستانو! افغانستان د ۱۹ پیړۍ له سره د نړۍ د هغه وخت د لویو قدرتونو (انګلیس او روس) د لویې بازۍ یوه برخه وه. روس جنوب خواته د مرکزي آسیا او افغانستان له لارې تودو اوبو ته ځان رساوه او انګلیس د هندوستان شمال، افغانستان نیوۀ، چې د هند د طلائي مرغۍ د ساتلو په منظور د روس د پرمختګ مخه ونیسي. انګریزانو د اوسني پاکستان د سیند ایالت په ۱۸۴۳م او پنجاب یې په ۱۸۴۹م کې ونیول. په دې ډول، انګریزان پر اټک رود د افغانستان ګاونډیان سول. دا وخت پر افغانستان امیر دوست محمدخان حکومت کاوه. هغه ټول ژوند د تیمورشاه د اولادې او خپلو ورونو سره په جنګ تېر کړ. د انګریزانو سره یې د دوستۍ معاهده وکړه څو ځان نورو جنګونو ته خلاص کړي. امیر دوست محمد خان په ۱۸٦۳م کې د هرات تر فتح وروسته هلته وفات او هم هلته د خواجه عبدالله انصاري څنګ ته ښخ سو. د هغه زوی امیر شیرعلی خان د افغانستان پاچا سو. روسانو په ۱۸٦۵م کې تاشکند او په ۱۸٦۸م کې یې بخارا او سمرقند ونیول. په هند کې انګریزان د روسانو له دغه پرمختګه وویریدل. په ۱۸٦۹م کې انګریزانو او روسانو د مخامخ ټکر د مخنیوي په خاطر د افغانستان د شمالی سرحداتو د ترسیم لپاره مذاکرات پیل کړل. په ۱۸۷۳م کې دواړو د افغانستان شمالي سرحدات ترسیم او ومنل. روس تعهد وکړ، چې نور مرکزي آسیا کې نظامي پرمختګ نه کوي. خو دوه کاله وروسته یې په ۱۸۷۵م کې خیوا او خوقند ونیول او ځان یې آمورود ته نژدې کړ. انګریزان هم رامخته سول او په مئ ۱۸۷۹م کې یې د امیر محمد یعقوب خان څخه د ګندمک د معاهدې په اساس خیبر، کرم، پښین او د بلوچستان ډیرې برخې له افغانستان څخه جلا کړې. دغه وضعیت د افغان او انګلیس ترمنځ دوهم جنګ (میوند جنګ) رامنځته کړ. په جولای۱۸۸۰م کې په میوند کې جنګ وسو، چې د انګلیسانو په ماته پای ته ورسید. دوی میاشتې وروسته، انګریزانو په سپتمبر ۱۸۸۰م کې امیر عبدالرحمن خان سره مرسته وکړه، چې افغانستان ونیسي. په دغسې یو حالت کې روس بل قدم رامخته سو او په ۱۸۸۵م کې یې پنجده له افغانستانه ونیول. دا وخت انګریزانو د روسانو سره جدي مذاکرات پیل کړل او د مخامخ ټکر اخطار یې ورکړ. په نتیجه کې روسانو تعهد وکړ، چې نیولې سیمې د ځان سره ساتي، خو نور نو په افغانستان کې مخته نه ځي. په مقابل کې انګریزانو هم ومنل چې افغانستان کې به فوج نه ساتي او داخلي خودمختاري به ورکوي. په دې ډول افغانستان د دوو لویو امپراتوریو په منځکې د یو حائل او بفر زون په توګه ومنل سو څو دا دوی امپراتورۍ مخامخ ټکر سره ونکړي.

کله چې انګریزان مطمئن سول چې نور روسان مخته نه راځي، نو د هندوستان د ډاډمن امنیت په خاطر چې وخت ناوخته به افغانانو پر انګریزانو حملې کولې، انګریزانو وغوښته د افغانستان او هندوستان ترمنځ هم یوه حائله سیمه یا بفر زون رامنځته کړي. په ۱۸۹۳م کې یې د ډیورند کرښه وایستل او د اوسني افغانستان او د هند د لویې وچې ترمنځ یې اوسنۍ پښتونخوا او د بلوچستان یوه برخه د حائل یا بفرزون په ډول جوړه کړه. امیر عبدالرحمن خان، د هغه زوی او د هغه لمسي او ورپسې نادرخان او ظاهرشاه ټولو د افغانستان دغه حائله سیمه د انګریزانو د نفوذ په ساحه کې ومنل.

پنځه پنځوس کاله وروسته چې کله په ۱۹۴۷م کې هند ویشل کیدی، دغه حائله سیمه پاکستان ته ورسیده. افغانستان غوښته خپله دا سیمه بیرته واخلي او د انګریزانو سره یې تماس ونیو؛ خپل استازی، نجیب الله خان تورویانا یې دوه واره برتانوي هند کې انګریزانو ته واستاوه؛ خو انګریزانو ونه منل او ویل یې پاکستان به په همدغه حدودو جوړیږي. د افغانستان د هغه وخت حکومت د انګریزانو سره پر دغه مځکه د جنګ لپاره حاضر نه و. که څه هم د جنګ د ګټلو احتمال ډیر و او ولسونو هم د ملاتړ ډاډ ورکړی و. د جنګ د ګټلو احتمال ځکه ډیر و،



CS CamScanner

چې انګریز په هر صورت له سیمې وتې، تمام عیار اوږد جنګ یې نه کاوه؛ هندوانو زموږ سره د جنګ هیڅ دلیل نه درلود او ډیر لیرې وه؛ او پاکستان جوړ سوی نه و. خو شاهي خاندان په افغانستان کې موجوده استقرار غنیمت ګڼه او د انګریزانو خوابدي یې د پښتونخوا تر ګټلو د ځانو لپاره درنه ګڼل؛ نو ځکه کوم عملي اقدام یې ونکړ.

له بلې خوا د هندوستان د آزادۍ په تحریک کې د پښتنو او خصوصاً د خدایي خدمتګارانو لویه برخه وه. دوی هم د افغانستان له بدنې د تللو مځکو په موضوع کې مؤثر کردار اداء نکړ. په هند کې کانګریس پارټۍ چې خدایي خدمتګاران یې مهمه برخه وه، د هند پر وحدت تر ډیره وخته اصرار کاوه او مسلم لیګ بیا د مذهب پر بنیاد د هند ویش غوښت. بالاخره، هندو مشرانو تنازل وکړ او د هند ویش ته حاضر سول. خو په کانګریس پارټۍ کې پښتانه مشران تر پایه د هند وحدت ته متعهد وه؛ ځانونه یې له کانګریس او مسلم لیګ څخه تجرید کړل، خو له خپلې خبرې وانه وښتل. دوی دا ونکړه چې کله هندوان د هند دوه تقسیم ته حاضر سول، پښتنو مشرانو ویلي وای څرنګه چې موږ هیڅ وخت په کلتوري لحاظ د هندوستان د ثقافت برخه نه و، نو له اټکه تر افغانستان پورې دې دغه سیمه جلا او هند دې پر دریو برخو وویشل سي (هندوستان، پاکستان، پښتونستان). بنایي هندو مشران د کوچني پاکستان په خاطر چې یوازې به پر پنجاب او سیند ایالتونو جوړېدی، ملګري سوېوای او دغې موضوع قوت اخیستی وای. خو دا موضوع چې هندوستان دې پر دریو برخو وویشل سي، نه د افغانستان حکومت او نه د خدایي خدمتګارانو لخوا مطرح سوه.

په دې ډول، پاکستان په اوسني سرحداتو د افغانستان په مځکې په ۱۹۴۷م کې جوړ سو. افغانستان، د پاکستان د انتظار خلاف په ملګرو ملتونو مؤسسه کې د پاکستان د شاملیدو مخالفت وکړ. پاکستان ډیر خفه سو او له یوازني ازاد سني مسلمان ګاونډي هیواد څخه یې چې اسلام یې هندوستان ته وړي او تل یې د هند د مسلمانانو مرسته کړې وه، توقع نه وه. یوه اونۍ وروسته افغانستان بیرته خپله منفي رایه واخیسته. په دې ډول د افغانستان او پاکستان مناسبات له هم هغه ابتداء ترینګلي راروان سول. متأسفانه هیڅکله د دواړو هیوادونو مشران نه دي کښینستلي چې خپل اختلافات په سړو مغزو د تاریخي حقایقو او مځکني واقعیتونو پر بناء د دواړو ملتونو په ګټه حل کړي.

څرنګه چې دواړه هېوادونه یو او بل ته اړ او حتی سرنوشت یې سره تړلی و، نو ځکه یې په ډیرو ترینګلو مناسباتو کې هم د تکلیف پر وخت یو او بل ته د مرستې لاس ورکړی دی. کله چې په ۱۹۵۷م کې د پاکستان سره مناسبات د سفر برۍ تر حده ډیر خراب وه، شاه محمودخان (د ظاهرشاه اکا) په کابل کې د پاکستان سفیر اسلم خان خټک ته د دوستۍ د اظهار په ضمن کې وویل:«که پاکستان نه وي، افغانستان نسته. که روس افغانستان ونیسي، پاکستان له منځه تلونکی دی او که هند پاکستان ونیسي افغانستان ته لویه خطره ده». شاه محمودخان ته د موهنداس ګاندهي هغه خبره یاد وه، چې باچاخان ته یې په خیبر دره کې ویلي وه، چې د هند شمالي سرحد هندوکش غرونه دي. شاه محمودخان اسلم خان خټک ته وویل: «زه دعاء کوم الله ج ما د کشمیر په آزادۍ کې د هند خلاف د پاکستاني ورونو سره شهید کړي». د هند او پاکستان ترمنځ د ۱۹۶۵م په جنګ کې افغانستان د پاکستان مرسته وکړه. تر جنګ وروسته، د پاکستان مارشال ایوب خان د جنوري په لومړي ۱۹۶٦م کابل ته ظاهرشاه ته د منني لپاره راغی. ظاهرشاه ورته وویل موږ د کشمیر په مسئله کې د پاکستان د موقف ملاتړ کوو. د هند او پاکستان د ۱۹۷۱م په جنګ کې هم افغانستان د پاکستان مرسته وکړه. تر جنګ وروسته چې کله ذوالفقار علي بهټو کابل ته د منني لپاره راغی، ظاهرشاه ته یې ویل چې زه ستاسې د احسان دومره تابع یم چې له تواضع تاسو ته مخامخ نه سم کتلای.

پاکستان هم د روسانو د تجاوز خلاف د افغانانو مرسته وکړه او په میلیونونو افغانانو ته یې په لسهاؤ کلونه پخپله غیږ کې ځای ورکړ. په عین حال کې افغانانو هم تودو اوبو ته د روسانو رسیدو مخه ونیوله او د پاکستان د دفاع یو اوسپنیز دیوال سول. اوس چې روس نور د افغانستان پر سرحداتو نسته، پاکستان نور هغه ستراتیجک موقعیت نلري چې د غربي طاقتونو دفاعي مرسته ورجلب کړي. اوس پاکستان تر بل هر وخت ډیر د هند تجاوز ته یوازې پاته دی؛ هغه هند چې تر بل هر وخت اوس د یوه افراطي مذهبي هندوانو لخوا رهبري کیږي. دا د پاکستان ډیره په ګټه ده، چې د افغانستان سره ښې اړیکې ولري. د افغانستان هم په ګټه ده چې مرکزي آسیا له خپلې لارې د پاکستان او بحر سره ونښلوي. موږ ته هم د پاکستان بحري بندرونه نسبت ایران ته نژدې دي او اشد ضرورت ورته لرو.

په پاکستان کې سکندر میرزا، ذوالفقارعلي بهټو، ضیاء الحق او په افغانستان کې داؤدخان کوښښ کاوه د دواړو هیوادونو ترمنځ ترینګلي مناسباتو ته د حل یوه لار پیدا کړي، خو یا وخت موقع ورنکړه او یا دومره په احتیاط روان وه، چې وخت ورڅخه تېر سو. په یاد باید ولرو، چې دوه واره د نړۍ دوه لوی طاقتونه، یو وار روس ۱۴ کاله او بیا امریکا شل کاله په افغانستان کې وه او داخلي ملګري یې پر قدرت وه. هغوی یا نه غوښتل او یا یې ونه کولای سو، چې د پاکستان

سره د اختلاف مسائل یوطرفه کړي؛ بلکې برعکس دواړو دورو زموږ اختلافات نور هم د افغانستان په ضرر تشدید کړل. په کار ده اوس د اختلافاتو د سیاسي حل پروسه پر پخوانیو بنیادونو د تاریخي او اوسني واقعیتونو په درک سره جدي تعقیب سي.

افغانستان د آسیا زړه دی او په غیږ کې یې د تریلیونو ډالرونو خزانې دي. کولای سي چې مرکزي آسیا د پاکستان له لارې د جنوبي آسیا او خلیج سره ونښلوي. افغانستان کولای سي د چین ـ پاکستان اقتصادي دهلیز د چین د کمربند او سړک د لویې لارې سره چې چین د یوروپ سره نښلوي، وصل کړي. دا به د افغانستان او پاکستان اقتصاد ته ډېره وده ورکړي. پاکستان کولای سي د افغانستان په مرسته د لاجورد له لارې ګټه واخلي او خپل مالونه یورپ ته ورسوي. افغانستان په دسمبر ۲۰۱۸م کې خپل تجارتي مالونه د لاجورد له لارې یوروپ ته یووړل. دا لار له افغانستانه شروع، تر ترکمنستان، آذربایجان، جورجیا او ترکیې تیریږي. پاکستان کولای سي د افغانستان له لارې مرکزي آسیا او یورپ ته ځان ورسوي.

تاپي بله مهمه پروژه ده، چې د ترکمنستان غاز، پترول او تجارتي مالونه د افغانستان له لارې و جنوبي آسیا او د جنوبي آسیا مصنوعات او فني ماهرین و مرکزي آسیا ته رسوي.

د بریښنا لویه پروژه (کاسا زر) هم د مرکزي آسیا اضافي بریښنا جنوبي آسیا ته د افغانستان له لارې رسوي. همداراز، د نوري فایبر لویه پروژه د یادولو ده.

د وریښمو تاریخي لار چې اوس (د مرکزي آسیا د سیمه ییزې اقتصادي همکارۍ) په نوم یادیږي، له افغانستانه تیریږي. د سیمه ییز تړون په دغه لویه پروژه کې د سیمې ۱۳ هیوادونه شامل دي؛ تمویل یې آسیایي بانک او نور نړیوال مالي سازمانونه کوي.

په افغانستان کې امنیت او ثبات د ټولې سیمې او نړۍ د تجارت د ښه رونق خصوصاً د پاکستان د اقتصادي ودې سره ډیره مرسته کوي. که نه، پاکستان به مجبور وي د ایران له لارې مرکزي آسیا ته محدود لاسرسی پیدا کړي. محدود په دې معنی چې د ایران له لارې یوازې ترکمنستان ته پر اوږده لار رسیدای سي. په داسې حال کې چې د افغانستان له لارې تاجکستان، ازبکستان او په ترکمنستان کې د تیلو او غاز لویو منابعو ته ډیر لنډ رسیږي. قزاقستان، روسیې او یورپ ته د پاکستان لنډه لار هم افغانستان دی. د پاکستان اقتصادي وضع نسبت هند او بنګله دیش ته خرابه ده. که موږ د پاکستان اقتصادي رشد د هغه هیواد د نفوس د رشد په تناسب مطالعه کړو، وړاندوینه کولای سو، چې په ۲۰۴۷م کې چې د پاکستان د آزادۍ سل کاله پوره کیږي، د پاکستان اقتصاد به ډیر خراب وي. خو د دغه خراب اقتصاد د سمیدو یوه چاره سته او هغه د افغانستان سره ښې اړیکې ټینګول دي.

دوستانو! یوه لحظه تصور وکړئ. یو اورګاډی د یورپ په شمال غرب کې د ناروې له اوسلو څخه راروان دی، د سویدن پر سټاکهولم، د فنلنډ هلسنګې، د روسیې له ماسکو او د قزاقستان له آستانه تیریږي او د ترکمنستان له لارې زموږ تورغونډۍ او یا د ازبکستان له لارې زموږ حیرتان ته رسیږي. نور دا اورګاډی بند دی او کښته کابل ته نه ځي. همداراز، اورګاډی د یورپ له غرب، د پرتګال له لزبن، د هسپانیا له ماډرید او یا د فرانس له پاریس څخه را روان دی په ټول یورپ کې تیریږي، استانبول، تهران او مشهد بیا زموږ تر اسلام کلا راځي. نور دلته بند دی. همداسې له جنوبي کوریا، چین، منګولیا، قرغزستان، تر تاجکستان او زموږ تر شیرخان بندر پورې اورګاډی راځي؛ نور دلته بند دی. په همدا ډول زموږ په شرق کې، د اورګاډي پټلی له سنګاپور، مالیزیا، تایلنډ، برما، بنګله دیش، هند تر پاکستان او زموږ تر تورخم او سپین بولدک پورې رسیدلی دی؛ نور دا پټلی بندې دي او له افغانستانه نه تیریږي. که د نړۍ نقشې ته ښه ځیر سو، دغه یوې نکتې (افغانستان) د ټولې نړۍ اتصال قطع کړی دی؛ د سیمې او نړۍ تجارت ته یې ډیره صدمه رسولې ده. افغانانو د ځان، سیمې او نړۍ سره ظلم کړی دی. خو دنیا هم زموږ او خپلو ځانونو سره ډیر ظلم کړی دی؛ پر موږ یې جنګونه تحمیل کړي دي، موږ یې نه یو پرې ایښي چې دغه څلورلارۍ موږ د خپلو خلکو، سیمې او نړۍ په ګټه فعال او وکاروو. د نړۍ غټو طاقتونو او زموږ ګاونډیانو قصداً موږ اضافه تر سل کاله د حائل او بفر زون په ډول ساتلي و. اوس وخت دی چې نور افغانستان د بیلتون او حائل نکته نه بلکې د پیوستون او وصل محور سي. پریښوول سي چې دا څلورلارۍ د ټولو په ګټه فعال سي.

اوس چې په افغانستان کې داډمن امنیت دی او قوي مرکزي حکومت سته، که پاکستان د خپل کمزوري اقتصاد ځنځیر او د فقر خبیثه دائره ماتول غواړي، نو باید د جیوپالیتکس پر ځای جیو ایکنامکس ته مخ کړي. افغانستان او پاکستان دواړه باید خپل وس وکړي چې د همکارۍ په فضاء کې مخته تلای سي. افغانستان د طبیعي شتمنیو له پلوه ډیر غني دی، بهرنی پانګونې ته ضرورت لري کوم چې د پاکستان د زراعت او صنعت د ودې لپاره ممد واقع کیدای سي.
افغانستان، د آسیا زړه، د سیمه ایزې همکارۍ په صورت کې به نه یوازې د سیمې د اقتصادي او ټولنیز پرمختګ په لار کې مرسته وکړي او د ګوادر بحري بندر ته به رونق ورکړي بلکې د سیمې امنیتي مشکلاتو ته به هم رسیدګي وسي؛ لکه د مخدره موادو قاچاق، غیرقانوني مهاجرت او ترهګري. اوس په کار ده د سیمې هیوادونه د افغانستان حکومت په رسمیت وپیژني او د افغانستان له موقعیته د سیمې او نړۍ په ګټه کارواخیستل سي. درناوی
والسلام علیکم و رحمة الله و برکاته

# اکتشاف اصل اعمال حاکمیت محدود بر رودخانه‌های بین‌المللی

نویسنده: ملا عبدالوهاب «مدقق»

رودخانه‌های بین‌المللی در قسمت سیر تکامل حقوقی آن(که بحث کامل آن قبلا در مقاله جداگانه در مجلة وزارت انرژی وآب به نشر رسیده است) جهت مدیریت وبهره‌برداری موثر از آنها در طول تاریخ تحت پرنسیپ‌های حقوقی متعدد ومتضاد از جمله اصول"حاکمیت سر زمینی مطلق" و" تمامیت ارضی مطلق " تنظیم ومدیریت گردیده اند.

در نتیجة کشمکش وتقابل دو نظریه مزبور اصل سومی تحت عنوان اصل" حاکمیت محدود " که جوهرة حقوق بین‌الملل معاصر رودخانه‌های بین‌المللی را تشکیل می‌دهد، در چارچوب تیوری"مدیریت جمعی واشتراک کشور های ذیربط در آبهای یک رودخانه بین‌المللی" در معاهدات، مقررات وتصمیمات متخذه در نهادها وکنفرانس‌های بین‌المللی ازقبیل انستیتوت حقوق بین‌الملل، اعلامیة مونته ویدیو، اعلامیة مادرید وانجمن حقوق بین‌الملل، مؤسسه حقوق بین‌الملل، شورای امنیت سازمان ملل متحد ومقررات هلسینکی به منظوراستفاده منصفانه ومعقول ازآنها توصیه گردید وسر انجام ضمن تصویب کنوانسیون سال ۱۹۹۷م از سوی مجمع عمومی سازمان ملل متحد به رسمیت شناخته شد ودر سال ۲۰۱۵ م عملا لازم الاجرا گردید. بدین-ترتیب با تصویب کنوانسیون سال ۱۹۹۷ م سیر تکامل حقوقی رودخانه‌های بین‌المللی به درجه کمال رسید و کنوانسیون مذکورکه بر اصل" حاکمیت محدود" مبتنی است واصول کلی متعدد دیگری را نیزتوصیه نموده،یگانه چارچوب حقوقی درعصرکنونی برای رودخانه‌های فرامرزی محسوب می‌گردد. درکل می پردازم به ریشه‌یابی تیوری اصل «حاکمیت محدود» که برای اولین بار چه زمانی وتوسط چه کسی اکتشاف و در عرصهٔ مدیریت واستفاده منصفانه ومعقول ازآبهای فرامرزی مطرح گردیده است؟

رودخانه های بین‌المللی در آغاز به عنوان منابع آبی طبیعی و اقتصادی تلقی می‌شدند و تحت حاکمیت ملی کشورها قرار داشتند(بر اساس اصل حاکمیت سرزمینی مطلق مدیریت می‌گردیدند). چنین وضعیت حقوقی رودخانه‌های بین‌المللی تا زمانی که اصل حاکمیت محدود به عنوان ناسخ اصل حاکمیت سرزمینی مطلق پا به عرصه گذاشت، ادامه داشت.

قابل یادآوری است که وضعیت حقوقی مذکور رودخانه‌ها، صرف در حقوق عمومی بین‌الملل قابل درک است؛ اما در فقه اسلامی یا به عبارت دقیق‌تر، در حقوق بین‌الملل اسلامی برای رود خانه‌های بین-المللی از صدر اسلام یک نظام حقوقی و قانونمند وجود داشت و بر اساس«اصل حاکمیت محدود» مدیریت می‌گردید و هیچگاه اصل «حاکمیت سرزمینی مطلق» را نه تجربه و نه آنرا مورد پذیرش قرار داده است؛ زیرا دین مبین اسلام در همان ابتدا«اصل آزادی بهره‌برداری از آبها»را برای عموم مقرر نمود وچنین اصل را در چارچوب«قاعده‌ی لاضرر» محدود نمود.

قاعدهٔ لاضرر از حدیث مشهور نبوی«لا ضرر و لاضرار فی‌الإسلام»، اخذ شده (۱) علی‌رغم ضعف سند حدیث مذبور، مفهوم آن در اسلام پذیرفته شده است، در چارچوب یک قاعده‌ی فقهی معروف درآمده، شامل هرگونه حرج و زیان می‌شو؛[۲] و فقها در رابطه با مستندات این قاعده به کتاب، سنت و عقل استدلال نموده اند.[۳]

درکل بهره‌برداری از یک رودخانه‌ی بین‌المللی در دین اسلام بر اساس«اصل حاکمیت محدود» به عدم ایجاد موانع و خسارت، محدود گردیده است. متن کتاب فقهی،«ردالمختار علی‌الدرالمختار؛ حاشیه ابن عابدین» در فصل‌الشرب راجع به آب‌های آزاد، دریاها و رودخانه‌های بزرگ (بین‌المللی) آزاد چنین اشعار دارد:«...ولکل حقها فی کل ماء لم یحرز بإناء اوجب و لکل سقی أرضه من بحر أو نهر عظیم کدجله و الفرات و نحو هما؛ لأن الملک بالإحراز و لاإحراز[...] و لکل شق نهر لسقی أرضه منها، أو لنصب الرحی إن لم یضر بالعامه؛ لأن الانتفاع با لمباح إنما یجوز إذا لم یضر بأحد کالانتفاع بشمس و قمر و هواء»[۴]؛ یعنی: برای تمام بشریت حتی مواشی، سهم مساوی در بهره‌برداری از تمام انواع آب به استثنای آب که در ظرف و یا چاه مُحرَز: محفوظ باشد، ثابت است. و همه در آبیاری نمودن زمین از دریا و رودخانه‌ی بزرگ(بین‌المللی)؛ مانند: دجله، فرات وهمانند آنها، حق دارند؛ زیرا: احراز: تصرف یک چیز ملکیت آنرا ثابت می‌سازد؛ در حالیکه چنین احراز دریاها و رودخانه‌ها وجود(امکان) ندارد. و برای همه حق کندن نهر جهت آبیاری زمین از آبهای آزاد غیر مملوکه ویا جهت نصب نمودن آسیاب، معین است؛ مشروط بر اینکه وارد آوردن آسیب به منافع عامه را فراهم ننماید؛ زیرا: بهره برداری از چیـــزی

[۱]. حدیث مذکور از ابو سعید خدری، ابوهریره، ثعلبه بن أبی مالک، عباده بن صامت، عبدالله بن عباس، عائشه، جابر بن عبدالله و أبولبابه از رسول‌الله-صلی‌الله علیه وسلم- روایت شده است.

[۲] «دیدگاه قول تفصیل(وجوب‌اتباع)(۹)ویب سایت اختصاصی اهل سنت و جماعت، تاریخ نشر: ۱۳۹۵/۱/۴، [https://ahlesonnat.com]

[۳] الف: ابن عابدین، رد المختار علی‌الدرالمختار، نوبت چاپ: دوم، نشر: پاکستان- پشاور، ج:۱۰، صص:۱۵-۱۶
ب:پیشین، مدقق، عبدالوهاب،«وضعیت حقوقی دریای آزاد از دیدگاه حقوق بین‌الملل و فقه اسلامی»، ص:۴۱.

[۴] .الف: ابن عابدین، رد المختار علی‌الدرالمختار، نوبت چاپ: دوم، نشر: پاکستان- پشاور، ج:۱۰، صص:۱۵-۱۶
ب:پیشین، مدقق، عبدالوهاب،«وضعیت حقوقی دریای آزاد از دیدگاه حقوق بین‌الملل و فقه اسلامی»، ص:۴۱.



CamScanner

مبـاح، در صـورت جواز دارد که به کسـی صـدمه وارد نه سازد؛ مانند: انتفاع از آفتاب، مهتاب و هوا. متن فقهی مذکور درهمان صفحه،آبها را به چهار کتگوری عمده‌ی زیر تقسیم نموده است:

۱ -آبهای مُحرَز در ظروف

در این نوع آب، حق دیگران منقطع گردیده وبهره برداری ازآن بدون اجازهٔ مالک آن مجاز نیست[۵]

۲-آبهای جوی گروه مخصوص

مردم درآبهای جوی که ملکیت گروه مخصوص باشد، فقط جهت رفع نیازهای اولیه و روزمره مانند: بهره‌برداری غرض نوشیدن، پخت وپز، وضوء، غسل و شستن کالا، می‌توانند از آن نفع وردارند.

۳-آب دریاها

در این نوع آبها هر شخص می‌تواند به گونه‌ی مطلق و بدون هیچ گونه قید و شرط از آن بهره-برداری نماید.

نویسنده با توجه به نصوص اسلامی مذکور، باور دارد که دین اسلام برای اولین بار، آزادی دریاها را در سطح جهان اعلام نموده است؛ و اصل آزادی دریاها را مورد تصویب قرار داده است.

۴-آب رودخانه‌های بزرگ(بین‌المللی)

بهره‌برداری از آبهای رودخانه‌های بین‌المللی مانند: رودخانهٔ سیحون(دریای آمو)، محدود و مشروط به عدم ایجاد موانع و آسیب است.

نگارنده با توجه به نصوص مذکور اسلامی به ویژه قاعدهٔ «لاضرر» ومتن فقهی فقیه شمس‌الدین التمرتاشی[۶]در کتاب «رد المختار علی الدرالمختار؛ حاشیه ابن عابدین»که شرط گذاشته است«إن لم یضر بالعامه»(اگر به منافع عامه صدمه وارد نه گردد)، باور دارد که «اصل حاکمیت محدود» یا «اصل حاکمیت مشترک» (که در واقع یکی از اصول عمده‌ی حقوق بین‌الملل معاصر در عرصهٔ رودخانه‌های بین‌المللی به حساب می‌رود) برای اولین بار قبل از آنکه «هوگوگروسیوس» به احیای مجدد آن در جامعهٔ غرب، در سا ۱٦۰۹م. فایق آمده باشد؛ توسط دین اسلام ابداع: اکتشاف و آن را مورد تصویب قرار داده است. در حالیکه دانشمندان حقوق بین‌الملل معاصر به این عقیده هستند که اصل مذکور برای اولین، توسط گروسیوس اکتشاف گردیده است. نگارنده بر اساس دلایل متعدد،گروسیوس را به عنوان یک مجدد«اصل حاکمیت محدود ومشترک» می پذیرد؛ اما به عنوان مُبدِع: اکتشاف کنندهٔ آن بنا به دلایل آتی رد می کند:

اول: با توجه به نصوص صریح -که ذکر آن گذشت- اختراع «اصل حاکمیت محدود» به صدر اسلام بر می‌گردد و فقه اسلامی آن را مورد تصویب قرار داده و عملاً از همان آغاز، لازم الاجرا گردید.

دوم: دوم اینکه عالم مسیحی هلندی، هوگوگروسیوس حقیقت آزادی دریاها را در قرن۱۷ میلادی(۱٦۰۹م.) درک نمود، آنرا در جهان غرب مطرح ساخت و سایر پرنسیپ‌های حقوقی را که اکثریت آن بطور کلی با پرنسیپ‌های فقه اسلامی شباهت داشتند نیز مدعی گردید حتی می‌توان گفت که بیشتر قواعد که در عرصهٔ آب‌های آزاد در حقوق بین الملل مطرح گردیده اند؛ ریشهٔ آن در فقه اسلامی دیده می‌شود. آقای محمد حمیدالله، سفیر الإسلام[۷]در این رابطه می‌افزاید«...زمانی که دریافتم، آنچه به عنوان حقوق بین‌الملل تدریس می-شود، در واقع از بسیاری جنبه‌ها با تعالیم فقه و تاریخ اسلامی مطابقت دارد؛ به شدت حیرت زده شدم.»[۸] ازین‌رو امکان آن است که دانشمندگروسیوس از فقه اسلامی متأثر و از آن استفاده به عمل آورده باشد، و از آزادی دریاها و رودخانه‌ها برای همه جهانیان دفاع نموه باشد.

تأثیر پذیری گروسیوس از فقه اسلامی بنابر دلایل زیر قابل استنباط است:

الف: فقه اسلامی(حقوق بین‌المللی اسلامی) با توجه به قدامت تاریخی بالای حقوق بین‌الملل کنونی تأثیرگذار است؛

[۵] . الف:ابن عابدین، ردالمختار علی الدر المختار، سال۲۰۰۵، نشر: بیروت، لبنان، کتابخانهٔ دارالفکر، جلد: ششم، ص:۷٦۲.

ب:پیشین، مدقق، عبدالوهاب،«وضعیت حقوقی دریای آزاد از دیدگاه حقوق بین‌الملل و فقه اسلامی»، صص:٤۲-٤۳.

[۶] . اسم کامل وی«محمد فرزند عبدالله فرزند احمد فرزند محمد فرزند ابراهیم فرزند محمد الخطیب التمرتاشی، المغربی، حنفی، فقیه، اصولی، متکلم، در سال (۹۳۹ هـ.. – ۱۵۳۳م.) در غزه هاشم تولد گردیده و در همان جا در سال (۱۰۰۴هـ.. - ۱۵۹٦م.) فوت گردیده است؛ و صاحب ۲٦ تصنیف علمی می‌باشد». منبع: ابن عابدین، محمدامین،«رد المختار علی الدرالمختار,حاشیه ابن عابدین،» [بی‌تا]، نشر: پشاور، مکتبهٔ حقانیه، ج: اول، صص:۷-۸.

[۷] . سفیر اسلام در جهان غرب، پروفسور محمد حمیدالله، در۱٦ محرم۱۳۲٦هـ.. (۹/ فبوری/۱۹۰۸م)در ایالت/ حکومت پیشین حیدرآباد دکن که سرانجام در سال ۱۹٤۸ ضمیمه هندگردید، در خانوادهٔ نوائط(که یک فرع از قبیلهٔ قریش هستند و برخی اعضای این خانواده در قرن هشتم میلادی از مدینهٔ منوره از ترس ظلم حجاج بن یوسف به هند مهاجرت نمودند) متولد گردید. به تاریخ ۱۳/ شوال ۱٤۲۳(۷/دسمبر/۲۰۰۲م) در امریکا در شهرجاکسلفانیا در ایالت فلوریدا فوت گردید. داکتر حمیدالله که از پیروان مذهب حنفی بود، در تدوین و تحقیقات مربوط به حقوق بین‌الملل اسلامی و حقوق قانون اساسی اسلامی دانشمندی شناخته شده‌یی بود. وی دارای ۱۷۵ تألیف به زبانهای بین‌المللی بوده و به ده زبان بین‌المللی تسلط کامل داشت. منابع: الف- الغوری، سید عبدالماجد، محمد حمیدالله سفیرالإسلام و أمین التراث الإسلامی فی المغرب، نوبت چاپ: اول، سال:۲۰۰۹م، نشر: دمشق – بیروت – دار ابن کثیر، ص:۸۳. ب:- ویکیبیدیا الموسوعه الحره،«محمد حیمدالله»، [بی-تا]، آخر تعدیل لهذه الصفحة کان یوم ۲۹ نوفمبر ۲۰۱۸، الساعة ۲۰:٤٤. [http://arwikipedia.org].

[۸] . پیشین، حمیدالله، محمد، سلوک بین‌المللی دولت اسلامی، صص:۱-۲.

زیرا: دین اسلام از آغاز برای تمامی دولتها، بدون ملحوظ داشتن دین یا نژاد، حقوق و تعهداتی یکسان قائل شده است؛ به عبارت دیگر:حقوق بین‌الدول که توسط مسلمانان شکل گرفت برخلاف ملل باستانی دیگر، فقط ناظر بر تنظیم چگونگی روابط یک دولت اسلامی با سایر دول اسلامی ونادیده انگاشتن سایر دول غیر مسلم نبود. محمد حمیدالله دراین مورد می‌گوید:«حقوق بین‌الملل به عنوان یک علم جامع و مستقل، ریشه در فرهنگ اعراب مسلمان عصر بنی امیه دارد».[۹]

دین اسلام باتوجه به چنین ویژگی‌ای که داشت، توانست توجه علمای جهان غرب ودانشمندان حقوق بین‌الملل به خصوص گروسیوس را به نظام حقوقی خود جلب نماید؛ و مورد استفاده‌ی علمی وپژوهشی آنها در عرصهٔ تحقیقات علمی و حقوقی قرار گیرد.

ب-گروسیوس که به عنوان پدر حقوق بین‌الملل معاصر شناخته می‌شود، در تحقیقات علمی خویش بیشتر به عقل و حقوق طبیعی استناد می‌نمود. از اینکه وی از بعد فکر و مذهب یک عالم مسیحی بوده؛ به کتب مقدس مراجعه می‌نمود ونظریات نویسندگان کلاسیک یونانی و رومی برای تحلیل موضوعات حقوقی به ویژه موضوع آزادی رودخانه‌ها وسایر عناوین مربوطه، کمک می‌گرفت.[۱۰] از این‌رو گروسیوس با توجه به دلایلی که ارایه می‌دارم از واقعیت بعید نخواهد بود که از میان کتب مذهبی و کتب کلاسیک به کتب فقهی اسلامی نیز مراجعه نموده باشد؛ زیرا: مراجعهٔ گروسیوس به کتب فقه اسلامی از میان کتب نویسندگان کلاسیک یونانی و رومی و سایر کتب مذهبی، از لحاظ زمانی به مراتب نزدیکتر و مساعدتر تلقی می‌شد حتی متن فقیه، شمس‌الدین التمرتاشی که«اصل حاکمیت محدود» را (إن لم یضر بالعامه[اگر به منافع عامه صدمه وارد نه گردد] که قبلاً به آن اشاره گردید)در قرن شانزدهم میلادی توسط شمس‌الدین التمرتاشی( ۱۵۳۳م.-۱۵۹٦م.)، یکی از فقهای حنفی و مؤلف۲٦ تألیف معتمَد، به قید تحریر در آورده شده است؛[۱۱] در حالیکه گروسیوس(که صاحب صِرف دو اثر،«دریای‌آزاد» و«حقوق جنگ و صلح» می‌باشد) در أواخر این قرن چشم به جهان گشود(۱۵۸۳م-۱٦۴۵م).[۱۲] درکلیت بایدگفت اصل حاکمیت محدود پیش ازینکه گروسیوس به مرحلهٔ تحقیق و پژوهش در علوم به ویژه در علوم

حقوقی ارتقا یابد، از میان ادیان سماوی و زمینی، نویسندگان کلاسیک یونانی و رومی و نظریات فلسفی؛ یگانه دین اسلام بود که آن را تصویب نموده و به درجهٔ کمال رسید. وفقها آن را جهت تصدیر حکم مورد استناد و استدلال خویش قرار می‌دادند. از سوی دیگر قواعد حقوقی یا اصول مورد بحث ما(که گروسیوس به آن استدلال نموده است) به اعتبار قرون اولیه‌ی بشری و قبل از آغاز تدوین قواعد حقوقی و فقهی نظام حقوقی اسلام به مثابه-یی«وَلَا خَطَرَعَلَی قَلْبِ بَشَر»(در سوچ و فکر بشر خطور نمی‌کرد) به حساب می‌رفت؛ زیرا: مذاهب جهان به ویژه مذهب مسیحی در بعد حقوقی بالأخص در عرصهٔ موضوعات حقوقی آب، پرنسیپ-های حقوقی که توجه بشر و پیروان خویش را به خود جلب و جذب نماید یا در عمل، موضوعات حقوقی را تجزیه و تحلیل نموده باشد وضع نه نموده است؛ جز در موارد ویژه که آن نیز با واقعیت‌های کنونی ربط حتی شباهتی ندارند؛ معلومات خیلی ناقص و بر اساس افسانه‌ها استوار بوده؛ ولی در کل یک افسانه‌ی تاریخی به حساب می‌آیند. برخی از معلومات فلسفی نیز که در مورد رودخانه‌ها ارائه گردیده است خیلی عجیب و غریب بوده که نمی-توان مورد تأیید عقل نیز باشد و کاملاً غیر منطقی به شمار می‌رود.[۱۳] بناء گروسیوس باتوجه به چنین فضای غبارآلود، چطور می‌تواند در تحقیقات علمی خویش از چنین معلومات افسانه‌ای، جز متون فقه اسلامی استفاده‌ی علمی وتحقیقی نماید و به آن استناد نماید.

خلاصه اینکه اصل حاکمیت محدود در جهان غرب در سدهٔ هفدهم(۱٦۰۹م.) به عنوان یک اصل کارآمد حقوق بین‌الملل حاکم بر رودخانه‌های بین-المللی جهت استناد به آن، صرف مورد تبادل نظر قرار گرفته است؛ چنانچه: گروسیوس در مورد رودخانه‌ها اظهار نموده:«رودها نمی‌توانند، همانند دریاها آزاد باشند و باید تحت حاکمیت مشترک دولتها قرار گیرند.[۱۴] و در سال ۱۹۹۷م. ضمن تصویب کنوانسیون مربوط به حقوق بهره‌برداری‌های غیر کشتیرانی از آبراه‌های بین‌المللی از سوی مجمع عمومی سازمان ملل متحد به رسمیت شناخته شد، به عنوان یک اصل از اصول حقوق بین‌الملل حاکم بر رودخانه‌های بین‌المللی درآمد؛ سرانجام در سال ۲۰۱۵م. لازم‌الاجرا گردید.[۱۵]

[۹]. همان، ص:۳.

[۱۰]. پیشین، بصیر، غلام عباس، حقوق بین‌الملل دریاها و رودخانه‌های بین‌المللی، ص:۳

[۱۱] پیشین، ابن عابدین، محمد امین، رد المختارعلی الدر المختار، حاشیه ابن عابدین، صص:۷-۸.

[۱۲]. الف:احمدیان راد، رضا،«بحثی در باب ایده های حقوقی هوگو گروسیوس»، تاریخ نشر:۲۰۱۷/۷/۹،[ www.khoshyaran.ir]

ب:باتمانی، یعقوب،«بررسی افکار هوگو گروسیوس درباره حقوق بین الملل»، مجله حقوقی روزیکس، تاریخ نشر:۱۳۹۲/۵/۳۰، [majale1.rozblog.com] .

[۱۳]. الف:رشیدی، حمید ، فلسفه حقوق تالاب ها ، جلد : اول ، نوبت چاپ ، اول ، سال:۱۳۸۹ ، نشر ، ایران ، انتشارات : میزان ، صص:۸۳-۸٦

ب:حکمتیار ، کلبدین ، بایبل دقرآن په رنا کی ، نوبت چاپ: اول ، سال :۱۳۸۵ نشر پاکستان ، انتشارات اداره میثاق ایثار ،صص:۱۷-۱۹

ج:حکمتیار،گلبدین، ساینس او دقرآن علمی اعجاز، نوبت چاپ: اول، سال۱۳۹۰، نشر: پیشاور- انتشارات ادارهٔ میثاق ایثار، ص: ۲٦۷

[۱۴]. پیشین، موسی‌زاده، رضا، مرتضی عباس‌زاده، «ابعاد حقوقی بهره‌برداری از رودخانه‌ی مرزی هیرمند توسط ایران وافغانستان»،ص:۱٦٦

[۱۵] فهیم، نجیب، «دچار توهم فراوانی آب هستم/ فعالیتهای ایران روی هریرود بدون مشورت با افغانستان است، تاریخ انتشار: شنبه ۲۹ جوزا ۱۳۹۵ ساعت ۱۷:۱۳ [https://af.shafaqna.com]

# نړيوال حقوق او د پوله تېرېدونكو اوبو اړوند د ګټو شريكول

## «د سيندېزو حوزو په اړه د ملګرو ملتونو كنوانسيون»

ليكوال: استاد بركت الله "آريوبی"

**سريزه**

د ځمكې پرمخ د نړۍ كابو نيمايي وګړي پر پوله تېرېدونكو اوبو متكي دي. په نږدې ۲۵ راتلونكو كلونو كې به د نړۍ ۷۰ سلنه وګړي په هغه سيمو كې ژوند كوي چې د اوبو له جدي كمښت او فشار سره مخ دي. د افريقا قارې شاوخوا ۹۳ سلنه اوبه پوله تېرېدونكې دي. دا سيمه به ډېره اغيزمنېږي. اټكل كېږي چې تر ۲۰۸۰ پورې به د دې سيمې ۷۵ ميليون هكتاره ځمكه چې اوس خروبېږي، له لاسه وځي چې دا چاره به د خوړو امنيت او خونديتوب ته لا جدي صدمه واړوي. د دې لپاره چې ملتونه وكړای شي د خوړو امنيت، انرژي او اقتصادي خونديتوب يې تآمين شي او د دوی په پام چې نړۍ له دې اړخه خورا جدي ننګونو سره مخ ده نو ځكه ملتونه هڅه كوي چې د اوبو پر سر د ګټو شريكول زيات كړي.

د پورتنيو ستونزو حل په موخه اړينه ده چې په سينديزه حوزه كې ګډ هېوادونه د پوله تېرېدونكو اوبو پر سر همكاری پراخې او زياتې كړي. دا چې هېوادونه څنګه دې ستونزو ته حل لار مومي په دې اړه دوه رويې شتون لري: لومړی، يواړخيز اقدامات، چې له مخې يې هېوادونه په ځانسيايني برخه كې هڅې كوي او دويم، څواړخيزه اقدامات چې پرتو ستونزو ته په كتو او پر يو بل د اتكا رسميت پېژندنې برخه كې حلالارې لټوي. په دې څېړنه كې هڅه شوې چې دويم ډول اقداماتو (جمعي اقداماتو) ارزونه وشي تر څو دا ډول حل لارې څنګه د نړيوالو حقوقو په ځانګړې توګه د ګډو سينديزو حوزو په اړه د ملګرو ملتونو كنوانسيون په رڼا كې تحليل كېدلای شي.

**د ګټو شريكول**

د ګټو شريكول په نړيوالو بحثونو كې يوه تكراري موضوع ده، ليكن تر اوسه دا مفهوم په هر اړخيزه توګه نه دی تعريف شوی. دا اصطلاح په حقوقي متونو كې بېلابېلې رېښې لري په ځانګړې توګه د ژوند چاپېريال اړوند نړيوالو تړونونو كې دا اصطلاح ډېره كارېدلې. لكه د ملګرو ملتونو د بيولوژيكي تنوع سازمان(CBD) د ملګرو ملتونو خوړو او كرنې سازمان(FAO) د نړيوالو بحرونو په اړه د ملګرو ملتونو كنوانسيون(UNCLOS) او داسې نورو كې دا مفهوم راغلی دی.

د ملګرو ملتونو د بيولوژيكي تنوع سازمان(CBD) له نظره د ګټو شريكول ځكه مهم دي چې دا ډول چلند د اړخونو د ګټو تآمين يو مهم ابزار دی. د ارسطو په دور كې مونږ له «متقابل عدالت»( commutative Justice) سره سر وكار درلود چې له مخې يې هر اړخ د تبادلې مساواتو ته په پام، يو څه لاسته راوړل او بل څه يې له لاسه وركول. د بيولوژيكي تنوع په مورد كې د زيستي تنوع پراختيا او جبران خسارې ترمنځ تبادله وه. سره له دې چې د سيندېزو حوزو په برخه كې د ګټو شريكولو موضوع له بل اړخه پراختيا موندلې ليكن، د دې نظريې اساسي توجيه هماغه د بيولوژيكي تنوع سازمان نظريه ده په ځانګړې توګه د قضيې دواړو اړخونو كې مساوات په پام كې نيول چې په نړيواله كچه د سرچينو خونديتوب لامل شي او بين المللي حقوق په دې برخه كې د نسلونو ترمنځ برابری لپاره تطبيقي اصول وړاندې كوي.

د پوله تېرېدونكو اوبو مديريت برخه كې كېدای شي د هېوادونو ترمنځ همكاري او يا منازعه شتون ولري ليكن د ګټو شريكولو موضوع نقش دادی چې د دې اوبو ګټو اخيستونكو ترمنځ د ټوليزو اقداماتو په پايله كې د همكاری چلند برلاسی شي. دا ډول چلند په ځينو وختونو كې د اوبو كمي وېش«quantitative allocation» يو ښه بديل دی. دا نظريه له اوبيزو سرچينو څخه د اخيستونكو «اقتصادي، اجتماعي، فرهنګي او ژوند چاپېريال» ارزښتونو د ښه والي لپاره كار كوي چې د اوبو معقولې او منصفانه ګټې اخيستنې سبب كېږي. ليكن لومړی بايد د دې چلند ښه او مؤثر تطبيق لپاره مناسبه فضاء رامنځته شي او دا يې د كاميابی لومړنی شرط دی. په دې ليكنه كې مونږ هڅه كوو چې د دې چلند«ګټو شريكولو نظر يې» لپاره په بين المللي حقوقو په ځانګړې توګه د ملګرو ملتونو د ګډو سيندېزو حوزو په اړه نړيوال كنوانسيون كې حقوقي چوكاټ تعريف او تشخيص كړو چې له مخې يې همكاری زياتيږي او د دې نظر يې د تطبيق لپاره خورا ارزښتاكه موارد تشكيلوي.

**د ګټو شريكولو نظريه او د معقولانه او منصفانه ګټې اخيستنې اصل:**

په دې اړه بېلابېلې نظر يې شتون لري چې د معقولانه او منصفانه ګټې اخيستنې اصل او د ګټو شريكولو موضوع سره پرتله كوي او يا د ګډو سيندېزو حوزو د مديريت په برخه كې يو دې نظريو ته لومړيتوب وركوي. زمونږ ادعا داده چې دا دوه مفاهيم د يو بل بديل نه دي

بلکې لومړی هغه د اوبو بین المللي حقوقو یو اصل دی او دویم هغه یې د اوبو مدیریت برخه کې یو ابزار یا چلند(approach) دی چې د ګډو سیندېزو حوزو کې د معقولانه او منصفانه ګټې اخیستنې اصل پواسطه حمایت کیږي. دا چې

ځینې ادبیات دا موارد سره په ټکر کې بولي او یا یو ته پر بل لومړیتوب ورکوي د دې انګېزنې څخه سرچینه اخلي چې د نړیوالو حقوقو د دې اصل له مخې اوبه یوازې په کمي توګه د استفاده کونکو ترمنځ وېشل کیږي. حقیقت دادی چې دا اصل ډیر پراخ مفهوم لري. د دې اصل له مخې هر هیواد حق لري چې د اړوند سیندیزې حوزې څخه په منصفانه او معقولانه توګه ګټه واخلي، خپلې ګټې خوندي کړي، او همدا راز هر هیواد باید په منصفانه توګه د اوبو خوندیتوب کې هم ونډه واخلي. دا اصل د سیندېزو حوزو په اړه د ملګرو ملتونو کنوانسیون په ۵ ماده کې راغلی دی:

۱- د ګډې سیندیزې حوزې شامل هیواد باید په خپل قلمرو کې د نوموړې سیندیزې حوزې څخه په معقولانه او منصفانه توګه ګټه واخلي. په ځانګړې توګه، یوه نړیواله ګډه سیندیزه حوزه باید په داسې توګه مدیریت او تړې ګټه واخیستل شي چې د نوموړې حوزې څخه ګټه اخیستنې تلپایه والی تضمین شي او د ټولو اړخونو اړوند ګټې خوندي کړي او د سیندیزې حوزې ګټې پکې نغښتې وي.

۲- د نړیوالې سیندیزې حوزې ګډ هیوادونه باید د حوزې څخه د ګټې اخیستنې مدیریت په برخه کې په منصفانه او معقولانه توګه ونډه واخلي. دا ډول ونډه دواړه اړخونو ته شاملیږي هم له سیندیزې حوزې څخه ګټې اخیستنې ته او هم د حوزې ساتلو او پراختیا کې د ونډې اخیستنې مسؤلیت په ځان کې رانغاړي.

دلته په متن کې د «ګټې اخیستنې»، «ونډې درلودلو» او «ګټو» مفاهیمو څخه معلومیږي چې د ملګرو ملتونو کنوانسیون تمه لري چې هیوادونه به په یوه شریکه سیندیزه حوزه کې د ګټو پر خوندیتوب او د حوزې پر ساتلو ډیر تمرکز کوي. دلته هغه څه چې یقیني دي، دادي چې د سیندیزې حوزې څخه منصفانه ګټه اخیستنه، ساتنه او پکې خوندي ګټو اړوند فکتورونو څخه مراد یوازې دا نه دی چې اوبه وویشل شي؛ بلکې له دې څخه پراخ اخذ کیږي. دا فکتورونه په ٦ ماده کې راغلي دي او مونږ یې دلته په دوه لویو کټګوریو ویشو: هغه فکتورونه چې طبیعي/ذاتي ځانګړنې لري(هایدروګرافي، هایدرولوژي، اقلیمي، اکولوژیکي او ...) او بل اقتصادي، اجتماعي او د ژوند چاپیریال اړوند فکتورونه: لکه اقتصادي اړتیاوې، د نفوسو کچه، په سیندیزه حوزه پورې تړلتیا/وابستګي، په اوبیز ګاونډي باندې د اوبو څخه ګټې اخیستنې احتمالي اغیزې، د اوبو ګټې اخیستنې اوسنی او بالقوه ظرفیت، د خوندېتابه اقدامات او د بدیلو لارو چارو شتون.

سربیره پر دې د ملګرو ملتونو ۱۹۹۷م کنوانسیون درییمه ماده د اړوند هیوادونو لپاره د تعهداتو او قراردادي آزادي په رسمیت پیژني. کنوانسیون په غړو هیوادونو دا نه تحمیلوي چې په راتلونکي کې دي د کنوانسیون مقرراتو سره سم په یوه سیندیزه حوزه کې معاهدات رامنځته کړي. پر ځای یې کنوانسیون په دې تکل کې دی چې هیوادونه وهڅوي تر څو اوسني تعهدات او قراردادونه منسجم کړي او د کنوانسیون بنسټیزو اصولو سره سم یې عیار کړي همداراز په راتلونکې کې داسي قراردادونه رامنځته کړي چې د کنوانسیون له کلي اصولو سره اړخ ولګوي او د اړوند ګټه اخیستونکې سیندیزې حوزې له شرایطو سره برابر وي. د دې مانا داده، چې

هیوادونه کولای شي په مشخصه سیندیزه حوزه کې د ګټو اشتراک او ګډو ګټو رامنځته کولو په پار په دوه اړخیزه او څو اړخیزه توګه مذاکراتو ته ولاړ شي او د دوی تعریف شوي میتودولوژی مطابق هوکړې ته ورسیږي. دا ډول میکانیزم باید د منصفانه او معقولانه ګټې اخیستنې اصل او د ګټو شریکولو چلند سره تطابق ولري. دا یو مهم ټکی ده، چې د اوبو وېش څخه د دې اصل پراخ بنسټ والی تأییدوي. سره له دې د ګټو شریکولو په برخه کې د کامل عدالت رعایت ډیر سخت کار دی ځکه چې د عادلانه مفهوم څخه بیلابیل برداشتونه کیږي او هر لوری هڅه کوي د خپلو ګټو پر محور یې تفسیر کړي چې په دې برخه کې کړاو رامنځته کوي.

په لویه کې د دې دوه مفاهیمو ترمنځ د موخې یووالي شتون لري چې د بین المللي حقوقو انجمن(ILA) له لوري په هلسنګي قواعدو کې یې څرک لیدل کیږي چې زیاتوي: په یوه سیندیزه حوزه کې هر ګډ هیواد حق لري او کولای شي چې سیندیزه حوزه او ګټې یې په منصفانه او معقولانه توګه سره شریکې شي. په دې اړه یې تحلیل زیاتوي: په یوه سیندیزه حوزه کې ګډ هیواد له لوري که سرکیله وي او یا پایین کیله، داسې اقدامات او له اوبیزو سرچینو ګټه اخیستنه چې منصفانه مشارکت پکې مراعات شوی نه وي د ګډو ګټو خلاف چاره ده ځکه دا اصل باید د هر هیواد له لوري د عامه سرچینو څخه د ګټې اخیستنې پر وخت اعظمي ګټې لاسته راوړلو په توګه په پام کې ونیول شي.

همداراز د معقولانه او منصفانه ګټې اخیستنې اصل په چوکاټ کې د ګټو شریکول د نړیوالې قضایي رویې« Gabcikovo-Nagymaraos» قضیه کې هم منل شوی. په دې قضیه کې چې د هنګري او چکسواکیا ترمنځ وه د عدالت نړیوالې محکمې حکم وکړ چې د دې دوه

هیوادونو ترمنځ د ۱۹۷۷م تړون یوازې د ګډې پانګه اچونې په اړه نه ده بلکې، اصلي موخه یې دا هم ده چې د ګټو شریکولو یو میکانیزم هم رامنځته کړي. د معاهدې مطابق د ټقلونو سیستمونو اساسي ساختمان د طرفینو ګډ ملکیت دی چې عملیاتي کول یې د یو واحد او منسجمې برخې څخه صورت نیسي او د پروژې ګټې باید په شریکه او مساوي توګه وویشل شي. د دې معنا داده چې په ضروري توګه د عدالت نړیوالې محکمې د ګډې سیندیزې حوزې څخه ګټه اخیستنې په برخه کې د

منصفانه او معقولانه ګټې اخیستنې اصل تایید کړ البته دا سرچینې یوازې اوبه نه دي بلکې د اوبو ظرفیت هم دی چې له مخې یې اوبیزه بریښنا تولیدیږي همداراز د سیندیزې حوزې اکولوژیکي پراختیا او د جریان څخه رامنځته شوي ګټې هم پکې رانغښتل کیږي.

له همدې کبله هغه بحثونه چې له مخې یې پر معقولانه او منصفانه ګټې اخیستنې د ګټو شریکولو اصل برلاسي او مقدم بولي په حقیقت کې د دې اصل له موخې څخه ناسمه انګېرنه ده. د معقولانه او منصفانه ګټې اخیستلو اصل یو احصایوي قاعده نه ده بلکه یوه ډاینامیکه پروسه ده چې د پوله تېربدونکو اوبیزو سرچینو څخه د ګټې اخیستنې چلند ملاتړ کوي. دا پروسه د هیوادونو له لوري په دې ژمنتیا پورې اړه لري چې د سیندیزې حوزې پر سر همکاري وکړي چې د همکارۍ له وجیبې څخه سرچینه اخلي.

کچیرې مونږ له دې مفهوم څخه ناسم برداشت کوو، دا ډول ادبیات به زمونږ لوری د اصلي ستونزې څخه چې په حاکمیت لرونکې دولت تر چتر لاندې د اوبیزو سرچینو مدیریت دی، او بلې خوا ته اړوي. دا چې څنګه په ملي حاکمیت کې انحصاري چتر پر وړاندې پراته خنډونه او ستونزې لرې کړو اړتیا لیدل کیږي چې د عامه ګټو لپاره ټولیز اقداماتو چلند تر لاس لاندې ونیسو په بل عبارت، دا هغه مفهوم دی چې په نړیواله کچه د شریکو اوبو مدیریت برخه کې تلپایه او سوله ایز حل لار مومي او همداراز اړتیا ده چې معلومه شي د «ګټو شریکولو» تعریف د همکارۍ په چوکاټ کې څنګه کیدای شي؟ کچیرې مونږ یوه نړیواله سیندیزه حوزه د سیمه ایز او یا سیند-شمول(Basin -wide) له اړخه څېړو دا به د ګډو ټولنو جغرافیایي وظیفوي بڼه بدله او د ګټو شریکولو لوښي ظرفیت به ډیر کړي. دا ډول پراخ برداشت د ملګرو ملتونو سیندیزو حوزو څخه د ګټې اخیستنې کنوانسیون(UNWC) سره هم اړخ لګوي.

### د همکارۍ کولو وجیبه؛ د منصفانه ګټې اخیستنې او ګټو شریکولو چوکاټ په توګه

د اوبیزو سرچینو څخه تلپایه ګټه اخیستنه، ساتنه او حفاظت یې د هیوادونو له لوري د ښه نیت له مخې په همکارۍ پورې اړه لري. کچیرې د بین المللي عامه حقوقو له نظره وکتل شي لیدل کیږي چې د د دولتونو ترمنځ د همکارۍ وجیبه د نړیوالو حقوقو په زړه کې موقعیت لري او د ملګرو ملتونو منشور کې درج شویو اصولو بنسټ او اساس تشکیلوي. د ملګرو ملتونو منشور په ۱۹۴۵م کې په دې ټکو پیلیږي، مونږ د ملګرو ملتونو خلک، وروسته د دې سازمان بنسټیزې موخې په لاندې توګه بیانوي:

۱ .د نړیوالې سولې او امنیت د ټینګښت په موخه د ټولو ګډو اغېزناکو اقداماتو په کار اچول، ترڅو له دې لارې د ګواښونو، تېریو، یرغلونو او نورو سوله ماتوونکو کړنو مخه ونیول شي او همدا راز د عدالت پر بنسټ له نړیوالو قوانینو سره سم، په سوله ییز ډول د خبرو اترو له لارې د هغو نړیوالو شخړو او پېښو مخه ونیول شي، چې ښایي نړیواله سوله زیانمنه کړي؛

۲ .د ولسونو خپلواکۍ او مساوي حقونو ته درناوی، د ولسونو ترمنځ د دوستانه اړیکو ټینګول او د نړیوالې سولې او ټیکاو په موخه د مناسبو لارو چارو غوره کول؛

۳ .د نړیوالو اقتصادي، کلتوري، فرهنګي او بشردوستانه مسایلو د حل په موخه د همکارۍ او مرستو جلبول او له هر ډول توکمیز، جنسیتي، مذهبي او ژبني توپیر پرته د بشري حقونو څخول او اساسي ازادیو ته درناوی؛

۴ .دغې ګډې موخې ته د رسېدو لپاره د ټولو دولتونو ترمنځ د همغږۍ رامنځته کول او د کار لپاره د یوه ګډ مرکز ټاکل؛

د ملګرو ملتونو اساس د هیوادونو په مساوي حاکمیت کېښودل شوی چې له مخې یې ټول هیوادونه ژمن شوي ټولې هغه شخړې او ستونزې چې نړیوالې سولې او امنیت ته ګواښ پیښوي، د خبرو اترو او مذاکراتو له لارې حل و فصل کوي په داسې توګه چې عدالت او مساواتو ته خطر پیښ نه شي. کچیرې دا موارد یو له بل سره په څنګ کې مطالعه شي روښانه به شي چې د ملتونو حقوقو ملاتړ د ملګرو ملتونو منشور په واسطه کیږي او د جمعي سولې او امنیت بنسټیز اصل له مخې یې تکامل او پراختیا موندلې ده په لنډه توګه ویلای شو چې د همکارۍ وجیبې له مخې دا ماموریت د دولتونو تر غاړې دی.

بین المللي سیندیزې حوزې ته د دې موضوع تغیر د ملګرو ملتونو د سیندیزو حوزو څخه د ګټې اخیستنې کنوانسیون له لارې قانون جوړونې په ترڅ کې وشو چې په دې اړه یې بین المللي حقوقو اصول رامنځته کړل. د دې سره په څنګ کې او د دې لپاره چې معقولانه او منصفانه ګټې اخیستنې په تړاو یو پل رامنځته شوی وي، دې کنوانسیون په ۸ ماده لومړي پرګراف کې د هیوادونو ترمنځ د

همکارۍ اصل رامنځته کړ:

اړوند سیندیزه حوزه کې پراته هیوادونه باید د حاکمیت برابرۍ او ارضي تمامیت او شریکو ګټو ته په پام د اړوند سیندیزې حوزې څخه د منصفانه او معقولانه ګټې اخیستنې او د حوزې ساتنې په برخه کې له یو بل سره همکاري وکړي. د ملګرو ملتونو بین المللي حقوقو کمیسون له نظره دا ډیره مهمه ده چې د یوې سیندیزې حوزې څخه د منصفانه او معقولانه ګټې اخیستنې او د حوزې ساتنې او په دې برخه کې د شکلي قواعدو( procedural rules) آسانه پلي کیدو په برخه کې د هیوادونو ترمنځ همکاري شتون ولري. د دې کنوانسیون ۸ ماده اومړی پرګراف په حقیقت کې په سند کې د ذکر شویو شکلي قواعدو لکه مشوره کول او مخکینی خبراوی() د هغو اقداماتو په اړه چې ممکن د سیندیزې حوزې میشت هیواد متضرر کړي، په اړه اساس او بنسټ تشکیلوي. په دې برخه کې د همکارۍ وجیبه یوه شکلي قاعده ده چې د منصفانه او معقولانه ګټې اخیستنې عملي کولو په برخه کې یو چوکاټ رامنځته کوي. سربیره پر دې لکه څنګه چې پورته ذکر شول د کنوانسیون ۵ ماده دویم پرګراف وایې چې غړي هیوادونه باید د سیندیزې حوزې څخه منصفانه او معقولانه ګټې اخیستنې او همداراز د سیندیزې حوزې ساتنې او پاملرنې په برخه کې معناداره ونډه ولري، او دا داسې یوه وجیبه ده چې دواړو اړخونو ته شاملیږي، هم؛ د سیندیزې حوزې څخه ګټې اخیستنې ته او هم د سیندیزې حوزې ساتنې او پاملرنې په برخه کې د هیوادونو همکارۍ مسؤلیت او وجیبې ته شاملیږي. دا شکلي قاعده د ماهوي اصل(منصفانه او معقولانه ګټې اخیستنې) مهم ملاترکونکې حیثیت لري او ډیره اړینه ده چې په همدې شرایطو(context) کې باید ورته پاملرنه وشي او تفسیر شي.

دا چې په کنوانسیون کې پورتنی موضوع په دې الفاظو او متن راغلې ده نو ترې دا نتیجه اخیستل کیږي چې د همکارۍ وجیبه(شکلي قاعده) په سیندیزه حوزه کې د اړوند هیواد له لوري د همکارۍ اقدامات او اعمال د هر یو غړي اعظمي ګټو خوندیتوب لپاره ډیر مهم دي او په ورته وخت کې د هیوادونو له لوري د سیندیزې حوزې ساتلو او پاملرنې برخې سره هم مرسته کوي. نو ځکه په سیندیزه حوزه کې یو هیواد حق لري چې اړوند شریک هیواد ورسره د حوزې څخه په منصفانه او معقولانه ګټه اخیستنه کې مرسته وکړي په ځانګړې توګه په دوه اړخیزه او څواړخیزه موضوعاتو کې لکه: د سیلابونو کنټرول، ککړتیا مخنیوی، وچکالۍ، بې ځایه کیدو، د خاورې خرابوالي مخنیوی، د اوبو څخه رامنځته کیدونکې امراضو مخنیوی، د ژوند چاپیریال ساتنه، د هایدرولیکي ساختمانونو په ساتنه او ... برخو کې د هیوادونو همکاري ډیره اړینه ده. په حقیقت کې د لا ښه والي او مؤثریت رامنځته کولو په موخه د همکارۍ ټول اړخونه او جزیات باید په دوه اړخیزو او څواړخیزو معاهداتو کې واضح شي چې دا ډول چلند د همدې کنوانسیون ۳ مادې پر اساس تشویق او د رامنځته کولو سپارښتنه یې کیږي. خو، د همکارۍ وجیبه چې د کنوانسیون په ۵ ماده دویم پراګراف کې توضیح شوې د هیوادونو له لوري د معاهداتو په رامنځته کولو پورې نه تړلې ده او نه هم پرې منحصره. نو ځکه ویلای شو چې د ملګرو ملتونو کنوانسیون کې مهم او د بحث وړ اساسي او بنسټیز اصل د همکارۍ اصل ده هم په ماهوي لحاظ او هم په شکلي لحاظ.

**نور بیا...**

[1]- UN Educational, scientific and cultural organization (UNESCO) international hydrological program, the impact of global change on water resources: the response of UNESCO's IHP(UNESCO,2011), at 1.

[2]- Phillips, D., Daoud, M., Mac Caffrey, S., Jindal, J.and Turton, A. transboundary water cooperation as a tool for conflict prevention and for the broader Benefit-sharing (EGDI, ministry for foreign affairs, 2006), at 8.

[3]- Esssentially equity among those presently living on the planet. See Mc Caffrey, S. C. the law of international watercourse(2nd edn, Oxford university press, 2007)at,404

[4]- Phillips et al. (note 12), at 11.

[5]- ILA, Helsinki Rules on the uses of the waters of international rivers in report of the 52nd conference (Helsinki 1966), Article IV.

[6]- Case concerning the gabcikovo-nagaymaros project(Hungary v Slovakia) Judgment 1991, ICJ Rep7 at 79(Gabcikovo).

[7]- Mc Caffery (note 12), at 465.

[8]- UN charter Article 1

[9]- Ibid, Article2(3)

[10]- International law commission, Draft articles on the law of non-navigational uses of international watercourses and commentaries thereto and resolution on transboundary confined groundwater' in ILC, Report on the work of its forty-sixth session' (May 2-July 22, 1994).

[11]- Ibid., at 97.

# خشکسالی و پیامدهای ناگوار آن بالای منابع آبی حوزه های دریایی افغانستان

نویسنده: انجنیر فایزالرحمن عزیزی

یکی از معضلات اساسی جهان امروز تغیرات اقلیمی وچالش های محیط زیستی است که علت عمده آن ناشی از فعالیتهای انسانی و گرمایش کره زمین می باشد. این موضوع در دونیم دهه اخیر نه تنهاباعث نگرانی مردم عام و دهاقین گردیده بلکه توجه کارشناسان وسیاستمداران جهان را نیز به خود جلب نموده است؛ به اساس تحلیل های احتمالی متخصصین این حوزه تغییراقلیم یکی از ده عامل کلیدی بشمار میرود که می تواند حیات بشر را در معرض خطر قراردهد .روی همرفته درسال های اخیر تغیرات اقلیمی نه تنها درافغانستان بلکه در تمام مناطق جهان ومنطقه تغییرات و خطرات ذیادی را به بار آورده است.


یکی ازپیامدهای منفی تغیرات اقلیمی تغیردرنوسانات بارندگی و افزایش قابل ملاحظه درجه حرارت میباشد .نوسان پارامترهای اقلیمی به طور گسترده بالای منابع آب تأثیرات مستقیم و غیر مستقیم داشته که درنتیجه بالای زندگی اجتماعی و اقتصادی مردم به ویژه در کشورهای که دارای اقلیم خشک ونیمه خشک میباشد تأثیرات فراوان به بار می آورد.

افغانستان در کمربند اقلیم خشک و نیمه خشک قرار داشته ، اثرات منفی تغیرات اقلیمی و تغییررژیم در پارامترهای متیورولوژیکی باعث تشدید وافزایش درپدیده های طبیعی چون سیلاب، خشکسال و کاهش منابع آب (سطحی و زیرزمینی) شده است.

خشکسالی بربنیاد اندک بودن بارندگی در یک دوره طولانی که باعث عدم توازن در مقدار آب میگیردد تعریف شده است (شکل۱) ،افغانستان نیزبا داشتن شرایط اوروگرافیکی متزلزل و اقلیم خشک و نیمه خشک آن، تاثیرات تغییرات اقلیم بالای منابع آبی از یک طرف، تغییرات و تشدید در نوسانات پدیده های طبیعی چون سیلاب و خشکسالی از طرف دیگر سالانه خسارات و اثرات منفی را بالای سکتورهای مختلف و زندگی مردم بجا گذاشته است .اقتصاد محلی مردم افغانستان که بیشتراز ۸۲ فیصد آن متکی به زراعت ومالداری هستند زیان و خسارات زیادی را ناشی ازپدیده خشکسالی متحمل گردیده اند و خشکسالی های که دردوره های مختلف وجود داشته اثرات منفی ناگواری را درسکتور زراعت، محیط زیست و منابع آبی بجا گذاشته که میتواند تأثیرات آن برای چندین سال ادامه داشته باشد و به زمان بیشتر نیاز است تا ذخایر آبی و حالت بیلانس آبی به حد نورمال بازگردد . افغانستان تقریبا همه ساله توسط خشکسالی های موسمی متضرر می شود، به ویژه مردم که به زراعت و مالداری مشغول اند خشکسالی باعث تهدید امرار معیشت، سطح نازل عواید و کاهش روند فقرزدایی می شود . خطرات خشکسالی در کناره های وادی هلمند شمال، شمال غرب ومناطق مرکزی نسبتاً بیشتر بوده ودرمناطق شرقی وشمال شرقی کشور به کمترین میزان آن دیده می شود ( شکل ۲) .خشکسالی درسال2018 م بیشتر از دو سوم کل جمعیت کشور (22 ولایت ازمجموع 34 ولایت )را متأثرساخت، که ازاین میان، 10.5 میلیون نفر شدیدا متضرر شده اند، درماه دسامبر 2018 از میان کل آسیب دیدگان، 13.5 میلیون نفر در مرحله" بحران "یا شدیدترین مرحله مصؤنیت غذایی قرار گرفته و 300,000 نفرازخانه های شان بیجا شده اند .




شکل ۱ : زنجیر وصل و چرخش خشکسالی بالای یکدیگر ( از کمبود باران تا کاهش جریان دریا ؛ نبود رطوبت خاک و مشکلات اقتصادی




شکل ۲ : نقشه حوادث افغانستان که نشان دهنده ساحات آسیب پذیر را از بعد خشکسالی نشان میدهد ( منبع : UNDP-2010)

به اساس آمار و ارقام تحلیل شده ریاست عمومی منابع آب خصوصا شاخص بارندگی تاریخی و فعلی با استفاده از روشها و ضرایب محاسباتی نشان میدهد اینکه پنج حوزه دریایی کشور در چهل سال گذشته دوره های مختلف خشکسالی را تجربه کرده است.حوزه دریایی هلمند دوره های کوتاه مدت و بیشتر خشکسالی های متوسط را از سال ۱۹۷۹ الی ۲۰۲۲ که ١٦ دوره متوسط را که احتمال برگشت این دورها بین ۳ الی ٥ سال محاسبه شده است نشان میدهد و سالهای نارمل به ندرت به نظرمیرسد همچنان دوره های شدید خشکسالی را ٤ بار در گذشته تجربه کرده است و احتمال بازگشت دوره های شدید کم آبی نیز بین ۱٥ الی ۲۰ سال میباشد که نشان دهنده که از دیدگاه میزان کاهش بارندگی تاثیرات خشکسالی بیشتر را متقبل شده است. حوزه دریایی پنج آمو از نظر بررسی دوره های خشکسالی در چهار دهه گذشته حالت متفاوت را نسبت به سایر حوزه های دیگر نشان میدهد. بر اساس ارقام های ارایه شده در بیشتر از چهل سال گذشته اکثرا در حالت متوسط خشکسالی قرارداشته است که دوره بازگشت این دوره ها بین ۲ الی ۳ سال با در نظرداشت وسعت دامنه آن تخمین شده است.

از جانب دیگر حوزه دریایی کابل دوره های خشکسالی آن در مدت چهل و دو سال گذشته ۱۰ دوره متوسط سالهای خشکسالی را تجربه کرده که فریکونسی بازگشت آن بین ۳ الی سال٥ با درنظرداشت وسعت دامنه آن بوده و ۱۰ دوره نورمال سال های آبی ( سال نورمال هایدرولوژیکی) را در مدت ذکرشده تجربه کرده است.

قابل تذکر است اینکه حوزه هریرود-مرغاب در بیشتر از چهار دهه گذشته ۱۳دوره حالت خشکسالی متوسط، ٤ دوره نارمل و ۲ دوره خشکسالی شدید را بین سال های ۱۹۷۹ الی۲۰۲۲ تجربه کرده استریا، احتمال دوره بازگشت و فریکونسی خشکسالی های متوسط آن به طور اوسط بین ۲ الی ٥ سال تخمین شده است و بازگشت احتمالی دوره خشکسالی شدید در حوزه متذکره بین محدوده ۱۰ الی ۱٥ سال وجود خواهد داشت.

هم چنان بر اساس نتایج ارقام های تحلیل شده حوزه دریایی شمال کشور در چهارد دهه گذشته ۹ دوره متوسط و ۳ دوره شدید خشکسالی را درجریان ٤۳ سال طی سال های ۱۹۷۹ الی ۲۰۲۲ تجربه کرده است که با درنظرداشت دامنه سطح خشکسالی در این حوزه دوره های متوسط در محدوده ( Range ) هر ۲ الی ۳سال و دورهای شدید خشکسالی در محدوده زمانی هر ۱٥ الی ۲۰ و دوره های شدید خشکسالی در محدوده ۲٥ الی ۳۰ سال تخمین گردیده است.

اثرات منفی خشکسالی طی نیم قرن (چهارنیم دهه) گذشته نه تنها کاهش در منابع آبی حوزه های دریایی را نشان میدهد بلکه تغیرات زمانی را در پیک های سیلابی و گراف های لحظوی آن نیز رونما ساخته است و از جانب دیگر در جریان سال های خشکسالی حوزه های دریای شاهد ذوب شدن سریع یخچالهای و ذخایر برف های دایمی بوده و خطرات شکست جهیل های یخچالی ( GLOF) را بیشتر ساخته است.رژیم دریایی در حوزه هریرود-مرغاب و هلمند با درنظرداشت مقایسه جریان آب دودهه اخیر و قبل از دهه ۱۹۸۰ کاهش چشمگیر را در منابع آب این حوزه نشان میدهد.

**پیشنـــهادات بمنـــظور مدیریت کاهش خشکسالی و اقدامات موثر در موقع سالهای خشکسالی :**

- اتخاذ تدابیر پیشگیرانه جهت مقابله با خشکسالی واثرات آن

- تقویت مدیریت آبریزه ها (Watershed Management)از طریق اعمار بندهای کوچک و متوسط ذخیروی جهت انحراف و ذخیره آب در حوزه های دریایی.

- تغذیه مصنوعی آبهای زیر زمینی (Artificial recharge)

- تطبیق برنامه جمع آوری آب باران (Rainwater Harvesting)

- تعـویض نوعیــت کشت و نوعیت آبیاری ( نباتات مقاوم در خشکی)

- ایجاد مرکز پیشگویی و هشداردهی سیلاب و خشکسالی ( Flood and Drought Forecasting Center)

- اهماهنگی میان ادارات ذیدخل جهت کاهش اثرات خشکسالی در سال های وقوع آن

- اقدامات سکتور های زراعت و صحت جهت وقایه و کاهش خطرات امراض ساری ناشی از خشکسالی.

**نهای سازی و تطبیق پالیسی ملی سیلاب و خشسالی که تمام فعالیت ها و اقدامات اساسی ( قبل از وقوع ، در جریان و بعد از وقوع خشکسالی)**

با تفکیک مسولیت ها و وظایف ادارات در آن ذکر گردیده است و این پالیسی قبلا طوری تخصصی و مسلکی از جانب وزارت انرژی و آب نیز ترتیب گردیده است.



CS CamScanner

# په ودانیو کې د انرژي تحفظ پالیسي په لنډو ټکیو کې!

لیکنه: ډاکټر فتح الله خالد

زموږ په هیواد کې تر ۹۴٪ پورې د برېښنا انرژي په ودانیو کې مصرفیږي؛ نو په کار ده چې ودانۍ د تحفظ او اغیزمنتیا د سټنډرونو مطابق جوړې شي، په همدې پار د اوبو او انرژي وزارت په ودانیو کې د انرژي د تحفظ پالیسي جوړه کړې، دغه پالیسي چې د انرژي په برخه کې یو له مهمو پالیسیو څخه ده، د اوبو او انرژي وزارت د انرژي معینیت د انرژي د پالیسیو ریاست له خوا یې مسوده ترتیب شوې، د یاد وزارت د څو ګونو کتنپلاویو له لوري له هره اړخه تر څېړنو وروسته د لوړ مقام له لوري تر تائید وروسته به د اوبو او انرژي وزارت د ذیدخلو ریاستونو ته رسماً واستول شي او همدارنګه د یاد وزرات په ویب سایټ کې به د وطنوالو په واک کې هم ورکول کیږي، په دغه پالیسي کې لاندې ټکي د بحث وړ دي:

د دغې پالیسي لیدلوری په ودانیو کې د انرژي د ترویج، عاملو، ساتنې او اغیزمنتیا ده.

ددغې پالیسي عمده اهداف په ودانیو کې د انرژي د مصرف څومره والی په نښه کوي، د دغې محاسبې د معلومولو لپاره یوه جامع میتودلوژي رامنځته کوي، د انرژي څخه د استفادې لپاره په ودانیو کې لازم شراط برابرول، د انرژي لیبلونو چمتو کول، د ودانیو د تودوخې او یخولو سیستمونو منظم تفتیش او څارنه، د سون توکو د مصرف کمول، د لګښتونو کمول، د چاپیریال ککړتیا کمول چې د سون توکو د مصرف له امله رامنځته کیږي.

همدارنګه دغه پالیسي په مجموع کې لاندې موضوعات تر بحث لاندې نیسي:

په ودانیو کې د برېښنا مصرف په اړه پوره معلومات او حل لارې وړاندې شوې دي همدارنګه په ودانیوکې د انرژي اغیزمنتیا په اړه د لاندې مواردو په اړه بحث شوی:

- ❖ د ساحوي پلان جوړونه
- ❖ د ودانۍ ډیزاین
- ❖ د ودانۍ سیستم ډیزاین HVAC { (ایرکندیشن(، رڼا او ګرمې اوبه}
- ❖ د امکان تر حده د نوي کیدونکي انرژي کارول
- ❖ د اوبو او فاضله موادو مدیریت
- ❖ د چاپیریال له پلوه د پاینښت لرونکي موادو انتخاب )د لوړ ریسایکل شوي مینځپانګې سره، د ګرندي نوي کیدونکي سرچینې او د کم اخراج احتمال ، او داسې نور)
- ❖ د کور د ننه چاپیریال کیفیت )تودوخې ساتنه، د لید او د هوا کیفیت)

د دغې پالیسي په تطبیق کې د اوبو او انرژي وزارت او د ذیربطو وزارتونو، خپلواکو ادارو، ښاروالیو، خصوصي شرکتونو د رول په اړه مفصل معلومات هم وړاندې شوي دي.

د ودانیو او چاپیریال په اړه لازمي لارښونې په کې شوې دي همدا شان د ساختماني موادو حرارتي هدایاتو په اړه تخنیکي بحثونه په دغه پالیسي کې واضح شوي دي.

د ودانیو د عایق کاري او د هغوی په ډولونو، کیفیت او کمیت باندې بحث شوی وروسته په ودانیو کې د انرژي پلټنې په اړه معلومات وړاندې شوي.

دغه پالیسي د انرژي د تحفظ لپاره حیاتي ارزښت لري، د دغې پالیسي له تطبیق وروسته به د هیواد د انرژي په سکټور کې د امنیت، د اسان سازۍ، د بې ځایه برق له مصرف د مخنیوي تر څنګ د چاپیریال ساتنې او اجتماعي او اقتصادي ستونزو د حل سبب هم ګرځي.

هیره دې نه وي چې د انرژي د پالیسیو ریاست دې ته ژمن دی چې د انرژي په برخه کې په لسګونو پالیسي، کړنلارې، قوانین ترتیبوي چې په دې سره به د هیواد د مهم صنعتي او حیاتي سکټور انرژي په برخه کې سهولتونه رامنځته شي.



CamScanner

# له پاکستان سره د اوبو د وېش ستونزې!

لیکنه: محمد خان « غورځنګ»

پاکستان هم د افغانستان هغه گاونډی دی، چې په سوېل ختیځ کې ۲٤۳۰ کیلومتره اوږده پوله او د کابل سیند په حوزه کې، د اوبو د وېش له کوم تړون پرته، گډې اوبه لري. دا چې په افغانستان او پاکستان دواړو هېوادونو کې د اوبو د کمښت ستونزه په پراخېدو ده، د گډو اوبو د وېش قضیې اهمیت او له کبله یې راتوکېدونکې ستونزې هم زیاتې شوې دي.

## په پاکستان کې د اوبو د کمښت ستونزه:

د کابل سیند حوزه د افغانستان په څېر پاکستان ته هم خورا زیات اهمیت لري؛ ځکه دغه هېواد له ډېر وخت راهیسې د اوبو د کمښت له فشار سره مخ دی. د ملگرو ملتونو د نړیوالو اوبو د پراختیا د راپور له مخې، په پاکستان کې د اوبو سرچینې یوازې په پینځو کلونو کې نژدې نیمایي کمې شوې دي. د دغه راپور له مخې، دا کچه د هر کس لپاره په ۲۰۰۰ میلادي کال کې ۲۹٦۱ متر مکعب څخه، په ۲۰۰۵ کال کې ۱٤۲۰ متر مکعب ته راټیټه شوې ده.

پاکستان د هغو هېوادونو په کتار کې هم دی، چې د کرنیزو موخو لپاره ترځمکې لاندې اوبو څخه تر ټولو ډېره استفاده کوي. د یوې سروې له مخې، په پاکستان، نیپال او بنگلدېش کې د ۷٥ سلنه سیمو د خړوبولو لپاره تر ځمکې لاندې اوبه کارول کېږي او له همدې کبله د یوې څېړنې له مخې، په پنجاب ایالت کې تر ۲۰۱٥ کال پورې په ٥ یا ٦ کلونو کې د ځمکې لاندې اوبو کچه ٥ تر ٦ متره پورې ښکته تللې وه . همدا راز د بلوچستان ایالت په ځینو برخو کې په تېره یوه لسیزه کې هر کال ۲ تر ۳ مترو پورې اوبه ښکته تللې دي او اصلي لامل یې هم په دغه هېواد کې د اوبو افراطي کارونه ده.

## پاکستان ته بهېدونکې اوبه:

دا چې په کابل سیند حوزه کې هم د اوبو د اندازه کولو فعال او د دواړو هېوادونو ترمنځ همغږی شوی سیستم او کره مواد نشته دي، پاکستان ته د بهېدونکو اوبو د کچې ارقام هم له یو بل سره توپیر لري. د ځینو تخمینونو له مخې، له افغانستانه پاکستان ته د اوبو جریان ۲۱,٥ کیلومتر مکعب دی او له دې جملې ۱٥,٥ کیلومتر مکعب یې له کابل سیند (په دې کې بیا ۱۰ کیلومتر مکعب یې له پاکستانه سرچینه اخلي) او ٦ کیلومتر مکعب یې هم د دغې حوزې له نورو شاخو لکه پنجشېر، گومل او کرم سیندونو څخه دي.

د پاکستان د اوبو او برېښنا د پراختیا ادراې د معلوماتو له مخې، افغانستان د کابل سیند له لارې د پاکستان ۱٦ تر ۱۷ سلنه پورې اوبه برابروي. خو د پاکستان له پولې سره څېرمه په وکه سټېشن کې د دغه سیند د تخلیې اوسط کچه ٦۰۸,٤ متر مکعب په هره ثانیه کې ده. دغې کچې ته په کتلو سره کابل سیند د سند حوزې ۱۹,۲ کیلومتر مکعب یا ۲۰ سلنه کلنۍ اوبه برابروي .

دغه راز د پاکستاني څېړونکو موندنې ښیي، چې له کابل سیند سره د سوات او جنډي سیندونو له یو ځای کېدو وروسته په نوښره سټېشن کې د پنځو کلونو په جریان کې ثبت شوي مواد ښیي، چې له جولای څخه تر اگست میاشتې پورې دغلته د اوبو جریان په هره ثانیه کې له ۱۰۰۰ متر مکعب څخه زیات دی .

## د پاکستان اندېښنې:

د کابل سیند حوزه په پراخه کچه د اوبو زېرمه کولو او برېښنا د تولید وړتیا لري. په دې حوزه کې د ۸ تر ۱۰ پورې داسې بندونو جوړولو وړتیا شته، چې په لوړه کچه د اوبو زېرمه کولو او برېښنا د تولید وړتیا ولري. پاکستان اندېښنه لري، چې د کابل سیند پر حوزه پراختیایي او زېربنایي کارونه به د پاکستان په ارخ کې د دې حوزې پر اړوندو سیمو منفي اغېزې وښندي . په ټوله کې خیبر پښتونخوا ایالت او په ځانگړې توگه د خیبر پښتونخوا ایالت درې سیمې (پېښور، نوشېره، چارسده) د کابل سیند د اوبو کمېدو له کبله اغېزمنېږي.

پاکستانی لوری اټکل کوي چې پر کابل سیند د پلان شوو بندونو له جوړېدلو سره به، د دغې حوزې د لاندېنۍ سیمې په توگه پاکستان ته د ورتلونکو اوبو کچه ۱۷ سلنه راټیټه شي او دا هغه څه دي، چې په طبیعي ډول په افغانستان کې د دغو پروژو د بشپړېدلو په تړاو د پاکستان اندېښنې له ځان سره لري. دا کمښت به داسې مهال وي، چې په تېرو څو لسیزو کې د اوبو د عمومي کچې د کمښت له کبله هم پاکستان ته د بهېدونکو اوبو کچه کال په کال کمه شوې ده او پاکستانی لوری اندېښمن دی، چې په افغانستان کې د اوبو د بندونو له جوړېدلو سره به په پاکستان کې تر کابل سیند لاندې سیمې د اوبو د کمښت له بحران سره مخ شي، کوم څه ته چې پاکستان چمتووالی نه لري. پاکستاني څېړونکي په دې اند دي، چې دا وضعیت به له کابل سره د اسلام اباد پر اړیکو ژورې اغېزې ولري .

له لویه سره د اوبو کمښت او په ورته وخت کې د پاکستان په ارخ کې د اوبو افراطي کارېدنه یوه مهمه اندېښنه ده. په دې حوزه کې د اقلیمي بدلونونو او د هوا د گرمېدو له کبله د واورو او یخچالونو کچه کمېږي، چې له کبله یې د واورې ورښت په بارانونو بدلېږي او ډېرې اوبه په هغو وختونو کې بهېږي، چې اړتیا یې کمه وي. څېړنې ښیي، چې په تېرو ٥۰ کلونو کې د پامیر او هندوکش غرونو کې د طبیعي یخچالونو کچه ۳۰ سلنه کمه شوې ده.

په افغانستان کې له جگړو او بې ثباتیو وراندې د کابل سیند پر حوزه ۷ بندونه جوړ شوي او د ۱۲ بندونو جوړول په پلان کې وه، په پاکستان کې بیا

دوه بندونه (ورسک او ګولن) د همدې حوزې پر اوبو جوړ شوي دي. پاکستان په ۲۰۱٤م کال کې په خیبر پښتونخوا سیمه کې د داسو بند طرحه هم نړیوال بانک ته د تمویل په موخه وړکړې وه، چې د نړیوال بانک لهخوا له افغان دولت سره له شریکولو وروسته د افغانستان له مخالفت سره مخ شوه.

دا چې افغانستان د اوږدو جګړو او بې ثباتیو له کبله د اوبو په ګډون د ډېرو سکتورونو د پراختیا او پرمختیا فرصت نه دی موندلی، اوسمهال کله چې په دې برخه کې ګام پورته کېږي، د اوبو د حوزې د لاندینیو هېوادونو اندېښنې راپاروي او هغوی د تېر په څېر د ورتلونکو اوبو تمه لري. افغانستان د خپلو نورو ګاونډیانو په پرتله لږ پرمختللی هېواد دی او د اوبو په برخه کې انکشافي کارونو ته جدي اړتیا لري. له بلې خوا دا باور چې هر هېواد کولای شي، په تېر کې د ترلاسه کړو اوبو تمه په راتلونکي کې هم ولري، په نړیوالو قوانینو کې رد شوې ده. په دې تړاو د ۱۹۹۲م او ۱۹۹۷م کلونو کنوانسیونونه حللارې وړاندې کوي، لکه له ګډو اوبو منصفانه او معقوله ګټه اخیستنه او داسې نور. د دې ترڅنګ، دا چې د کابل سیند په حوزه کې پراختیایي کارونه تر ډېره د برېښنا د تولید لپاره دي او د څمکو خړوبولو وړتیا یې کمه ده، پر لاندېني برخه یې اغېزې هم کمې دي.

## د افغانستان او پاکستان د اوبو د وېش مسئله:

له بده مرغه افغانستان او پاکستان تراوسه د کابل حوزې د اوبو په تړاو هېڅ ډول هوکړه یا کوم تړون نه لري. په دې تړاو یوازېنی هوکړهلیک په ۱۹۲۱م کال کې د افغانستان او بریتانیا ترمنځ دی، چې اوبو ته ډېره کمه اشاره پکې شوې ده. په دې معاهده کې بریتانیا هوکړه کړې، چې افغانستان کولی شي د تورخم د اوسېدونکو لپاره د یوې لولې له لارې اوبه واخلي او په مقابل کې افغانستان هوکړه کړې، چې بریتانیایي مامورین او له ډیورنډ کرښې هاخوا قبایل کولی شي له کابل سیند څخه د کښتۍ چلولو او اوبو لګونې لپاره کار واخلي.

له ۲۰۰۱م کال راوروسته که څه هم افغانستان او پاکستان د اوبو په تړاو د تړون لاسلیک کولو هڅه کړې؛ خو تراوسه په دې کار بریالي شوي نه دي. په ۲۰۰۳م کال کې د اوبو د وېش تړون لپاره د یوې ۹ کسیزې ګډې تخنیکي کمېټې هڅې د بېباوریو او اوسني وضعیت په اړه دقیقو معلوماتو د نشتون له کبله له ماتې سره مخ شوې. په ۲۰۰٦م کال کې نړیوال بانک هم یو ځل بیا د دواړو هېوادونو د هڅولو هڅه وکړه، خو پایله یې نه لرله. په ۲۰۱۳م کال کې کله چې پخواني ولسمشر حامد کرزي او لومړي وزیر نوازشریف د برېښنا د تولید لپاره د کونړ سیند د پراختیا د هڅو په تړاو یو هوکړهلیک لاسلیک کړ، تر یوه بریده په دې برخه کې پرمختګ ولیدل شو؛ خو د دغه توافق جزئیات هم پټ پاتې شول.

## د اوبو په تړاو د خبرو اترو پر وړاندې خنډونه:

د دواړو هېوادونو ترمنځ خرابې اړیکې او اوږدې بېباورۍ د اوبو په تړاو د همکاریو په لاره کې یو اساسي خنډ دی. دا بېباورۍ له ځلورو مشخصو ډګرونو خړوبېږي (له هند سره د افغانستان اړیکې، د ډیورنډ قضیه، د پښتونستان قضیه، او په اوس مهال کې ( د پاکستان په خوله) په افغانستان کې د یو شمیر وسلوالو شتون) .(چې د پاکستان دغه ادعا د افغان حکومت له خوا تل په کلکه رد شوې ده)

د اوبو نړیوال څېړونکي په دې اند دي، چې د اوبو په تړاو خبرو اترو او له ګاونډیو هېوادونو سره د یوه منصفانه تړون د لاسلیک کولو لپاره په اړوندو افغان ارګانونو کې وړتیا کمه ده، چې یو اساسي لامل یې د اوبو د قضیې او په تېره بیا له نورو هېوادونو سره د ګډو اوبو د مسائلو په تړاو د تخنیکي پوهې کموالی دی. د دې ترڅنګ د یوې سروې له مخې، په تېر وخت کې د افغانستان د اوبو په سکتور کې ډېری کسان د اړیکو پر بنسټ ګومارل شوي، نه د زدهکړو او تجربو له مخې. که څه هم له نورو هېوادونو سره د ګډو اوبو د قضیې لپاره د ۲۰۱٦م کال په مې میاشت کې بین الوزارتي کمیسیون هم جوړ شو، خو تراوسه یې هېڅ کومه رسمي غونډه نه ده لرلې. خو په بل اړخ کې پاکستان بیا د اوبو په سکتور کې د تخنیکي پوهانو او کدرونو له پلوه یو بډای هېواد دی. پاکستان له هند سره په ۱۹٦۰م کال کې د سند سترې حوزې د اوبو په تړاو یو هوکړهلیک لاسلیک کړی او د ګډو اوبو د وېش په برخه کې ښه وړتیا او تجربه لري.

د اوبو په برخه کې د څېړنو جدي کمښت او له نورو هېوادونو سره د ګډو اوبو په تړاو د کافي معلوماتو نشتون هم هغه ستونزه ده، چې په دې تړاو یې خبرې اترې له ننګونو سره مخ کړې دي. په ځینو مواردو کې د اوبو او انرژۍ او کرنې وزارتونو او د چاپېریال ساتنې د ملي ادارې ګډ معلومات باید متفاوت نه وی . له همدې کبله دقیق او د کارېدنې وړ معتبر معلومات، له پاکستان سره د اوبو په اړه د خبرو اترو لپاره خورا زیات اهمیت لري. په بل اړخ کې پاکستان که څه هم د کابل سیند حوزې په اړه کافي معلومات لري؛ خو د دوهاړخیزو همکاریو د کمزوري وضعیت له کبله یې له افغان لوري سره نه شریکوي.

د دې ترڅنګ له ګاونډیو هېوادونو سره د ګډو اوبو د مسئلې په اړه عامه پوهاوی هم په نشت حساب دی. عام ذهنیت اوسمهال دا دی، چې په افغانستان کې یا له افغانستان بهر ته بهېدونکې هر څاڅکی اوبه د افغانستان ملکیت دی. په دې تړاو عامه پوهاوی په ملي کچه د حکومت لهخوا د تصمیم نیولو لپاره د عامو خلکو ملاتړ ته اړتیا لري، کوم څه چې د عامه پوهاوي په نشتون کې په سم ډول نه شي ترلاسه کېدای. دا ستونزه هومره جدي ده، چې پخوانی لومړی وزیر محمد موسی شفیق « په ۱۳۵۰ هـ ش کال کی د ښاغلی ډاکټر عبدالظاهر کابینه کی د خارجه چارو وزیر او په ۱۳۵۱هـ ش کال کی د افغانستان صدراعظم په توګه دندی تر سره کړی او د هلمند سیند د اوبو په تړاو د تړون له لاسلیک کولو څخه وروسته ونیول شو او د ۱۳۵۲هـ ش د سرطان په ۲٦ نیټه د سردار محمد داوود د کودتا څخه وروسته د دونیمو کالو لپاره بندی او په ۱۳۵۴ هـ ش کال کی له بنده خوشی شو. د



CS CamScanner

بایوماس هغه ماده ده، چې د نباتاتو او حیواناتو څخه جوړه شوې او د لمر څخه زیرمه شوي انرژي لري. نباتات د لمر انرژي په یوه پروسه کې جذبوي چې د فوتوسنتز په نوم یادیږي. په نباتاتو کې کیمیاوي انرژي د دې بوټو په خوړلو سره حیواناتو او انسانانو ته لیږدول کیږي. بایوماس د نوي کیدونکي انرژي سرچینه ده ځکه چې نباتات او ونې تل وده کوي او ضایع یې پاتې کیږي.

لرګي، کرنیز محصولات، سرې او ځینې کثافات د بایوماس د سون (سوخت) توکو بېلګې دي. کله چې دوی سوځوي، په بایوماس کې کیمیاوي انرژي د تودوخې په بڼه خوشې کیږي. که تاسو د اور ځای لرئ، هغه لرګي چې تاسو سوځوی بایوماس دی. د لرګیو کثافات یا کثافات د بخار تولید لپاره سوځول کیږي ترڅو بریښنا تولید کړي یا د صنعتي کارونو یا کورونو لپاره تودوخه چمتو کړي.

د بایوماس سوځول نه یوازې انرژي خوشې کوي بلکه په نورو ګټورو انرژیو لکه میتان ګاز یا د لیږد وړ سونګ(سوخت) توکو لکه ایتانول او بایوډیزل ته هم بدل کیدی شي. میتان ګاز د طبیعي ګازونو یو له مهمو برخو څخه دی، مواد لکه کرنیز او د انسان فاضله مواد د بایوګاز په نوم یو ګاز خپروی. حبوبات لکه جوار او (ګنې)د ټرانسپورټ تیلو، ایتانول تولید لپاره استفاده کیدی شي. بایوډیزل یو بل ټرانسپورټ سونګ دی چې د خوارو له ضایعاتو څخه ترلاسه کیږي لکه د سبزیجاتو غوړ او د څارویو غوړ. د بایوماس سوخت د چاپیریال لپاره ګټې لري.

**دوهم: غیر تجدید کیدونکې انرژي:**

دا انرژي له ځمکې څخه د مایع، ګاز او جامد په بڼه ترلاسه کیږي. خام تیل اوس مهال یوازینی د سوداګریزو طبیعی فوسیل تیلو مایع دی. طبیعي ګاز او پروپان د ګاز او جامد ډبرو سکرو په بڼه دي. د ډبرو سکاره، خام تیل، طبیعي ګاز او

پروپان د فوسیل سونګ توکي ګڼل کیږي ځکه چې دوی د نباتاتو او حیواناتو څخه جوړ شوي چې میلیونونه کاله وړاندې یې ژوند کاوه. اتومي انرژي هم یو له هغو غیر تجدید وړ انرژیو څخه دی چې د فیزیل عناصرو لکه یورانیم څخه ترلاسه کیږي. البته، یورانیم فوسیل سونګ نه دی. دا د انرژۍ د نه تجدید وړ سرچینې ګڼل کیږي. ځکه چې دوی په لنډ وخت کې نشي ترلاسه کیدای.

**۱- سکاره:**

د ډبرو سکاره یو تور یا نسواري تور - د سوځیدنې وړمنرال دی چې د کاربن او هایدرو کاربنونو څخه جوړ شوی دی. ډبرو سکرو د نه نوي کیدونکي انرژي سرچینه ده ځکه چې دا د میلیونونو کلونو لپاره رامینځته شوی. د ډبرو سکرو انرژي د نباتاتو لخوا زیرمه شوي انرژي څخه ترلاسه کیږي چې په سلګونو میلیون کاله دمخه ژوند کاوه ، کله چې ځمکه په نسبي ډول په ځنګلونو کې پوښل شوې وه.

د میلیونونو کلونو لپاره ، د مړو بوټو یوه طبقه د لاندې اوبو او خاورې په طبقو پوښل شوې وه ، چې د مړو بوټو انرژي په لاره اچول شوې وه. د پورتنیو طبقو څخه تودوخه او فشار د نباتاتو کثافاتو ته په هغه څه بدلولو کې مرسته وکړه چې اوس د سکرو په نوم یادیږي. وروسته له دې چې ډبرو سکاره له ځمکې څخه ایستل کیږي، دا معمولا د لیږدونکي کمربند په واسطه د کان په ساحه کې د چمتو کولو تاسیساتو ته لیږدول کیږي. په دې تاسیساتو کې، د ککړتیا په له منځه وړلو سره، ، سلفر او نور ناغوښتل شوي مواد چې د سکرو کالوري ارزښت زیاتوي. اوس مهال د ډبرو سکرو اصلي ګټه د بریښنا تولید دی. د بریښنا په یوه فابریکه کې، ډبرو سکارهٔ سوځول کیږي ترڅو بخار تولید کړي. بخار توربینونه چلوي او بریښنا تولیدوي.

**۲- خام تیل :**

تېل د حیواناتو او نباتاتو له پاتې شوې (بقایا) څخه رامینځته شوی چې میلیونونه کاله وړاندې، د ډیناسور څخه مخکې په سمندري چاپیریال کې ژوند کاوهٔ. د وخت په تیریدو سره، پاتې شوی بقایا په ختو پوښل شوي، او د دې طبقو څخه تودوخه او فشار په هغه څه بدلوي چې موږ یې اوس تیل بولو. خام تیل یو تور ژیړ، بوی لرونکی مایع دی چې معمولا د ځمکې لاندې ژور موندل کیږي. ساینس پوهان او انجینران په هغه سیمه کې د ډبرو د نمونو په مطالعه کولو سره د تیلو بډایه سیمو لټون کوي. خام تېل له ځمکې څخه تر استخراج وروسته تصفیه خانې ته استول کېږي او له تصفیې وروسته بېلابېل مواد له خامو تېلو څخه د کارونې وړ نفتي توکو په توګه جلا کېږي. خام تیل په بیرل کې اندازه کیږي. د یو بیرل خام تیلو څخه د انرژي تولید لپاره شاوخوا ۱۹ ګیلن خام تیل کارول کیږي .

**۳- طبیعي ګاز:**

میلیونونه کاله وړاندې د حیواناتو او نباتاتو څخه پاتې شوني په غټو طبقو کې راټول شوي دي. د نباتاتو او حیواناتو دا تخریب کوونکي مواد د عضوي موادو په نوم یادیږي. د وخت په تیریدو سره خاوره او خټه په تیرو بدل شول. او دغه مواد یې پټ کړل او دا مواد د ډبرو لاندې پاتې شول. تودوخې او فشار ځینې دا مواد په سکرو او ځینې یې په ګاز بدل کړل. د طبیعي ګاز یوه مهمه برخه میتان دی، چې د یو کاربن اتوم او څلور هایدروجن اتومونو ترکیب دی. طبیعي ګاز سوځول او تولید شوې انرژي د تودوخې یا بریښنا تولید لپاره کارول کیږي.

**٤- اټومي انرژي(هسته ای)**

انرژي په تولیز ډول په هر هیواد کې د اقتصادي او صنعتي پراختیا او دوامداره پرمختګ یو له خورا

مهم فکتورونو څخه دی. انرژي د مختلفو سرچینو څخه ترلاسه کیدی شي، چې یو یې د اټومي تعاملاتو انرژي ده چې اټومي انرژي بلل کیږي. دا انرژي د دوو سرچینو څخه ترلاسه کیدی شي. یو یې د درنو اټومونو د مرکزي انحلال دی او بل یې د سپکو اټومونو د هستوي فیوژن دی. په اټومي فیوژن کې، درانه عناصر لکه یورانیم یا پلوتونیم د نیوټرون لخوا ویشل کیږي، او ځینې انرژي تولیدیږي ځکه چې ځینې نیوټرون خوشې کیږي. خوشې شوي نیوټرونونه په مناسبو شرایطو کې کارول کیدی شي ترڅو نور یورانیم رامینځته کړي، په دې توګه یو سلسله غبرګون رامینځته کیږي چې د پام وړ انرژي خوشې کوي. اټومي فیوژن د اټومي فیوژن د برعکس پروسې په توګه فکر کیدی شي، په کوم کې چې د سپکو اټومونو هسته د درنو اټومونو تولیدوي. اټومي فیوژن په هغه حالتونو کې د انرژي خوشې کیدو لامل کیږي چیرې چې د محصول د کور ټوله ډله د عکس العملونو له ټول وزن څخه کم وي. هغه څه چې ستورو ته پیښیږي او انرژي تولیدوي د اټومي فیوژن ترټولو ځرګند مثال دی.

**۵- اټومي ریکټورونه(اکټورونه)**

اټومي ریکټورونه هغه وسایل دي چې په کې د اټومي فزیشن پروسه په کنټرول شوي ډول ترسره کیږي. په اټومي ریکټورونو کې چې د اټومي بټیو (بریښنا ریکټورونو) لپاره ډیزاین شوي ، د یورانیم یا پلوټونیم اټومونه د نیوټرون لخوا ویشل کیږي ، او د اټومي فشن څخه تودوخه د کولنټ په نوم مایع ته لیږدول کیږي ، کوم چې د سونګ ریښو شاوخوا تیریږي او له هغه ځایه په مستقیم یا غیر مستقیم ډول تیریږي. د بخارد تولید لامل کیږي، پایله لرونکی بخار د بریښنا تولیدونکي توربینونو بدلولو لپاره کارول کیږي. دا پروسه هماغه پروسه ده چې په اټومي بټیو کې ترسره کیږي او د انرژي تولید لامل کیږي.

پاتې برخه په راتلونکې ګڼه کې...

# که مدیران بریالي وي، مدیریت بریالی کېدی شي

لیکنه: همت الله امین زی

معمولاً په کاري ترونونو یا د کار په پېژندنه کې هغه غوښتونکې موخې او پایلې چې مدیران یې باید په لېټه کې وي، ذکر کېږي او په ډاډه توګه د دوی د کړنو په اړه د راتلونکو پرېکړو لپاره معیار ګرځي. پایلې هغه څه دي چې مدیران یې په اړه حقوق تر لاسه کوي.

بریالي مدیران او د کار څښتن باید پوه وي، چې د څه ډول پایلو په لټه کې دي. په واقعیت کې همدا پایلې دي چې د وګړو د پرېکړې په اړه پانګه بلل کېږي او د کار په وروستیو کې ماته یا بریالیتوب ټاکي.

ډېری د کار څښتن او مدیران د خپلو غوښتنو اړوندو پایلو په اړه بې پروا کېږي او له اصلي تګلوري څخه وزي. زه په ښه ترتیب سره د مدیرانو لپاره د د لومړیتوبونو د مدیریت څرنګوالی په نامه کار ځایونه او کارلارې چمتو کوم. په دې کار ځایونو کې په پیل کې له دوی څخه غواړم چې د البومونو په لویو سینګاري کاغذونو کې خپله کاري طرحه ولیکي. ډېری د دوی د کاغذ ټول مخ د خپلو کارونو او دندو په څرنګوالي سره داسې ډکوي چې د کار په پای کې یې خپله هم نه ورته پام کېږي چې څه پلان یې جوړ کړی. وروسته له دوی څخه غواړم چې خپل لومړیتوبونه او د دغو لومړیتوبونو بنسټیزې پایلې چې دوی یې په لټه کې دي، د چلیپا یعنې د ضرب په علامې سره نښه کړي. دوی له ټولو یادو شوو کړنو او دندو څخه ۵ یا ٦ او یا له دې نه هم لږ رقمونه ټاکي. په دې ترتیب سره د کار په پایلو کې پوهېږي چې بنسټیزو موخو او لومړیتوبونو ته یې کافي وخت نه دی ورکړی او هڅه کوي خپل لوی مدیران چې دوی یې په ډېرو دندو او کارونو سره له خپلو بنسټیزو موخو څخه لرې ساتلي دي، ورتې چې البته حق لري. خو مدیران ډېرې دندې په لاندې دلایلو سره مني:

۱- نه غواړي «نه» ووایي.

۲- نورو ته د کار سپارلو په اړه ډاډ نه لري.

۳- مینه لري چې کار خپله ترسره کړي.

زه په دې کار ځایونو کې هڅه کوم مدیرانو ته ښوونه وکړم چې څنګه کولای شي د لویو مدیرانو په مرسته خپل ځان او نور ملګري له غیر اړینو دندو او کارونو څخه چې له بنسټیزو موخو او غوښتل شوو پایلو سره هېڅ اړیکه نه لري، وساتي.

ډېری مدیران فکر کوي چې لوی مدیران یې د نه بریالیتوب ټکي پېژني او په دې دلیل سره چې خپله یې بې شمېره وړې دندې دوی ته سپارلې دي او دوی د نه بریالیتوب لامل شوي دي، له غوښتنې سره سمو پایلو ته د نه رسېدلو ښښنه یې مني. خو اجازه راکړئ په صادقانه توګه تاسو ته ووایم چې دوی هېڅکله دا کار نه کوي! ځینې مدیران هم فکر کوي چې پانګه وال او د مالي چارو مدیران د دوی د کار نه بریالیتوب مني. خو باید ووایو چې پانګه وال یوازې غواړي چې واوري تاسو چې د کوم څیز ژمنه کړې ده، هغه ته رسېدلي یاستي. بریالي مدیران او د کار څښتن هغه کسان دي چې خپل ټول غم او فکر په غوښتونکو پایلو باندې اچوي او په دې لاره کې هېڅ او هېڅ څیز ته اجازه نه ورکوي چې دې پایلو ته د رسېدو په اړه د دوی مخنیوی وکړي. البته باید له یاده ونه باسو چې ټاکل شوو پایلو ته پاملرنه دومره وي چې کاري ډله مو یې اړین ګڼي. ځینې وخت خپل ملګري هغوی ته د یوازې کوچنیو او وړو کارونو په سپارلو سره خوښ وي.

ډېری وختونه هغه پانې چې زموږ په شاه او خوا کې دي په لومړیتوبونو باندې د تمرکز خنډ ګرځي. هېڅ تولیزه قاعده د دې لپاره چې څنګه خپلې پانې مدیریت کړو شتون نه لري. دا موضوع خپله د وګړي په کړنلاره پورې تړلې ده. ځینې وګړي که د ډېرو لوستو موادو په واسطه محاصره شي د هوساینې احساس کوي په داسې حال کې چې داسې وګړي هم شته چې یواځې د خلوت مېز (Privacy Table) د هغوی د افکارو د روښانتیا غولی جوړوونکی دی، مهمه ده چې د خپل تمایل او خوښې له سطحې څخه با خبره وئ او د پاڼو د تنظیم لپاره یوه سیستم ته پراختیا ورکړئ.

کېدی شي ستاسو انرژي، ځواک او حواس په غیر اړینو غونډو او له پای پرته په اداري کارونو لګېږي، هغه غونډې چې باید ګډون پکې وکړئ، وڅېړئ، له دې خپل کاري فرض پرته چې ستاسو شتون په غونډه کې اړین دی، له مسئولانو څخه په غونډه کې ستاسو د رول په اړه وپوښتئ، وبه وینئ چې ډېری وختونه ستاسو شتون اړین نه دی. همدارنګه هغوی وپوښتئ چې امکان یې شته غونډې له غرمې وروسته جوړې کړي تر څو سهارونه هغو کارونو ته چې پنځوونکی فکر غواړي ځانګړی کړو، په غونډو کې د یوه فعال ګډون کوونکي په سرلیک د غونډو د څرنګوالي او موخو غوښتونکي شئ.

البته که د اسنادو د لټولو لپاره ارزښمتن وخت له لاسه ورکوئ او مجبور یاستئ څو څو ځله پاڼې وسپړئ، د یوې نوې کړنلارې خپلول اړین دي، دا کړنلاره وآزمېيئ: که د سند د ځای ټاکل له ۳۰

ثانیو څخه ډېر وخت ونیو، باید سستم ته بدلون ورکړئ. د دې پر ځای چې پرېږدئ شا ته پاتې اداري کارونه ستاسو په مېز د بوختیا سبب شي د کاغذ هره پاڼه وڅېړئ او ځانګړې کړئ چې آیا باید هغه لرې کړئ، له هغې څخه استفاده کوئ او یا سملاسي هغه زېرمتون ته واچوئ.

د مدارکو زېرمتون ته کمه پاملرنه کولی شي تاسو بوخت وساتي، که څه هم شونې ده تاسو د مدارکو زېرمه کولو او لاسرسي لپاره په اجرایي کارکوونکو تکیه وکړئ، خو غوره ده چې ځان ته یو ځانګړی سستم ولرئ. په دې صورت کې که کوم ملګری په لاسرس کې نه وي، ځان د هغه سند د موندلو لپاره چې ډېره اړینه او سملاسي اړیتا ورته لرئ، ناکام نه وینئ. او همدارنګه ملګري مو وهڅوئ چې مدارکو ته د اسانه لاسرسئ او د وخت د نه لوټ کېدو په موخه له یوې سستماتیکې کړنلارې څخه استفاده وکړي.

د مدارکو د زېرمه کولو لپاره څو ټکي

پاڼو ته له زېرمه کولو مخکې نېټه ورکړئ، کوټه شوې پاڼې وڅېړئ، هغه پاڼې چې اړتیا نه ورته لرئ لرې کړئ او پر ځای یې نور بنستیز مدارک ځای پر ځای کړئ.

د نه خلاص شوو لیکونو پاکټونه چې ستاسو د کار په اړه نه دي لرې واچوئ مګر دا چې پوستي نښه یې ځانګړې وي.

د جاري چارو مدارک د فایلونو د چنې (د الماری رېک) په مخکینۍ برخه کې کېږدئ

د هرې کټګورۍ اړوند فایلونه په خپل ځای د الف با په ترورو سره سم کېږدئ

د هرې چنې ۱۰ سانتي متره فضا تشه پرېږدئ، دومره چې وکولی شئ اسنادو ته په اسانه توګه لاسرسي ولرئ.

د چنیو په مخ لېبل (پېژندپاڼه) ووهئ.

د هغو کارونو فایلونه چې په لاس کې مو دي او کار پرې کوئ خپل مېز ته نږدې کېږدئ.

کله چې له کوم فایل څخه یوه پاڼه اخلئ یوه نښه پرې ولګوئ تر څو پوه شئ چې پاڼه وروسته باید زېرمه شي او یا له منځه یوړل شي.

د فایلونو یو نوملړ جوړ کړئ.

زه له داسې پلورونکو سره مخامخ شوم چې وایي: «دا د پېرودونکي په غاړه ور اچوم» یا خدمت رسوونکي عوامل پېرودونکي ته وایي: «د وېش یا مالي چارو له مسؤول سره په دې اړه خبرې کوم». له ځانه وپوښتئ چې د دې وګړو چلند تاسو سره موخو ته د رسېدو په اړه مرسته کوي که نه؟ که ځواب منفي دي، مه پرېږدئ په دې ډول کار وکړي. خپلې موخې خپلې کاري ډلې ته روښانه کړئ خو موخو ته د رسېدو په اړه پرېږدئ چې دوی په آزاده توګه لارې وټاکي. البته منظور مې دا نه دی چې د خپلې پلورنې عوامل تشویق کړئ، توکي په هره بیه چې زړه یې غواړي وپلوري یا پرېږدئ چې مشر پخوونکی آشپز له ناغوښتو لومړنیو توکو څخه استفاده وکړي یا همدارنګه څرګنده ده چې اجازه نه ورکوئ چې انجینر ځینو ظوابطو ته په نه پاملرنې سره د وسایلو ساتنه وکړي چې نورو ته وېره رامنځ ته کړي. ویل شوی مطلب یوازې په دې مانا دی چې باید له خپل هوښیار ځواک څخه استفاده وکړئ او په نابریالیو پلانونو عمل ونکړئ. کېدای شي ستاسو کاري عامل یا مسؤول ټاکل شوو موخو ته د رسېدو په اړه بېله لار ولري خو دا د هغوی د کاري لارې د ناسمې په مانا نه ده. زه خپله په کرته کرته د داسې راکړې ورکړې شاهد وم چې د پلورونکي لارې زما د پېرودنې له لارې سره توپیره درلود. په دې سره راکړه ورکړه په ښه توګه ترسره

ده او پلورونکي له خپلې پېرودنې څخه خوښ دي. په دې موکو کې معمولاً له راکړې ورکړې نه وروسته له پلورونکي سره د هغه د کاري تګلورې په اړه خبرې کوم. بله بېلګه دا چې څه موده مخکې د کوټې د نیولو په اړه یوه هوټل ته تللی وم، چې د مالوماتي خونې مسؤول زما د اډکلن یو ډول عطر بوی خوښ شو او د هغه د نامه په اړه یې له ما څخه پوښتنه وکړه ترڅو خپل یوه ملګري ته د هغه په څېر یو وپېري. په واقعیت کې دا کار مراجعینو ته د ښه راغلاست په اړه د هغوی د کار یوه برخه نه وه. حتی ځینې مدیران د کار کوونکو او پېرودونکو تر منځ دا ډول صمیمانه اړیکې نه خوښوي. خو اجازه راکړئ تاسو ته یو څه ووایم. د پېرودونکي په سرلیک له دې چلند څخه خوښ شوم او همدا لامل شوه چې ورځ په خوښۍ سره پیل کړم. زما په اند دا ډول چلند د ځینو مالوماتي مسؤولینو له وچ او رسمي چلند څخه غوره دی، چې په لویو هوټلونو کې لیدل کېږي. ما د دوی له هوټل څخه د خوښۍ انګېرنه تر لاسه کړه او که زه د هغه هوټل مدیر وای په ښتینې ډول دا به همغه پایله وه چې غوښتله مې. بریالي مدیران خپلې غوښتونکې پایلې او موخې خپلې کاري ډلې ته څرګندوي او اجازه ورکوي چې هر څوک له خپلې لارې هغو پایلو ته لاسرسی پیدا کړي. البته دا په دې مانا نه ده چې هېڅ ځارنه او کنټرول یې باید ونکړي او له ټولو مسایلو څخه ناخبره وي. بلکې باید د خپلې کاري ډلې کړنې له نږدې څخه وګورئ او ملاتړ یې وکړئ. زما په اند د بریالیو مدیرانو او د کار د ښبنتنو دوې مهمې ځانګړتیاوې عبارت دي له:

۱- سپارل شوي کارونه او دندې ترسره کوي.

۲- دندې او کارونه له تر ټولو آسانه او کم فشاره لارې په استفادې سره ترسره کوي. دې مسلې ته ارزښت له هغې خوا دی چې که وغواړي

کارکوونکي کنټرول کړي او ټول اړ باسي چې کارونه ستاسو له تګلارې سره سم ترسره کړي، کولای شي ډېر فشاري واقع شي. له بلې خوا په دې کار سره د هغوی انگېزه کم رنگه کوئ او موخو ته لاسرسی ستونزمن کوئ.

لاندینیو ټکو ته په دې ترتیب سره امتیاز ورکړئ:

هېڅکله ۱ امتیاز

ځینې وختونه ۲ امتیازه

ډېری وختونه ۳ امتیازه

تل ٤ امتیازه

١. تل په وخت او چمتو غونډو ته ځم

٢. د غونډې په خونه کې دېوالي گړی په داسې ځای کې ځړندوم چې ټولو ته د لیدو وړ وي

٣. له هغو غونډو څخه چې ترتیبوم یې د نظر وړ پایله ترلاسه کېږي

٤. کومې کتنې چې ترتیبوم ډېری یې ترسره کېږي

٥. ترلاسه شوي لیکونه دفتر ته له رسېدو سره سم خلاصوم

٦. د خپل کار اړوند خپرونې په ورځپاڼو او مجلو کې مطالعه کوم

٧. د کار په محل کې هغو خپرونو ته چې نه یې مطالعه کوم نوملیکنه نه کوم

٨. له فکس څخه ترلاسه شوي لیکونه په هماغه ورځ لولم

٩. کله چې ملگري کار ترسره کوي مزاحمت یې نه کوم

١٠. هغو ملگرو ته چې غواړي له ما سره وگوري له مخکې وخت ټاکم

١١. د ورځې یوه گړی له ملگرو سره د کتنې لپاره ځانگړوم

١٢. کله چې په فکر کې ډوب یم د خونې ور بندوم

١٣. د متقابلو ټلفوني اړیکو په اړه په خپله ژمنه عمل کوم

١٤. زما ټلفوني خبرې لنډې دي

١٥. د ملگرو یا خپل مرستیال په مرسته سره ټولو ټلفوني اړیکو ته له ځواب ورکولو څخه ځان ساتم

١٦. له مخکې ټاکم چې څو ټلفوني اړیکو ته کولی شم ځواب ووایم

١٧. د کورنیو یادداښتونو له ترسره کولو سره سم هغه سملاسي او په نظري ډول گورم

١٨. کورني یادداښتونه وروسته په بشپړ ډول لولم.

١٩. تل مې پام دی چې مېز مې بوخت او گډوډ نشي.

٢٠. د کار میز مې تل مرتب او پاک دی.

٢١. هغه کارونه چې خپله کولی شم ترسره یې کرم خپلو ملگرو ته سپارم.

٢٢. د هغو کارونو په اړه چې نورو ته یې سپارم لازمي څارنې ترسره کوم.

٢٣. له ملگورو څخه غواړم چې کاري پلان یې له یوه مخ څخه ډېر نه وي.

٢٤. د سازمان د مالوماتو تر لاسه کولو په سستم کې د مالوماتو ترلاسه کوونکی ځانگړوم.

٢٥. د تفکر اوعمل هرې کړنې ته متناسب وخت ځانگړی کوم.

٢٦. د خپل ورځني کار یو لړ چمتو کوم.

٢٧. زه په ځانگړوگړیو کې کارکوم نه له هغې نه ډېر.

٢٨. هڅه کوم له کارکوونکوسره نېغه اړیکه ولرم.

٢٩. د خپلو ملگرودهریوه مثبتو ځانگړتیاوو ته سخته پاملرنه کوم.

٣٠. د ټکنالوجی له وروستیومالوماتو څخه پوهاوی لرم.

٣١. ترلاسه شوي برېښنالیکونه زېرمه او وروسته یې مطالعه کوم.

٣٢. په کمپیوټر کې د شته فایلونو بیا کتنه کوم.

که وینئ ستاسو د وخت ډېره برخه په داسې کارونو تربېږي چې لومړیتوبونو ته د رسېدو لپاره مرسته نه کوي یوې نوې او جدي ځېړنې او شننې ته اړتیا ده. شاه ته وگرځئ او هغه فکتورونه چې د وخت د بې ځایه تېرېدو سبب کېږي وپېژنئ. د داسې لارو په لټه کې شئ چې کولی شي دا خنډونه له منځه یوسي او هاند وکړئ چې کارونه په وړ توگه د کاري خواکونو تر منځ ووېشئ.

کېدی شي ستاسو ډېری وخت د لیکونو په لوستلو او هغوی ته په ځواب ویلو په ځانگړې توگه برېښنالیکونو ته په ځواب ویلو تېرېږي. له خپلو ملگرو څخه وغواړئ چې د ټولو لیکونو مخلیک تاسو ته وانستوي، مگر هغه لیکونه چې په نېغه توگه ستاسو اړوند دي.

همدارنگه هغوی ته ووایئ چې لیک ته ځواب نه وایئ مگر داچې په ربښتینې توگه ځواب ته اړتیا ولري. وراندیز وکړئ چې د لیک استوونکي له جزئیاتو څخه ډېر ترلاسه شوي لیک ته په زماني چوکاټ کې په سم ځواب ورکولو باندې تمرکز وکړي او تر ټولو مهمه دا چې د لیکونو د ځېرلو لپاره یوه قاعده جوړه کړئ. د بېلگې په ډول په ورځ کې له یو ځل ډېر د لیکونو په لور مه ځئ. البته په ځینو حالاتو کې دا چارې ناشونې دي. خو دا اصل وټاکئ تر څو ډاډ پیدا کړئ ستاسو د آندونو لړی تل له خنډونو سره نه مخ کېږي. ځینې وخت تر ټولو ساده بدلونونه یوه ژوره اغېزه لري.



CamScanner

# زلزله

ليکنه: مـحـمـد خان « غورځنگ»

( لومړۍ برخه )

زلزله يوه طبيعي او اندوجيني پديده ده، چې د ځمکې په قشر کې لړزې را منځته کوي او د ځمکې د داخلي قواوو انعکاس راښيي. کيداى شي چې زلزله د خارجي عواملو لکه ړنگيدل( سقوط)د موجونو شدت او د انساني کړنو او فعاليتونو ( چې مصنوعي زلزله بلل کيږي ) له مخې هم رامنځته شي

د زلزلې پديده په پراخه کچه د ټولو ښارو ، سمندرونو په تلونو او بحيرو کې تر سترگو کيږي. زموږ په خاورينه کره ( ځمکه) کې د زلزلو شمېره په يو کال کې تر څو سوو زرو پورې رسيږي چې په منځني ډول يو او يا دوه زلزلې په يوه دقيقه کې پېښيږي او دا زلزلې د خپل قوت او زور له مخې ډول ډول دي، چې د هغوى شمېره يوازې په دقيقو او حساسو ( سايزموگرافونو) سره کولاى شو، چې ثبت او يو شمېر يې خپله د خلکو له خوا هم حس کيدلاى شي.

په طبيعت کې زلزلې په غير منظم ډول سره منځته راځي، چې په يوه ساحه کې کيداى شي شديده وي؛ او په نورو ساحو کې دومره زوروره نه وي او يا هيڅ د حس کولو وړ نه وي.

زلزلې د پېښېدو په علت په تکتونيکي او اور غورځوونکو زلزلو ويشل کيږي، چې لومړۍ ډله يې د ځمکې په ژورو ( درزونو او چاودونو) کې د موادو د حرکت په برسې، او دوهمه ډله بيا د اور غورځوونکو په فعاليت پورې اړه پيدا کوي.

د زلزلې تشريح کول يوه ډېره پيچلې موضوع ده؛ ځکه چې دا ټوله پروسه د څو ثانيو په ترڅ کې را منځته کيږي او انسان نشي کولاى ټول رنگارنگ پېښ شوي تغيرات چې په طبيعت کې رامنځته کيږي وڅيړي؛ ولې! معمولاً ټوله پاملرنه هغو شيانو ته چې د تخريب په پروسه کې منځته راځي، اوړي.

څېړونکي دې پايلې ته رسيدلي دي، چې د زلزلې د موجونو (څپو) سرچينه په ځينو سيمو کې تر لس او ۱۵ کيلومترو پورې منځته راځي چې همدا مرکزي ژوروالى د زلزلې د محراق « هايپوسنتر» په نوم ياديږي، چې د زلزلو دا هايپوسنترونه نه يوازې د ځمکې سطحې ته نږدې، بلکې د قارو په شاوخوا او حتى د سمندرونو په تلونو کې هم منځته راځي، چې د څپو ( موجونو) د جوړولو لامل کيږي، چې د سونامي په نوم ياديږي. د سونامي د څپو سرعت د سمندرونو د ژوروالي په نظر کې نيولو سره له ۲۰ تر ۳۰۰ مترو په ثانيه کې او د څپو لوړوالى يې بيا تر ۳۰ مترو پورې اټکل شوى دى.

کله چې هايپو سنتر د اوسيدلو په سيمو کې شتون ولري، بيا نو زلزله له خپله ځانه يو ستر ناورين رامنځته کوي دا ډول ورانونکې زلزلې په جاپان، چين، چيلی ، فيض آباد او داسې نورو سيمو د زلزلو په تخريب کې راځي.

### د زلزلې ماهيت:


اندوجيني زلزلې په ځانگړې ټکانونو او يا په ټوله کې امکان لري، چې د ځمکې په ژورو کې کومې چاودنې منځته راځي، چې د هغوى ماهيت تر اوسه پورې ندي مالوم شوي. زلزلې د محراق د ژوروالي په پام کې نيولو سره په لاندې څلورو ډولونو سره ويشل کيږي.

۱ــــــــ سطحي زلزلې چې د محراق ژوروالى يې تر ۱۰ کيلومترو څخه کم وي.

۲ـــــــــ نورمالې زلزلې چې د محراق ژوروالى يې له ۱۰څخه تر ۶۰ کيلومترو پورې وي.

۳ـــــــــ منځنۍ زلزلې چې د محراق ژوروالى يې له ٦٠ څخه هر ۳۰۰ کيلومترو پورې وي.

۴ـــــــ ژورې زلزلې چې د محراق ژوروالى يې له ۳۰۰ څخه تر ۸۰۰ کيلومترو پورې وي.



۱ - ابي سنتر ، ۲- د پليستوسازتي ساحه ، ۳- ايزوسايزمالي موجونه ، ۴- د مساوي زلزلي د شدت خطونه ، ۵- سايزميکي شعا عي .

منځنـۍ زلزلې د ځمکې مخ ته د ډېرو تخريباتو لامل کرځي، د زلزلو ځانگړتيا نه يوازې د جانون په موقعيت پورې، بلکــې په هغه چاپيريال پورې چې زلزله پکې را منځته کيږي، ډېره اړيکه لـري همدا لامل چې يوه عالم ( گارشکوف) زلزلې په لاندې دريو ډولونو ويشلې دي:

۱ــــــــ پورتنۍ ( آبی سايزمي) زلزلې چې د ځمکې په رسوبي سيمو کې منځته راځي.

۲ـــــــــ متوسطې يا منځنۍ ( ميزو سايزمي) زلزلې چې د ځمکې په بازالتي او گرانيتي طبقو کې را منځته کيږي.

۳ـــــــ هايپو سايزمي زلزلې چې د ځمکې د هستې په پوښ اويا مانتيه کې رامنځته کيږي.

هايپوسنتر يا محراق د انرژي د ازادولو په پايله کې په نږدې ډېرو باندې لوړ او زيات فشار واردوي، چــې په لومړيو کې د انقباض او بيا وروسته د انبساط لامل کېږي، چې همدا عمليه د ذراتو د اهتزازي حرکت سبب او سايزميکي موج رامنځته کوي، چې د هايپو سنتر څخه هر لورې ته خپريږي او دا سايزميکي موج ( څپه) د فاصلې د ډيروالي په پام کې نيولو سره، کمزوري کېږي؛ ځکه چې د زراتو کوم چې په ليرې فاصله کې پراته

دي، د لړزیدو لمن کموي د ذراتو آعظمي لړزه د موج د انتشار په ساحه کې صورت نیسي او به دې ځای کې موجونه چې د طولي موجونو (P)همدارنگه د انقباضي او انبساطي موجونو په نام هم یادېږي، پراخوالی پیدا کوي او د انتشار په لوري کې اساسي ذرات ورو ورو په حرکت راولي یعنې پر طولي موجونو عمود وي او دا څپې ( موجونه ) د عرضي (S) څپو یا د جسم د تغیر څپو په نوم هم یادېږي.

د یادونې وړ ده، چې لومړی طولي څپې د ځمکې سطحې ته رسیږي او د هغوی په تعقیب بیا عرضي څپې ښکاره کیږي او شا وخوا خپرېږي د موجونو د انتشار مسیر(اوری) د موج سایزمیکي شعاع بلل کیږي، چې ددې سایزمیکي موج سرعت د موادو په فزیکي خواصو ( ځانگړتیاوو) پورې اړه پیدا کوي یعنې په هره اندازه چې د موادو (محیط) ارتجاعیت ډیر وي، په هم هغه اندازه د سایزمیکي موجونو سرعت هم ډیر وي . طولي موجونه د ځمکې له تولې کرې څخه د ۲۲ دقیقو په اوږدو کې، تیریږي.

لکه مخکې چې وویل شول د زلزلې قوه د ډبرو په خواصو پورې چې د هغوی څخه تیرېږي، سایزمیکي موجونو سرعت د تیریدلو په وخت کې په نرمو او پستو ډبرو کې د کلکو ډبرو په نسبت ژر سستیږي.

د ځمکې په مختلیفو سیمو کې زلزله یو وخت منځته نه راځي، دا پیښه په مختلیفو وختونو کې د زلزلې د موجونو په رارسیدلو پورې اړه لـري.

**د زلزلې انرژي او قوه ( دوهمه برخه)**

د زلزلې د زیانونو سره د مبارزې لپاره د زلزلې د قوې مالومول ډیر اړین دی. د زلزلو ډله بندي په ۱۶ میلادي پیړی کې د لومړي ځل لپاره رامنځته شوه د سترو محققینو له لوري زلزلې په لسو او ۱۲ گروپونو وویشل؛ چې په هر گروپ کې د زلزلې قوه په بال اندازه شوی، بال یوازې د زلزلې نسبي قوه ښکاره کوي.

**د زلزلې مطالعه او عملي اهمیت یې**

د زلزلې مطالعه ډېره مهمه ده، ځکه چې زلزلې د بشر لپاره هلاک کوونکې ده، نني علوم لا ندي توانیدلي چې د زلزلې د قوې له مخې چې کوم وراني او هلاکتونه منځته راځي، له منځه یوسي او یا یې کم کړي؛ اما کولای شي کوم زیانونه چې بشر ته اوړي، څه نا څه مخه ونیسي او یا یې کم کړي ددې تولو ستونزو حل کول په لاندې ډول سره دي:

۱ – د هغو سیمو په نښه کول چې هلته د زلزلو د پیښېدلو امکان وي.

۲ -په مختلیفو سیمو کې د زلزلې د احتمالي قوې تعینول.

۳ -د زلزلو پر وړاندې د زلزلې د قوې سره برابر د ودانیو جوړول.

۴ -د مرگونو زلزلو د پیښېدو یا منځته راتلو په اړه وړاندوینه ترڅو خلک وکولای شي چې ځانونه وژغوري.

نني عصري علوم په دې لټه کې دي چې پورتني یادول شوي مسایل حل کړي اوس څېړونکي او پوهان کوښښ کوي چې د ځمکې د تکتونیکي جوړښت د برسي او د مخکینیو پیښې شویوو زلزلو اپي سنترونه دقیقاً مالوم کړي او برسیره پر دې هره څومره چې د تیرو زلزلو په اړه پوره او کره مالومات ولرو او د ننیو زلزلو قوه دقیقاً ثبت شي په هم هغه اندازه به د راتلونکو زلزلو د قوې په اړه، پوره مالومات ولـرو.

لکه چې مخکې یادونه وشوه، چـې ډېـرې زلزلې د ځمکې په تکتونیکي شرایطو پورې اړه لـري؛ او له همدې مطالعې څخه کولای شو، چې په سیمو کې د احتمالي زلزلو د پیښېدو ساحې په گوته کړو او په نقشو کې د راتلونکو پیښېدونکو زلزلو ساحې په نښه کړو او د زلزلو اعظمي بال وښودل شي.

دلته اړینه ده، چې خپله زلزله خلکو ته زیانونه نه اړوي، بلکـې همدا بې بنسته او پخپل سر وداني دي چې اولسونه ته د همدې ودانیو د چپه کېدو پر مهال زیانونه ور اړوي.

تجربې ثابته کړې ده، چې د زلزلې د پیښېدلو سیمو کې کولای شو، چې داسې وداني جوړې کړو، چې د زلزلې پر وخت له خپله ځانه مقاومت ولري له هرڅه نه وړاندې اړینه ده، چې د خاورو خواصو ته چې ودانیو په بنستونو کې ورڅخه کار اخلو، پاملرنه وشي د ودانیو د جوړښت پر مهال باید له کلکو ډبرو څخه کار واخیستل شي. نرمې او کم ضخامت لرونکې طبقې چې سستې وي لکه جغله سنگ( کریر) شگې لرونکې خاورې او داسې نورې چې اوبه لرونکې او ښوونکې وي، د ودانیو د جوړولو لپاره وړ نه دي. تجربې ثابته کړې ده، چې دوه ډوله وداني د زلزلو پر وړاندې ښه ازموینه ورکړې ده.

لومړی ډول هغه وداني د لرگو څخه جوړې شوې وي، او باموته یې یو له بل سره ښې او ټینگې اړیکې ولري، چې تېرو زمانو کې خلکو په کلیو کې خپل کورونه یو له بل سره نښلول ځکه چې دا ډول ودنی د ټوکریو په شان د زلزلې پر وړاندې مقاومت لـري.

دوهم ډول وداني په ښارونو او کلیو کې رواج دي، چې د ساړه اقلیم سره سرو کار لـري کوم مواد چې هلته کارول کیږي اوسپنه او کانکریټ دي او بنستونه هم خورا کلک وي د وداني لاندینی برخه باید ښه کلکه وي.

باید یادونه وشي چې د زلزلې پر وړاندې د ودانیو د جوړولو پر وخت د اور لگیدلو ته زیاته پاملرنه وشي او د اور لکیدنې پر ضد لازمې چارې هم په نظر کې ونیول شي او بله چې خورا اړینه برینښي دا دی چې خلکو ته د زلزلو د زیانونه په اړه پوره، کره او بشپړ( ټولپوهنه) مالومات ورکړل شي.*

## د افغانستان برېښنا شرکت او ترکمن انرګو ( افغانستان او ترکمنستان) ترمنځ د برېښنا د تورید تړون



د افغانستان برېښنا شرکت او ترکمن انرګو ( افغانستان او ترکمنستان) ترمنځ د برېښنا د تورید تړون د ۲۰۲۳ م کال لپاره د افغانستان اسلامي امارت د اوبو او انرژي وزارت د وزیر الحاج ملا عبداللطیف منصور پهٔ شتون کې تمدید او رسماً د افغانستان برېښنا شرکت د رئیس ملا محمد حنیف حمزه او د ترکمن انرګو د رئیس لخوا د ترکمنستان په پلازمېنه عشق اباد کې لاسلیک شو.

## د اوبو او انرژي وزارت سرپرست وزیر هرات ولایت ته پهٔ سفر ولاړ



د ۱.۱.۱ د اوبو او انرژي وزارت سرپرست وزیر الحاج ملا عبداللطیف "منصور" د خپلو ولایتي سفرونو په لړ کې نن د جمعې په ورځ د هرات ولایت ته ورسېده. نوموړي لمړی د جمعې لمونځ له ګڼ شمېر هیوادوالو سره یو ځای ادا کړ، له لمانځه ادا کولو وروسته یې له عامو هیوادوالو سره په ازاده فضا کې احوال پرسي او خبرې وکړې. وروسته وزیر صاحب په داسې حال کې چې د وزارت د مقام د دفتر عمومي رئیس قاري محمد عبدالعزیز "عزیز" او د هریرود مرغاب سیندیزې حوزې عمومي رئیس مولوی سیدعبدالسلام اغا هم حضور درلود د هرات له والي محترم مولوي صاحب نوراحمد اسلام جار سره ناسته تر سره کړه چې په ترڅ کې یې دواړو لورو د هرات په ولایت کې د اوبو د مدیریت او انرژي د تولید په هکله مفصلې خبرې او د اندونو تبادله وکړه، ښاغلي وزیر صاحب د هرات محترم والي او د سیندیزې حوزې رئیس ته ډاډ ورکړ چې د متوازن انکشاف او شته امکاناتو په چوکاټ کې به د دوی د ستونزو د حل په هکله اقدامات وشي.



CS CamScanner

## سرپرست وزارت آب و انرژی از سفر رسمی خویش به کشور ترکمنستان دوباره به کابل برگشت



محترم ملا عبداللطیف منصور سرپرست وزارت آب و انرژی همراه با محترم الحاج مولوی محمد حنیف حمزه، رئیس اجرائیوی د افغانستان برشنا شرکت و هیئت همراهش که به منظور تمدید قرارداد برق، توسعه و گسترش همکاری مشترک، به کشور ترکمنستان سفرنموده بودند از این سفر رسمی دوباره به کابل برگشتند.

سرپرست وزارت آب و انرژی؛ تمدید قرارداد برق با کشور ترکمنستان، تکمیل نمودن پروژه لین KV۵۰۰، اعمار سب استیشن نورالجهاد و هماهنگی های لازم به منظور تطبیق پروژه TAP را از مهمترین اهداف این سفر خواند.

آقای منصور یادآور شد که طی این سفر قرارداد برق با کشور ترکمنستان برای سال ۲۰۲۳م تمدید شده و همچنان در مورد تطبیق پروژه های متذکره نیز از سوی کشور ترکمنستان اطمینان داده شده است.

قابل ذکر است که با تکمیل شدن لین انتقال ۵۰۰ کیلو ولت و ایجاد سب استیشن نور الجهاد مقدار برق که از کشور ترکمنستان به افغانستان وارد می شود ۱۱۰ میگاوات دیگر افزایش خواهد یافت و همچنان با تطبیق پروژه لین انتقال ۲۲۰ کیلوولت پروژه TAP و لین ۵۰۰ کیلوولت که از مسیر افغانستان به پاکستان می رود با شندگان چندین ولایت افغانستان از انرژی برق مستفید خواهند شد.

## د انرژۍ د تولید بندونو د پروژو د پلي کولو په برخه کې د ګډې همکارۍ په موخه د ۷۷ ترکي شرکت له استازي سره د همغږۍ ناسته ترسره شوه



د اوبو او انرژۍ وزارت د اوبو معین ښاغلي مجیب الرحمن عمر آخندزاده د خپل کار په دفتر کې د ۷۷ ترکي شرکت له استازي ښاغلي بوراک اونسال سره د سروبي ۲ بریښنا بند، د کجکي بند او د کندهار ولایت په ارغستان ولسوالي کې د دهلې بند د پروژو په برخو کې د ګډو همکاریو په هکله بحث او د اندونو تبادله وکړه.

په یاده لیدنه کې، د ۷۷ ترکي شـــرکت استازي د یادو پروژو د پلي کولو په برخه کې د مطالعاتو او نورو تخنیکي همکاریو د ترسره کولو په موخه د خپلو فعالیتونو په هکله اړین معلومات وړاندې کړل.

د اوبو ښاغلي معین د یاد شرکت د استازي د معلوماتو تر څېړلو وروسته د چارو د غوره پرمخ وړلو په پار لازمې لارښوونې وکړې او پر لازیاتو همغږیو باندې یې ټینګار وکړ.

## پروژه اعمار بند سریزه و دیوار محافظوی تورتکل و بلوچ به ارزش بیش از پنج میلیون افغانی در ولایت فاریاب به بهره برداری سپرده شد



پروژه اعمار بند سریزه و دیوار محافظوی تورتکل و بلوچ به ارزش پنج میلیون و دو صد و هفتاد هزار (۵۲۷۰۰۰۰) افغانی در ولسوالی شیرین تگاب ولایت فاریاب با حضور داشت روئسا و کارمندان حوزه فرعی دریایی شیرین تگاب میمنه، ریاست اقتصاد و انکشاف دهات و بزرگان قومی ولایت متذکره به بهره برداری سپرده شد.

قابل یادآوری است که پروژه مذکور با ده(۱۰) فیصد سهم مردمی از طرف وزارت امور خارجه کشور ناروی تمویل گردیده است.

این بند قابلیت آبیاری پنج هزار (۵۰۰۰) جریب زمین زراعتی را دارد که هفده هزار(۱۷۰۰۰) فامیل از آن مستفید خواهند شد.

## د لاندني هريرود سينديزې فرعي حوزې رئيس د يونسيف دفتر له استازي سره وکتل



د لاندني هريرود سينديزې فرعي حوزې رئيس ښاغلي مولوي سردار ولي مزمل د خپل کار په دفتر کې د يونسيف دفتر له استازي سره وکتل.
په ياده ليدنه کې، د لاندني هريرود سينديزې فرعي حوزې د کاري ساحو، د ورسپارل شويو دندو ، د اوبو او اوبولګولو له لارې د عمومي حفظ الصحې په برخه کې د ياد رياست د طرحو او فعاليتونو په هکله خبرې اترې وشوې.

د لاندني هريرود سينديزې فرعي حوزې رئيس د شته امکاناتو په پام کې نيولو سره د اوبو او اوبولګولو فعاليتونو پورې اړوند لارو چارو له لارې د عمومي حفظ الصحې د رعايتولو په موخه خپل چمتووالی څرګند کړ او همدارنګه د ياد دفتر استازي هم په ياده برخه کې د همکارۍ ژمنه وکړه.

### په خوست ولايت کې د خادمې کانال پروژې چارې د ١٤ ميـــليونه افغانيــــو په ارزښت پرانيستل شوې

د خوست ولايت په عليشيرو ولسوالي کې د خادمې کانال او د ۲۱ ورخونو جوړولو پروژې چارې د څوارلس (١٤) ميليونه افغانيو په ارزښت د شمل خرم سينديزې فرعي حوزې رئيس انجنير زين الله نسيمي، د اړيکو دفتر مسئولينو او يو شمير سيمه ييزو مسئولينو او قومي مشرانو په شتون کې پرانيستل شوې.
ياد کانال د ١٣٧٥ مترو په اوږدوالي د اړيکو دفتر په مالي ملاتړ د شمل خرم سينديزې فرعي حوزې په تخنيکي همکارۍ سره رغول کېږي چې ١٣٢٠ جريبه کرنيزه ځمکه به خړوبه کړي.
په نوموړې پروژه کې ګڼ شمير سيمه ييزو کارګرانو ته د کار زمينه چمتو کېږي او ٦٣٠ کورنۍ به ترې استفاده وکړي.

### پروژه کانال چپ و راست ولسوالی خان آباد ولایت کندز به ارزش ۳،۳ میلیون افغانی افتتاح شد

پروژه کانال چپ و راست ولسوالی خان آباد ولایت کندز به ارزش ۳،۳ میلیون افغانی با حضور داشت انجنیر رفیع الله مجتبی رئیس عمومی حوزه دریایی پنج آمو، یک تعداد مسئولین محلی و بزرگان قومی افتتاح شد.
قابل یادآوری است که این پروژه از طرف وزارت آب و انرژی تمویل می گردد که در مدت دو ماه کارهای آن تکمیل خواهد شد.
در این پروژه ۲۰۰۰ متر مکعب پاکاری کانال، ۵۰ پلیت کانکریتی، ۴۸۰ متر مکعب کانکریت PCCو ترمیم ۱۵ دروازه شامل می باشند.

### د پنج سيند د څنډو حفاظتي ګبيوني دکو د پروژې ساحه قراردادي‌شرکت ته وسپارل شوه

د تخار ولايت د ينګي قلعه ولسوالي په يتيم تپه کلي کې د پنج سيند د څنډو حفاظتي ګبيوني دکو د پروژې ساحه د دشت قلعه ښکتني پنج فرعي سينديزې حوزې رئيس انجنير عبدالواحد رجب، د اوبو او انرژي وزارت استازي او د ينګي قلعه ولسوال په شتون کې د هلمند جهاني بارک ساختماني شرکت ته وسپارل شوه.
ياده پروژه د ۱۹۱۰۲۷۹۷ افغانيو په ارزښت د اوبو او انرژي وزارت له لوري تمويليږي چې عملي چارې به يې په راتلونکو ورځو کې پيل شي.

## د اوبو او انرژي وزارت سرپرست وزیر د کابل له والي سره په لیدنه کې د کابل ښار د اوبو د مدیریت په هکله خبرې وکړې



د اوبو او انرژي وزارت سرپرست وزیر، محترم ملا عبداللطیف منصور د کابل ولایت له والي محترم شیخ مولوي محمد قاسم خالد سره د خپل کار په دفتر کې وکتل.

په یاده لیدنه کې دواړو لورو د څښاک اوبو د ستونزو د حل، د اوبو سرچینو د مدیریت او په کابل ښار کې د اوبو او انرژي د پراختیایي پروژو د تطبیق په هکله هر اړخیزې خبرې وکړې.

په ورته مهال، د کابل والي د یاد ولایت په شکردرې ولسوالي کې د شاه او عروس بند د پروژې د کار له بهیر څخه په ښو ټکو سره یادونه وکړه او د اوبو او انرژي له سرپرست وزیر سره یې ژمنه وکړه چې په کابل ولایت کې به د اوبو او انرژي د پراختیایي پروژو د تطبیق په برخه کې همکاري وکړي.

د اوبو او انرژي وزارت سرپرست وزیر د اوبو د مدیریت په برخه کې د پروژو د تطبیق ارزښت ته په اشارې سره، د کابل ولایت مقام د همکاري له څرګندولو څخه ستاینه وکړه او په لازیاتي همغږي باندې یې ټینګار وکړ.

## جلسه رهبری معینیت انرژی وزارت آب و انرژی در تالار جلسات این معینیت برگزار شد



این جلسه تحت ریاست محترم قاری محمد عبدالعزیز عزیز رئیس عمومی دفتر وزارت آب و انرژی با حضور داشت رؤسا، مشاورین و انجنیران تخنیکی این معینیت تدویر یافت.

در این جلسه روی موضوعات مختلف به ویژه در مورد بررسی مشکلات زون های انرژی، انتقال تاور تحقیقاتی ولایت سمنگان از ساحه حضرت سلطان به ساحه مناسب دیگر و بررسی راپور ابتدایی بند سروبی ۲ بحث و تبادل نظر صورت گرفت.

محترم قاری صاحب در اخیر جلسه بعد از بررسی های همه جانبه موضوعات، راهنمایی ها و سفارشات لازم را ارایه نموده و بر تسریع امور تاکید ورزید.

### شانزده (١٦) پروژه ساختمانی پلان شدهٔ سال ١٤٠٢ در ولایت کاپیسا بررسی گردید

شانزده (١٦) پروژه ساختمانی سال ١٤٠٢ که توسط سازمان خوراک و زراعت سازمان ملل متحد (UNFAO) در هماهنگی با حوزه فرعی دریایی کاپیسا سروی و دیزاین گردیده بود، با حضور مدیر عمومی دفتر ساحوی تگاب و نمایندگان هژده (١٨) شرکت ساختمانی در ولایت کاپیسا مورد بررسی قرار گرفت و قرار است که پس از بازدید این شرکت ها از ساحه پروژه های مذکور آفرهای خویش را به دفتر سازمان خوراک سازمان ملل متحد ارائه نمایند.

پروژه های متذکره شامل؛ کانال های ده بابی، نورالدین خیل، قل پرچو، بادام علی، ادیزایی، تولاد و صدیقی؛ کاریزهای شکرخیل و هیبت خیل و دیوارهای استنادی تحکیمات سواحل بهلول خیل و میره خیل مربوط محمود راقی مرکز ولایت کاپیسا و ولسوالی تگاب و سیلبر بوله غین واقع ولسوالی کوه بند می باشند.

### رئیس عمومی حوزه دریایی شمال با محاسن سفیدان مناطق ترکمنیه و افغانیه ولایت بلخ دیدار نمود

مولوی عبدالحکیم حاجي حکمت رئیس عمومی حوزه دریایی شمال با محاسن سفیدان مناطق ترکمنیه و افغانیه ولسوالی نهر شاهی ولایت بلخ به منظور حل و فصل حقابه مناطق مذکور دیدار نمود.

در این دیدار، رئیس عمومی حوزه دریایی شمال به محاسن سفیدان مناطق مذکور وعده هر نوع همکاری در روشنایی قوانین را داد و به منظور حل و فصل اختلاف مذکور یک کمیته کاری را ایجاد نمود.



CS CamScanner

## سرپرست وزارت آب و انرژی با نمایندگان گلبهار گروپ دیدار



محترم ملا عبداللطیف منصور سرپرست وزارت آب و انرژی در دفتر کار خویش با نمایندگان گلبهار گروپ دیدار نموده در مورد سرمایه گذاری روی ایجاد فابریکه تولید انرژی برق از ذغال سنگ بحث و تبادل نظر نمودند.
در این دیدار نمایندگان گلبهار گروپ علاقه مندی خویش را به سرمایه گذاری روی ایجاد فابریکه تولید برق از ذغال سنگ ابراز داشته خواستار همکاری مقام رهبری وزارت در این راستا شد.
سرپرست وزارت آب و انرژی از علاقه مندی گروپ متذکره اظهار قدردانی نموده از همکاری مقام رهبری و تیم تخنیکی وزارت به آنها اطمینان داد.

## د ګلبهار ګروپ له پانګوالو سره د ډېرو سکرو څخه د برېښنا د تولید په پروژو کې د پانګونې په هکله تخنیکي غونډه ترسره شوه



یاده غونډه د اوبو او انرژي وزارت د دفتر عمومي رئیس ښاغلي قاري محمد عبدالعزیز "عزیز" په مشري د انرژي څانګې د رئیسانو او د ګلبهار ګروپ د استازو په ګډون ترسره شوه.
په یاده غونډه کې د ډېرو سکرو له سرچینو څخه د برېښنا د تولید په پروژو کې د پانګونې په هکله بحث او د اندونو تبادله وشوه او د دواړو لورو ترمنځ اړین تخنیکي معلومات شریک شول.
د اوبو او انرژي وزارت د دفتر عمـــــومي رئیس د دواړو لورو د مسئولینو ترمنځ پر لا زیاتې همغږۍ او د چارو پر چټکتیا باندې ټینګار وکړ.
د یادونې وړ ده، چې دوې ورځې مخکې د ګلبهار ګروپ استازو، د اوبو او انرژي وزارت له سرپرست وزیر سره په لیدنه کې د ډېرو سکرو څخه د برېښنا د تولید په پروژو کې پانګونې ته لېوالتیا څرګنده کړه او له هغوی سره یې د وزارت د رهبري مقام او تخنیکي ټیم له لوري د همکارۍ ژمنه وکړه.

### په جوزجان ولایت کې د آقچې عمومي کانال د محافظوي دېوال د چارو له بهېر څخه څارنه وشوه

د جوزجان سینديزې فرعي حوزې تخنیکي ټیم د جوزجان ولایت د آقچې ولسوالي په کلته شاخ کلي کې د آقچې عمومي کانال د محافظوي دېوال د چارو له بهېر څخه څارنه وکړه.

د یاد محافظوي دېوال چارې د ۱۵۳,۵ متره په اوږدوالي سره ترسره شوې دي او په نږدې راتلونکي کې به ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.

### سروی پنج کانال در ولایت کنر انجام شد

تیم تخنیکی حوزه فرعی دریایی کنر براساس هدایت ملا دوست محمد حنفی رئیس حوزه فرعی دریایی مذکور، سروی تخنیکی، اقتصادی، اجتماعی و محیط زیستی کانال های عمومی محبوبه، سیور، شنگر، یژی درگی و شال در ولسوالی اسمار ولایت کنر را انجام دادند.

### د کندهار ولایت د لوی ویالې د پاک کاري چارو له بهېر څخه څارنه وشوه

د ارغنداب سینديزې فرعي حوزې رئیس ملا سید محمد شرافت او ورسره مل تخنیکي ټیم د کندهار ولایت د دامان ولسوالي اړوند د لویې ویالې د پاک کاري چارو له بهېر څخه څارنه وکړه.

یاده ویاله د سیلابونو له کبله لهٔ رسوباتو ډکه شوې وه چې د پاک کاري چارې یې په منظم ډول جریان لري.

## جلسه هماهنگی به منظور تهیه طرح جلوگیری از استفاده آب جوی ها و نهرهای بزرگ که بدون حقابه توسط واترپمپ ها صورت می گیرد، برگزار شد



این جلسه تحت رهبری محترم ملا عبداللطیف منصور سرپرست وزارت آب و انرژی با حضور محترم مولوی بازمحمد فیضان معین آبیاری و منابع طبیعی وزارت زراعت، آبیاری و مالداری، محترم مولوی انوری معاون معینیت ارشد امور امنیتی وزارت داخله و شماری از روٴسای این وزارت ها، به منظور تطبیق مصوبه شماره ۲۲ سال ۱۴۴۴ کابینه امارت اسلامی برگزار گردید.
در جریان جلسه، هماهنگی های لازم در مورد تهیه طرح یاد شده به عمل آمده همچنان اعضای جلسه نظرات خویش را در مورد چگونگی پیشبرُد بهتر امور ارائه نمودند.
باید یاد آور شویم؛ در مصوبه شماره ۲۲ کابینه امارت اسلامی در رابطه به موضوع متذکره چنین فیصله شده است که: استفاده از آب نهرها و جوی های بزرگ که جهت آبیاری مناطق مشخص با حقابه های تعیین شده احداث گردیده است، توسط سایر اشخاص به وسیله واترپمپ ها ممنوع می باشد، استفاده از آب دریاها و رودخانه های عمومی از این امر مستثنی است.
همچنان در این مصوبه ذکر شده است که هیئت تحت ریاست وزارت آب و انرژی با اشتراک وزارت زراعت، آبیاری و مالداری و وزارت امور داخله مکلف است تا طرح را به منظور تطبیق این فیصله به مدت یک‌ماه ترتیب نموده و غرض منظوری به مقام ریاست الوزرا ارائه نماید.

## د کابل سیندیزې حوزې عمومي رئیس د قرغي بند د ساتنې او مراقبت پروژې د چارو له بهیر څخه لیدنه وکړه



د کابل سیندیزې حوزې عمومي رئیس انجنیر حبیب الرحمن حقپال او ورسره مل تخنیکي ټیم د قرغي بند د ساتنې او مراقبت پروژې د چارو له بهیر څخه لیدنه وکړه او د یادې پروژې مسئولینو ته یې د چارو د غوره ترسره کولو په موخه اړینې سپارښتنې وکړې.

## په لغمان ولایت کې د علیشینګ د سیند پر مسیر باندې د روانو پروژو د چارو له بهیر څخه څارنه وشوه

د لغمان سیندیزې فرعي حوزې رئیس مولوي شیرجان راشدي او ورسره مل تخنیکي ټیم د علیشینګ د سیند پر مسیر باندې د روانو پروژو د چارو له بهیر څخه څارنه وکړه او د چارو د غوره ترسره کولو په موخه یې د پروژو مسئولینو ته د اړتیا وړ سپارښتنې وکړې.

## سروی مقدماتی جهت تثبیت موقعیت نصب سه پایه استاف گیج در ولایت تخار انجام شد

تیم تخنیکی حوزه فرعی دریایی پنج پائینی، سروی مقدماتی جهت تثبیت موقعیت نصب سه پایه استاف گیج در سیلبر های ولسوالی های رستاق، چاه آب و ینگی قلعه ولایت تخار انجام دادند.
قابل یادآوری است که استاف گیج های مذکور به منظور اندازه گیری آب سیلبر ها نصب خواهند شد.

## په کندهار ولایت کې د ظاهر شاهي کانال د پاکارۍ چارې پیل شوې

په کندهار ولایت کې د ظاهر شاهي کانال د پاکارۍ چارې د کندهار والي ښاغلي حاجي محمد یوسف وفا، د ارغنداب سیندیزې فرعي حوزې رئیس ښاغلي ملا سید محمد شرافت او د یاد ولایت د یو شمېر نورو سیمه ییزو مسؤلینو په شتون کې پیل شوې.
د یاد کانال د چارو په پرانیست غونډه کې د ارغنداب سیندیزې فرعي حوزې رئیس ښاغلي ملا سید محمد شرافت وویل چې ظاهر شاهي کانال ۷۹ کیلومتره اوږدوالی او ۴ متره ژوروالی لري، چې د تېرو سیلابونو له امله د رسوباتو، خاورو او جغلو څخه ډک شوی او پکې په سم ډول د اوبو د تېریدو وړتیا نشته او د پاکارۍ چارې یې د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ هبة‌الله حفظه‌الله د ځانګړې لارښوونې په اساس د «مشرتابه د بېړنیو خدماتو» په نوم د جوړې شوې کمېټې له لورې رسما پیل شوې.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمنِ الرَّحِيمِ


﴿ قُلْ أَرَأَيْتُمْ إِنْ أَصْبَحَ مَاؤُكُمْ غَوْرًا فَمَن يَأْتِيكُم بِمَاءٍ
مَّعِينٍ ﴾ ﴿٣٠﴾ سوره الملک

ژباړه: دوی ته ووایه: چې تاسې کله دې ته ځیر شوئ یاست، که چېرته ستاسې ( د څاګانو ) اوبه په ځمکه کې ښکته ننوځي، نو څوک ده، چې تاسو ته روانې اوبه راوباسي.

CS CamScanner

# اوبه او انرژي

Islamic Emirate of Afghanistan
Ministry of Energy and Water



# 21

د شورابک بند

CamScanner